د ایمان په تړاو د

# کوچنیانو پوښتنې



عبدالله بن حمد الرکف



# د ایمان په تړاو

# د کوچنیانو پوښتنې

لیکوال: شیخ عبدالله بن حمد الرکف

ژباړن: لقمان حکیم حکمت

ح جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة ، ١٤٤٣هـ

*فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر*

الركف ، عبدالله حمد عبدالعزيز

أسئلة الطفل الإيمانية باللغة البشتو. / عبدالله حمد عبدالعزيز الركف - ط١. - الرياض، ١٤٤٣هـ

١٥٦ ص ، ٢٣ X ١٦ سم

ردمك: ٧-٢٦-٨٣٥٢-٦٠٣-٩٧٨

١- الاسلام - اسئلة و اجوبة أ.العنوان

ديوي ٢١٠.٧٦ ١٤٤٣/٤٣٦٣

رقم الإيداع : ١٤٤٣/٤٣٦٣

ردمك: ٧-٢٦-٨٣٥٢-٦٠٣-٩٧٨

مركز أصول
OsoulCenter

This book has been conceived, prepared and designed by the Osoul Centre. All photos used in the book belong to the Osoul Centre. The Centre hereby permits all Sunni Muslims to reprint and publish the book in any method and format on condition that 1) acknowledgement of the Osoul Centre is clearly stated on all editions; and 2) no alteration or amendment of the text is introduced without reference to the Osoul Centre. In the case of reprinting this book, the Centre strongly recommends maintaining high quality.

+966 11 445 4900
+966 11 497 0126
P.O.BOX 29465 Riyadh 11457
www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ژباړن پیلیزه

الْحَمد لله رب الْعَالمين وَالصّلَاة وَالسّلَام على أشرف الْأَنْبِيَاء وَالْمُرْسلِينَ نَبينَا مُحَمّد صلى الله عَلَيْهِ وعَلى آله وَصَحبه أَجْمَعِينَ.

کوچنیانو ته اسلامي تربیه ورکول او په دیني بنه یې روزل د ګڼ شمېر لاملونو له کبله بیخي ډېره اړتیا لري، د تربیت په ساحه کې وخت تر بله خیل خیل اندونه په نظر راځي چې په انساني تربیه باندې ټینګار کوي، سره له دې چې دغه اندونه تر دې حده له ظروفو او شرائطو سره سمون هم خوري خو انسان ته د تربیت په مهال چیلنجونه یې ګوابښي او د عملي بڼې مخه یې نیسي او له بل پلوه دغه بشري اندونه دومره شمول هم نه لري چې له هر زمان او مکان سره سمون وخوري، دا چې د اسلامي تربیې بنسټ په الله پاک باندې ایمان دی او په خپل ټول ژوند ژواک کې یې د ډار له کبله ښارل او ورته خضوع او خشوع ده، نیک عمل او په حق باندې سپارښتنې دي، د عمل او صحیح معرفت پلټل او د خلکو ترمنځ یې نشر او اشاعت دی نو ځکه په مور او پلار او ټولو سرپرستانو باندې واجب دي چې اسلامي تربیه خپل واجب وګڼي، هېره دې نه وي چې دا ډول تربیه دیني امانت دی چې پیړۍ پیړۍ به یې له یو بل څخه په میراث کې وړي ترڅو کوچنیان یې سیورې کې وده وکړي او ژوند یې له مزو څخه ډک شي، د اسلامي تربیې پرته سعادت، راحت، ارام او اطمئنان نشته.

دا چې د شیخ عبدالله بن حمد الرکف کتاب ( أسئلة الأطفال الایمانیة ) په خپل باب کې بلها ځانګړتیاوې لرلې چې د کوچنیانو په نشو نما کې د قابل غور او اهمیت حامل دی او د پښتون چاپیریال د ودې او پرمختګ او د ثقافت په ډګر کې به ګټور تمام شي نو ځکه مو پښتو ته یې ژباړه اسلامي واجب وبولو، ترڅو هغه پوښتنې ځواب او ډب شوې لارې هوارې کړي چې د تربیت او پالنې په مهال خنډ او خار دي.

زمونږ دا زيار دې الله پاک په خپل دربار کې قبول کړي، او دا زيار دې الله پاک زمونږ د ټولنې ګرد کوچنيانو لپاره د دنيوي او اخروي سعادت سبب وګرځوي، له رب پروردګار څخه هيله مند يم چې د ډېرو سروهلو بروهلو کوچنيانو او بې علمه سرپرستانو ټپونو ته به دارو درمل شي.

الله پروردګار ذات په نيتونو باندې ډېر ښه عالم او په عملونو باندې د ثواب ورکونکی دی، الله دې د خلکو په زړونو کې ددې کتاب قبول کيږدي.

امين يا رب العلمين

لقمان حکيم حکمت

gmail.com@Hekmat0344

۸ / مارچ / ۲۰۲۰ م

۱٤ / رجب المرجب / ۱٤٤۱ هـ

# تقریظ

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد:

**د شیخ عبد الله بن حمد الرکف** کتاب (**أسئلة الأطفال الإيمانية**) چې محترم او ګران ورور **لقمان حکیم حکمت** پښتو ته د ( **د ایمان په تړاو د کوچنیانو پوښتنې**) په نوم ژباړلی دی، ما يې ځینې برخې ولوستلې ډېر ارزښتناک کتاب دی.

د ځانګړې پاملرنې په ترڅ کې یاد کتاب پهٔ دې ارزي چې چاپ او نشر شي او د بچو پهٔ دیني تربیه کې ترې ګټه واخیستل شي ، دا چې تربیت عندالله مسؤلیت دی هیله ده چې خطیبان او واعظان، مور او پلاراو جمله ښوونکي باید ورڅخه مستفید شي.

خو دا یوه ملاحظه باید نظر کې ونیول شي چې عکسونه او تصویران ترې حذف شي

الله دې مؤلف او ژباړن او د چاپ چارې سمبالونکو ته اجر ورکړي او الله دې ترې دا عمل قبول کړي

پهٔ درنښت

دکتور/ عبد العزیز العرفاني

په مسجد نبوي کې د پښتو ژبې استاذ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله صلى الله عليه وسلم، و بعد!

ستر ذات شتنمې او اولادونو د دنيا د ژوند ښکلا بللیه﴿ الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ﴾، [الكهف:٤٦] بیشکه، چې دواړه ستر نعمتونه دي او شکر اداء کول یې پر هر انسان لازم دی

اولاد یوازې نعمت نه بلکې مسئولیت هم دی، چې ساتنه، پالنه او روزنه یې له شرعي پلوه ستا مسئولیت ټاکل شوی، چې په غوره ډول یې باید سرته ورسوي، خپل ځان او خپله کورنۍ د دوزخ له اوره وساتي، الله تعال فرمايلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا﴾ [التحريم:٦]

بده بخته باید ووایم، چې زموږ په ټولنه کې د ماشوم ښوونې او روزنې ته هیڅ پاملرنه نه کېږي، په کورنۍ کې هم ورسره ډېر سطحي چلن کېږي، د ماشوم هر څه ورته ماشومانه ښکارې، بابېزه یې ګڼې، خبرې ته یې اهمیت نه ورکوي، پوښتنه یې نه ور جوابوي، که ماشوم جدې پوښتنه وکړي، لویان ډېر سطحي ورته ګوري، بلکې په ډېری کورنیو کې یې په پوښتنه رټې ...

**(د ایمان په تړاو د کوچنیانو پوښتنې کتاب)** ځینې برخې مې وکتلې، ډېره غوره کتاب دی، د غوره والي یو لامل یې دا دی، چې په ډېره اړینه موضوع لیکل شوی او په یاده موضوع کې مې هیڅ کتاب په پښتو ژبه کې نه دی تر سترګو شوی.

ستر ذات دي **لقمان حکیم حکمت** ته ستره بدله ورکړي، چې پښتو ژبه ته یې په ډېره اړینه موضوع د مشهور لیکوال **عبد الله بن حمد الركف** کتاب وژباړل او له مورنۍ ژبې سره یې خپله مینه زباد کړه.

په درنښت

رحمت الله اندړ

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د دیني چارو مشاور، کابل افغانستان

د **(ایمان په تړاو د ماشوم پوښتنې)** په نامه کتاب چې محترم استاذ لقمان حکیم حکمت ژباړلی دی، د مضمون او محتوی له پلوه او هم دا چې پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی، نهایت مهم کتاب دی، او د هرې مسلمانې کورنۍ لپاره یې لوستل اړین دي، ترڅو خپل ماشومان ددغه پوښتنو له ځوابونو سره اشنا کړو، او دا معلومات یې په ذهن کې راسخ شي چې دا کار به له یوې خوا ددغه ماشومانو عقیدوي راتلونکې محفوظ کړي، او له بلې خوا به یې د خپل دین د اساساتو په هکله مناسبه پانګه له ځان سره لرلې وي، په دې اساس هر مسلمان چې دې کتاب ته لاس رسی ولری باید د خپلو بچو د دیني پوهاوي په پار یې ولولي، او بیا د خپلو ماشومانوسره دا پوښتنې مطرح کړي، ترڅو د خپلو بچو دیني تربیت یې په سالمه توګه ترسره کړی وي، الله تعالی دې ددې کتاب لیکونکی او ژباړونکې دواړو ته ددې کار نیکې بدلې ورکړي، او هم دې ددوی دواړو لپاره صدقه جاریه وګرځوي،او بیا په ځانګړی ډول ژباړونکی چې د کتاب په ژباړه کې یې زیات زیار ګاللی دی، الله تعالی دې نور هم دداسې ګټورو کتابونو او رسالو د ژباړې توفیق ورکړي، ځکه پښتنه ټولنه دداسې معلوماتو تهیه کولو ته زیاته اړتیا لري، باید لیکوالان او نور اړونده خواوې یې په حال رحم وکړي، او خپل شرعی مسوولیت په دې هلکه ترسره کړي.

عبدالسلام (ایوبی)

د امام بخاري د پوهنتون تعلیمي مدیر

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي على رسوله الكريم، وبعد!

په اسلامي شریعت کې ماشوم زیات حقونه لري، چې ځینې یې: د نسب د ثبوت حق، د رضاع حق، له زېږون وروسته په غوږ کې اذان او اقامت کول، د مېراث حق ورکول، شرعي نوم کېښودل، ختنه کول، عقیقه کول، د حضانت حق، د نفقه حق، د ښوونې او روزنې حق او دې ته ورته نور...

تر ټولو اړین حق یې د ښوونې او روزنې حق دی، چې اسلامي شریعت پرې زیات ټینګار لري؛ د طفولیت په دور کې د ماشوم والدین او مربي باید په هر اړخیزه توګه د اولاد ښوونې او روزنې ته بشپړه پاملرنه وکړي او په ښوونه کې دې لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

لومړی توحیدي ښوونه، لکه په مُؤْمَن بِهِ شیانو باندې د ایمان درلودلو او هم د ټول هغو مسایلو، چې په اسلامي عقیده پورې تړاو لري اولادونو ته دې د طفولیت په دوره کې وروښوول شي.

دویم قرآني ښوونه، دریم اخلاقي او تربیتي مسایلو ښوونه، څلورم د دیني فرایضو ښوونه، یعنې د طفل پر مور او پلار دا فرض دي، چې اولادونو ته د طفولیت په اوږدو کې فرایض، عبادات او هم د ټولو شرعي، دیني او مذهبي احکامو ښوونه ورکړې. پنځم مسلکي او کسبي ښوونه، شپږم د ملي او بهرنیو ژبو، کمپیوټر او هم د نورو ګټورو علومو ښوونه او دې ته ورته نور...

د ماشومانو اړوند حقونو په لړ کې چې ښاغلي عبدالله بن حمد الرکف (أسئلة الأطفال الایمانیة ) ګټور کتاب د ایمان په تړاو د ماشومانو پوښتنې او نور ګټور معلومات ترتیب کړي دي، چې یاد کتاب ښاغلي لقمان حکیم حکمت ( د ایمان په تړاو د کوچنیانو پوښتنې ) ترعنوان لاندې په ساده او روانه پښتو ژبه ژباړلی دی.

یاد کتاب ما ولوست، د ایمان او اسلامي عقیدې په تړاو یې د وخت د غوښتنو مطابق ګټور او هر اړخیز معلومات راټول کړي دي، چې د ماشومانو په روزنه کې به زیات اغېزمن تمام شي.

ښاغلي لیکوال او ښاغلي ژباړن ته د دې لوی زیار زیات اجرونه او ثوابونه غواړم، قلمونه یې تل تاند او هڅاند اوسه او هم له ټولو والدینو په خورا درنښت هیله لرم، چې دا کتاب ولولئ او د اولادونو په تربیت کې ترې ګټه واخلئ!

په درنښت

پوهندوی حسام الدین رحیم زی

شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی استاد



# پیلیزه

ان الحمد لله رب العلمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء وأفضل المرسلين، نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

نړۍ ته د کوچني په راتللو سره د ماشومتوب په لومړنۍ مرحله کې يې جوړښت لوی اهميت لري، په دې بنسټيزه مرحله کې د ماشوم په ذهن کې د مفاهيمو کينول په بېلابېلو مرحلو کې د انسان د شخصيت په جوړښت کې قابل تعريف رول لري، مناسب ده چې په دې مرحله کې بايد د کوچني نفسي، ټولنيزې او ديني غوښتنې له مرحلې سره مناسبې وي، په کوچنيتوب کې ښه پالل به يې مرستندويه شي چې په مستقبل کې به د نن ورځې کوچني د مستقيم سلوک څښتن، کارمند او د توليد څښتن وي او د ژوند په ژورو کې به ښه دننه لاړ شي، څه چې اوري او ويني يې په همدغه باندې د نړۍ په تړاو کوچنی د خپل بنسټيز ژوند ډېره ړدي، له دې مرحلې وروسته يې پاتې ژوند د کوچنيتوب د مرحلې د تنفيذ مرحله وي، چې څه يې ليدلي وي له ظروفو سره سم يې تنفيذوي.

د کوچني لپاره په دې مرحله کې باور وړ معرفي مصادر مور او پلار دي، له دې کبله کوچنيان په هغو اخلاقو روزل کيږي چې کوم اخلاق يې مور او پلار لري، همدوی د خپلو بچيانو د تعليم مسؤليت لري، ځکه خو نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: [ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، فَالإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، وَالرَّجُلُ فِي أَهْلِه رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، وَالمَرْأَةُ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا رَاعِيَةٌ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا ](1).

ژباړه: تاسو کې هر څوک سرپرست دی او د سرپرستۍ اړوند به ترې پوښتنه کولای شي، امام – حاکم – سرپرست دی او د خپل رعيت پوښتنه به ورځخه کيږي، سړی د خپل کور سرپرست دی او د خپل رعيت څخه پوښتنه به ترې کېدلای شي، ښځه د خپل خاوند د کور سرپرسته ده او له دغه مسؤليت پوښتنه به ورځخه کېدلای شي.

دا تکليف په تربيه او تعليم کې په انسان باندې پوره اهتمام او اجتهاد واجبوي.

دا چې مونږ دداسې زمانې شاهدان یو چې شهوتونه او شبهات وریکې ډېرښت لري نو په پلارانو لازمه ده چې د خپلو کوچنیانو په تربیه کې له داسې پوره زیار څخه کار واخلي چې له صداقت او حرص څخه ډک وي، کله چې پلاران د خپلو بچو په ذهن کې د داسې عمل کشت و کر وکړي نو له مرګ وروسته به یې هم په ګټه راشي، په دې معنا ویلای شو چې نیک عمله ځوی له مرګ نه وروسته جاریه ثواب دی، څکه خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: [أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ ] (٢) .

ژباړه: او یا نیک عمله ځوی چې دعاګانې ورله غواړي.

ان چې الله پاک هم پلارانو ته د اولادونو په تړاو سپارښتنې کړې دي، الله پاک فرمایي: [يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ] (٣) .

ژباړه: ستاسو د اولادونو په پار درته الله پاک توصیه کوي.

معنا دا چې ای پلار او مور! بچیان له تاسو سره د الله پاک امانتونه دي په ښه پاللو یې درته الله پاک سپارښتنه کوي، ترڅو تاسو یې دیني او دنیوي مصلحتونه په نظر کې ونیسئ ، دین ورته زده کړئ او ادب ورته ورکړئ، د الله پاک په اطاعت یې امر کړئ او له مفاسدو څخه یې راونیسئ، په تقوا باندې ورته د دائمي ملازمت سبق ورکړئ، الله پاک فرمایي: [يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ] (٤) .

ژباړه: ای هغه کسانو چې ایمان مو راوړی دی، خپل ځانونه او بچیان مو له هغه اور څخه وساتئ چې خس او خاشاک یې خلک او کاڼي دي.

مور او پلار ته د بچو په تړاو دیني سپارښتنې شوي دي که یې دغه سپارښتنې پر ځای کړې نو ډېره ښه ده خو که ضائع یې کړې نو د وعید او سزا وړ به وګرځي، دا په دې دلالت کوي چې الله پاک په خپلو بندګانو باندې له مور او پلار څخه ډېر مهربانه دی، څکه یې مور او پلار ته ورله توصیه هم کړې ده که څه هم د نورو خلکو په نسبت مور او پلار په بچیانو ډېر مهربانه وي. (٥) .


په دې بنياد که کوچنی د کور دننه وپالل شي نو ښه به وشي، په دې سره کوچنی کولای شي چې له کور څخه بهر ماحول سره په لائقه توګه چال چلند وکړي خو که مور او پلار د کوچنیانو په سلیمه ایماني تربیه کې پاتې راشي نو ماشوم به له سپیڅلو او مقدسو اخلاقو او تعامل څخه لوڅ راستر شي [٦] ، تربیه یواځې د کوچني د تېروتنو تصحیح ته نه ویل کیږي، بلکې د اسلامي دین د تعلیماتو هغه تلقین ته ویل کیږي چې په نفس کې یې د تصوراتو د ترسیخ په خاطر بېلابیل وسائل په کار واچول شي لکه قدوه حسنه باندې هغه ته تربیه ورکول، په نصیحت او پند او قیصو ورته تربیه ورکول او داسې نور... [٧] ترڅو وکولای شو له کوچني څخه داسې شخصیت جوړ شي چې په ژوند او ټولنه کې کارمند او مستقیم الفطرت وي.

مونږ دا کتاب ( **د ایماني تربیې په تړاو** ) دوو فصلونو ته ویشلی دی، په بلها ډېرو قواعدو او اساسونو مشتمل دی چې د الله په اذن سره به له مور او پلار سره ښه مرستندویه ثابت شي، اما دوهم فصل یې بیا د ( **د ایمان په تړاو د کوچنیانو پوښتنو ته د عملي ځوابونو بېلګې** ) دي چې د زیاتو کوچنیانو ترمنځ مشهورې دي او په ځانګړې توګه بیا هغه پوښتنې چې د ایمان د ارکانو اړوند دي، په دې فصل کې مو توضیح کړي دي چې دې ډول پوښتنو سره باید څه ډول تعامل وکړی شي؟

د خیر د کارونو توفیق الله پاک ورکوي او سمې لارې ته هدایت هم هغه خپله کوي.

**عبدالله بن حمد الرکف**

# فهرست





د ايماني
تربيت اړوند... 16





په ايمانياتو باندې
د ماشوم پالل... 32






د ايماني
تربيې ارکان 56




د کوچنیانو له پوښتنو وړاندې تمهیدي کلمات... 78

96 د ایماني پوښتنو په تړاو د کوچنیانو پوښتنو ته د ځوابونو بیلګې...




# د ایماني تربیت اړوند...




# د انسانیت

د انسانیت د جوړښت په تقاضا تربیه بذات خود بشري اړتیا ده، د ژوند په ګردو چارو کې تربیه د ماشوم د ښه پاللو درست بنسټ دی، د تربیې پر بنسټ کولای شو د ماشوم ټولنیز، پو هنیز، نفسي او صحي او د ژوند اړوند نور اړخونو کې هغه ته وده ورکړو، وړاندې له دې چې د ایماني تربیې اړوند وګړیږو او ارزښت یې رابرسیره کړو، ښه به دا وبریښي چې لومړی د تربیې خپله معنا، له تربیت څخه موخې او ترڅنګ یې وپېژنو چې د تربیت ورکونکي له تربیې څخه هدف څه شی دی؟!



# د تربیې مفهوم



تربیه له غرض څخه ډکه هغه پرمختللې کړه وړه دي چې خپل قانون او قاعده يې مهاروي، موخه ورڅخه د توجیهاتو او لارښوونو، د زده کړې او تهذیب له لارې د ښو خویونو او خصلتونو لاس ته راوړل دي.

له تربیې څخه موخه د ماشوم فطرت پالل او خوندیتوب دی، د هغه وړتیا او مواهب رابرسیره کول او ورته وده ورکول دي، له دې پړاو وروسته بیا دغه مواهب او فطرت دواړه مناسب او لائق کمال او صلاح ته توجیه کول دي چې په انسان کې د ځمکې د ودانولو د وړتیا ښه مرستندويه وي. [٨]

څرګنده شوه چې تربیه هغه څه دي چې د ژوند په ټولو برخو کې قیادتونه زږوي. [٩]

# د ایماني تربیې ارزښت او اهمیت



ایمان د انساني وجود ستر حقیقت او د انسانیت خورا لویه قضیه ده، په دنیوي ژوند ژواک کې ایمان د بشریت لارې سره جلا کوي، الله پاک فرمايي: [فَمِنۡهُم مَّنۡ آمَنَ وَمِنۡهُم مَّن كَفَرَ ] [١٠]

ژباړه: له دوی څخه ځینو يې ایمان او نورو ځینو يې کفر وکړ.

په ایمان باندې د دوی تصرفات او کړه وړه بنا دي، ان چې ایمان په اخروي ژوند کې هم لوی توپیروي څېز دی[١١].

د انسان په ژوند کې له توپیرونکو مراحلو څخه بله د ماشومتوب مرحله ده، ځکه د ژوند په دې مرحله کې د ماشوم ذهنیت په عقائدو، په خویونو او عادتونو او په نورو مقاصدو پالل نه یواځې دا چې په بشپړه توګه به يې پریږدي بلکې تغیر ورکول ورته هم سخت بریښي، او په ځینو وختونو کې خو يې بیخي په ټول ژوند کې ورڅخه اثر او اغېز پاتې وي. [١٢]

له دې کبله په ماشومتوب کې ایماني تربیه له هغو تاسیسي مراحلو څخه شمېرل کیږي چې په دنیا کې پرې د انسان ډېره زندګي تېرېدلای شي.

په خپل اجمال کې تربیه پخپله د اهتمام نوم دی، له اهتمام پرته تربیه نه شي شته کېدلی، ګټوره به دا وي چې اهتمام د ایمانیاتو په کښت او کر باندې وشي، مونږ د داسې وخت شاهدان یو چې زیاتره شنونکي پکې د تربیې اړوند ایکې یواځې په صحي، عقلي او جسمي اړخونو اهتمام لري، خو ولې له ایماني او روحي اړخونو څخه یې بې غوره پاتې دي، له دې کبله د دوی موخې د دنیوي معیارونو په اساس دنیوي نجاح دی، خو ولې له هغې صلاح څخه ګونګ دي چې اخروي سعادت تضمینوي، ایکې یواځې همدغه ایماني نظریه ده چې مونږ پکې له دنیا پرستو څخه توپیروي. (١٣)

له دې کبله دې د نبوت په سپیڅلې مقدس تاریخ کې پر مونږ پټ او پناه نه وي چې ایماني تربیه یې د تربیت له ارکانو څخه رکن ګرځولی دی، له عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ویل یې : [ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، فَالإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، وَالرَّجُلُ فِي أَهْلِهِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالمَرْأَةُ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا رَاعِيَةٌ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا ] (١٤)

ژباړه: تاسو کې هر څوک سرپرست دی او د سرپرستۍ اړوند به ترې پوښتنه کولای شي، امام – حاکم – سرپرست دی او د خپل رعیت پوښتنه به ورڅخه کیږي، سړی د خپل کور سرپرست دی او د خپل رعیت څخه پوښتنه به ترې کېدلای شي، ښځه د خپل خاوند د کور سرپرسته ده او له دغه مسؤلیت پوښتنه به ورڅخه کېدلای شي.



دلته نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغه ستر مسؤلیت په ادا باندې خبر ورکړ چې زمونږ هر فرد يې پر غاړه لري، په داسې حال کې چې هرومرو به ورڅخه پوښتنه کېدلای شي چې دوی خپل رعیت ته څه ورکړي دي؟

په بل حدیث کې ورڅخه روایت دي [مَا مِنْ عَبْدٍ اسْتَرْعَاهُ اللَّهُ رَعِيَّةً، فَلَمْ يَحُطْهَا بِنَصِيحَةٍ، إِلَّا لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الجَنَّةِ ] (۱۵)

ژباړه: داسې څوک بیخي نشته چې الله پاک ورته د رعیت سرپرستي ورکړي او دا يې په خپل نصیحت او حفاظت کې وانخلي مګر دا چې د جنت بوي به هم ونه ګوري.

دلته په پوره صدق او امانت سره د نصیحت کولو اهمیت ته اشاره ده چې دا نصیحت به د منصوح ټولو اړخونو له نګاه نه خیر او فایده تضمینوي، په دې باب کې له عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې فرمايي: [أَدِّبِ ابْنَكَ، فَإِنَّكَ مَسْئُولٌ عَنْ وَلَدِكَ، مَاذَا أَدَّبْتَهُ؟ وَمَاذَا عَلَّمْتَهُ، وَإِنَّهُ مَسْئُولٌ عَنْ بِرِّكَ وَطَوَاعِيَتِهِ لَكَ] (۱۶)

ژباړه: ځوی ته دې ادب ورکړه، د ځوی اړوند به دې له تا څخه پوښتنه کیږي چې په کوم ادب دې پاللی دی؟ څه دې ور زده کړي دي؟ خو له هغه څخه به بیا ستا اړوند د احسان او فرمانبرداری پوښتنه هم کیږي.

دلته عمر رضي الله عنه په پوره تاکید سره څرګندوي چې د لومړي ځل لپاره مسؤلیت د مور او پلار اوږو ته ولیږي، په تعلیم او تربیه کې همدوی لومړني مصادر دي، داسې روایتونه هم شته چې له خیرات او صدقې څخه تربیه بهتري لري [لَأَنْ يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ ] (۱۷)

ژباړه: په یو صاع باندې له صدقې څخه به بهتره وي که څوک خپل ځوی ته ادب ورکړي.

همدا راز بل روایت څرګندوی چې بچو ته ادب ورکول له هر ډول بذل او سخا څخه بهتري لري. [مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدًا مِنْ نَحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ]

ژباړه: له ښه ادب او تربیې څخه به پلار ځوی ته په صدقه کې نور څه بهتر شی ورنه کړي.



دا او دې ته ورته نور نصوص په دې دلالت کوي چې په تعلیم او تربیه باندې ځانګړی خیال له هغو مهماتو او عظیمو شیانو څخه دي چې مور او پلار یې خپل اولاد ته ورکوي.


په نسبتي شکل به مخکې مونږ په مغلقه توګه بچو ته تربیه ورکوله، خو ولې اوسمهال ګردې نړۍ ته د تربیې په بابت مو د کور دروازو او کړکیو پلې له یو اړخ څخه تر بل پورې وازې دي.

طبیعي ده چې دا ډول تربیه ښه او بد دواړه اړخونه لري، دا هله چې له روان بهیر سره یې مونږ ځان په ناخبرۍ کې واچو، په داسې بهیر کې ناخبري هرومرو بدي په ښو باندې درنوي او زیاتوي یې، ځکه مونږ کولای شو چې له ځان څخه ارد ګرد تغیراتو او تقلباتو ته په پام لرلو سره چې څومره په تیزۍ روان دي، خپل ځانونه کاملاً متوجه کړو او د تربیت له زاویې څخه یې د کلکې څېړنې لاندې ونیسو او دې شیانو ته د مربّي ځانګړی پام د دې مرستندویه جوړېږي چې د کورني چال چلند له مخې د ماشومانو ذهنیتونه په اسلام او ایمانیت باندې وپالي، دا مونږ د ماشومانو لپاره د ځانګړو مدرسو ( ریاض الأطفال، روضة الأطفال ) له مخې هم کولای شو، خو که له دې څخه بې غوره پاتې شو نو نږدې ده له داسې خسارت او تاوانونو سره مخ اتې شو چې بېرته به جبیره نه شي. (۱۸)

خو ولې د تربوي ګټور عمل او مسلسل زغم له مخې به وکولای شو چې د الله په اذن سره ښې نتیجې ترلاسه کړو، په موقت او عارضي توجیهاتو باندې په تربیه کې بسیا کول کفایت نه کوي بلکې په تربوي امورو کې متابعه او توجیه باید استمرار ولري. (۱۹)



# ایماني تربیت
# اړتیا ده




د نن ورځې کوچنیان د نفسي او ثقافتي پرمختګونو په واسع جریان کې راستریږي، ارد ګرد اړخونه یې هم دومره جاذب او زړه راښکونکي دي چې په تیټ نظر کتل ورته ستره تېروتنه ده، د بشریت په تاریخ کې نن مونږ د خورا ارزښتناک مسؤلیت په ادا کې بوخت یو چې تربیه ده[٢٠] ، په ایماني تربیه باندې د ماشومانو پاللو اړتیا او ورته د اسلامي امت خورا درون احتیاج دلیل دا دی چې خلکو ته د ایمان تعلیم او ورته یې رادعوت کول – او په ځانګړې توګه بیا کوچنیان – د پیغمبرانو علیهم السلام دنده ده، او ورپسې د خلکو پېشه ده چې د پیغمبرانو وارثان دي.

له دلیلونو څخه یې یو د الله پاک دا قول دی چې د نوح علیه السلام خپل ځوی ته دعوت ورکړ او د بې لارو خلکو له مصاحبت څخه یې په کامله توګه وډارو ، الله پاک فرمایي: [یَابُنَيَّ ارْكَبْ مَعَنَا وَلَا تَكُنْ مَعَ الْكَافِرِينَ] [٢١]

ژباړه: ای ځویه! له مونږ سره کشتۍ کې راسور شه او د کافرانو مل مه جوړېږه.

همدا راز الله پاک د ابراهیم علیه السلام اړوند چې خپلو ټولو بچو ته یې سپارښتنه کوله فرمایي: [وَوَصَّى بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَابَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ] [٢٢]

ژباړه: ابراهیم او یعقوب علیهما السلام هم ورباندې خپلو بچو ته دا سپارښتنه وکړه چې ای



زامنو! الله پاک ستاسو لپاره اسلامي دین غوره کړی دی چې له اسلام پرته درته په بل څه مرګ رانه شي.

او الله پاک د لقمان علیه السلام اړوند فرمایي چې هغه خپل ځوی ته سپارښتنه کوله او له شرک څخه ډارول یې ورته لومړۍ سپارښتنه وه، هغه فرمایي: [یَابُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ] [٢٣]

ژباړه: ای ځویه! له الله سره برخه دار مه جوړه ، په یقین سره چې له هغه سره برخه دار جوړل خورا ستر ظلم او ستم دی.

همدا راز نبي کریم صلی الله علیه وسلم عبدالله بن عباس رضي الله عنه ته سپارښتنه کوي او ورته وایي: [یَا غُلَامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ، احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ] [٢٤]

ژباړه: ای ماشومه! زه درته يو څو کلمات ښايم، د الله په اوامرو او نواهيو کې د هغه خيال وساته الله پاک به دې په دنيا او اخرت کې ښه وپالي، او د الله پاک حقوق وپاله نو هر کله به دې الله پاک مخې ته وي، کله چې څه غواړې نو له ا لله پاک څخه يې وغواړه، او کله چې مرسته غواړې نو له الله پاک څخه يې وغواړه.

په دې ايتونو او حديث کې ايماني تربيت باندې تيزي ورکول دي. [٢٥]

نور هغه دليلونه چې د ايماني تربيې اړوند اړتيا روښانوي د ايماني تعليماتو پېژندل دي، دا په داسې حال کې چې د ايمانياتو پېژندل د ګردو تعليماتو بنسټ او سر دی، ماشومانو ته چې کله ايمان ورزده کړی شي او په زړه کې يې جرړې ښخې شي نو الله پاک ورته د نبوي منهج باندې د تعقيب توفيق ورکوي، له دې وروسته عبادتونه او ټول فروع يې تابع وي، د ايمانياتو په زده کړه باندې ځانګړی خيال د الله په اذن سره د توفيق او هدايت ستر لامل دی، ځکه ډېر داسې کړه وړه دي چې په الله پاک او د اخرت په ورځ باندې ايمان لرلو سره کلکه اړيکه لري، خو چې ايمان څومره په قوت کې وي هومره د منهياتو له لارو ګودرو څخه د انسان لاس رانيسي.

بل دليل چې د ايمانياتو د زده کړې اهميت رابرسيره کوي دا دی چې مونږ ځينې پلاران وينو چې د کوچنيتوب په دليل يې د ايمانياتو په زده کړې کامل بې غوره دي، خو چې کله يې همدغه بچيان راستر شي نو نه شي کولای چې ايمانيات ورزده کړي، خپلو بچو ته په کوچنيتوب کې که څوک د ايمانياتو له تعليم څخه بې غوره شي او بې مهاره يې پريږدي نو له بچو سره يې بې ساری ظلم او زياتی وکړ، او حقيقت دی چې د ډېرو بچو د بې لاريتوب او فساد سبب پلاران خپله وي چې د اسلامی دين د فرائضو او سنتو د تعليماتو په ورزده کړه کې يې پوره بې غوره وي، دا چې پلارانو يې په کوچنيتوب کې ضائع کړي وي او د ځان په ګټه يې نه وي راوستي نو په ستروالي کې يې بيا په هېڅ خير او ګټه را نشي. [٢٦]

بل لامل يې په ټولنيزو شبکو او خواله رسنيو کې د ماشومانونو لپاره ( انځوريز، غږيز او د لوست په بڼه) چمتو شوي پروګرامونه دي، چې د ماشومانو په نفسونو کې غير اسلامي تصورات او ناوړه مفاهيمو ته وده ورکوي، ضرور ده چې د دغو ناوړه حرکتونو مخه ايکې يواځې ايماني روزنې ډپ کړي، ځکه ايماني تربيه د مشروعو اسبابو باندې د عمل نوم دی، او د مشروعو اسبابو استعمال هغه ګټور عامل دی چې د کوچنيانو څخه د تخريب ټولو اسبابو په شنډولو کې کفايت کوي، دا هله چې د شر او فساد اسباب وجود نه لري که وجود ولري نو د مشروعو اسبابو استعمال يې ډېره ښه دارو درمل دي.

حالانکه دا د کوچنيانو بچو په خپلو پلارانو باندې مسلّم حق دی، په دنيا کې يې د سعادت سبب او په اخرت کې يې د الله په اذن سره د کاميابۍ سبب دی، او د اخرت په ورځ به د خلکو په اجرونو او ثوابونو کې د تفاضل يواځينی لامل همدغه وي. [٢٧]

په پای کې : ايماني تربيه د کوچنيانو په شخصيت کې پوره روحي استقرار، او نفسي امن راولي، ځکه ايماني تربيه د ژوند په اوږدو کې ستړې پوښتنې ځوابوي، او دغه ځوابونه شونې ده چې د الله پاک په کتاب او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په سنتونو ترلاسه شي، چې هم د سرچينې په اعتبار پاک، د منهج په اعتبار بيخي واضح او د اهدافو په اعتبار ربانيت لري، د دې سربيره د کوچنيانو اړتياو ته يې خاص پاملرنه کړې ده او تربيه يې هم واقعي ده. [٢٨] ، ترڅو د کوچني شخصيت او د هغه توازن ته رسيدګي ولري.



# د ایماني تربیې موخې:



له تربیې څخه عامه موخه په سمه توګه د باري تعالی عبادت کول دي، د دې موخې ترلاسه کولو لپاره اړینه ده چې نورې فرعي موخې شته کړی شي چې له جملې څخه یې ځینې دا دي:

**لومړی**: په سمه توګه د مسلماني ټولنې کوچنیان په دروسته عقیده پالل، ترڅو هغه ډول انسان ورڅخه جوړ شي چې د دلیلونو په رڼا کې په سمه توګه د الله پاک عبادت کوي .

**دوهم**: دا چې په اسلامي ټولنه کې هر فرد په نیکو خویونو سینګار وي، په اخلاقو کې به يې مقتدا هغه نبي کريم صلی الله علیه وسلم وي چې الله پاک يې په قرانکریم کې په خپله تزکیه کړې ده، الله پاک فرمايي: [وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ] (۲۹)

ژباړه: په يقين سره چې ته د عظیمو اخلاقو څښتن يې.

او د نبي کريم صلی الله علیه وسلم دې قول ته عملي بڼه ورکولو په خاطر چې هغه فرمايي: [إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ صَالِحَ الأَخْلَاقِ] (۳۰)

ژباړه: زه په دې خاطر راستول شوی یم چې نېک اخلاق بشپړ کړم.

**دريم**: د اسلامي ټولنې د افرادو اجتماعي شعور په سمه توګه پالل، ترڅو د فرد په ذهن کې راسخه شي چې خپلې ټولنې ته په انتماء او نسبت باندې کمی احساس نه کړي، له دې لارې به وکولی شي چې د خپلې ټولنې قضایاو ته ځانګړې پام ولري، د الله پاک دې قول ته عملي بڼه ورکولو سره له خپلو ورونو سره غښتلې اړیکه لري، الله پاک فرمايي: [إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ] (۳۱)

ژباړه: په يقين سره چې ټول مومنان سره خپل منځ کې ورونه دي.

او نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايي: [إِنَّ الْمُؤْمِنَ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا] (۳۲)

ژباړه: په يقين سره چې مومن د مومن لپاره د ابادۍ مثال لري چې يوه برخه يې بله مضبوطوي.

او فرمايي: [تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ، كَمَثَلِ الجَسَدِ، إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالحُمَّى] (۳۳)

ژباړه: ته به مومنان په خپل منځ کې رحمت کولو، خپل منځ کې محبت او مرسته کې داسې ووينې لکه يو جسد، که يې يو غړی درمنده وي نو ټول جسد ورسره په درد او تبه او شبګير کې راغونډ وي.

د مسلمان امت د بچو ترمنځ مینه او اړیکه په دې سره د تل لپاره غښتلې پاتې کېدلی شي.

**څلورم**: په نفسي او عاطفي اړخ کې د وګړو راټوکېدل چې په دې سره فرد د خپلې ټولنې لپاره خواخوږی، ګټور او د مستقیم فطرت څښتن وي، داسې راوټوکېږي چې د ځمکې په ودانۍ او ورځخه د ګټو په اخستلو کې خپل فعال دور لوبوي، د مشرۍ په مهال هر ډول سترو ستونزو ته د صبر تحمل او برداشت اوږه ورکوي، او دغه ډول خلک په رښتنې توګه په ځمکه کې د الله خلیفګان دي. (۳٤)

له دې ځای څخه مونږ کولای شو چې په صحیح مفهوم سره ایماني تربیې ته اړتیا درک کړو چې وروسته به بیا په استمراري توګه روحي قوې ته تقویه ورکوي، ذاتي قربانۍ ته وده ورکوي او د انسان په داخل کې اخلاقي جانب له بدو څخه ژغوري، د انسان په اقوالو او افعالو کې روحیت اچوي او د مطلوبو اعمالو په سر ته رسولو کې انسان ته اسانتیاوې وربښي، په دې خاطر چې د انسان نفسي او حرکتي اهداف وجود ته راشي. (۳۵)



# تربوي بنسټونه

**دلته څه شمېر داسې بنسټونه شته دی چې په تربوي بنيان کې پرې باور کېدلی شي خو د ټولو حصر په دوو کې امکان لري: لومړی: معرفي بنسټ، دوهم: عملي بنسټ.**


**معرفي بنسټ دوه ډولونه لري: علم او ايمان:**

لومړی ډول: **علم**: د سلوکياتو دوافعو او د فهم پوهې لپاره لويه کونجي ده، الله پاک فرمايي: [قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ] (٣٦)

ژباړه: ورته ووايه چې ايا هغه خلک چې پوهيږي او هغه چې نه پوهيږي دوی سره برابر دي؟ پند ايښې يواځې د عقل څښتنان اخلي.

او نبي کريم صلی الله عليه وسلم په دې ډېر حريص و چې خپلو ملګرو ته ګټور علم ورزده کړي، او هغوی يې پوهولي و چې له هغه ډول علم څخه د الله پورې پناه وغواړي چې ګټور نه وي، هغه به ورته ورزده کول چې دا دعا ووايي: [اللهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ ] (٣٧)

ژباړه: ای الله! له تا پورې له بې ګټې علم او هغه زړه نه پناه غواړم چې نه ډاريږي.



دوهم ډول: **ايمان**: دا ډول يې د ماشومانو په زړونو کې د ايمان د ارکانو په زده کړې سره په زړه کې قرار لري، د ايمان پېژندل هغه شمولي معنا لري چې د ژوند ژواک په ټولو اړخونو باندې ربنا اچوي، او نبي کريم صلی الله عليه وسلم په دې ډېر حريص و چې د خپل امت په زړونو کې د ايماني مستقيمې عقيدې کښت کړوکړي.

**عملي اساس يې بيا درې ډولو ته تقسيمېږي: عبوديت، تطبيق، اخلاق.**

لومړی ډول: **عبوديت**(۳۸): د ګټورې تربيې لپاره ضرور ده چې زړه کې صداقت وي، ځانګړي متميز ذاتي صفتونه شته شي چې د ماشومانو په پالنه او تربيه کې مثبت رول ولري، هغه به د ژوند ټولې برخې بيا په پوره اخلاص او له الله پاک سره په صادقانه اړيکو تېروي، سلوک به يې مستقيم او فکر به يې روښ وي، ان چې اميدونه او توقعات به يې هم په استقامت سينګار وي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم معاذ بن جبل رضي الله عنه ته د سپارښتنې په مهال وايي: معاذه! زه درسره مينه لرم، له دې کبله له هېڅ لمونځ وروسته دا کلمات پرې نه ږدې: [اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ] (۳۹)

ژباړه: ای الله! ستا په ذکر او ياد او ستا لپاره په ښايسته عبادت ته له ما سره مرسته او کومک وکړې.

په دې دعا کې يې ورته دا ورزده کړل چې عبادت کول د الله پاک له پلوه په انسان باندې الهي لورينه ده خو انساني اجتهاد نه دی، بلکې رباني توفيق دی، ترڅنګ يې ورته دا هم ورزده کړل چې د عبادت ادا د تل لپاره له الله پاک څخه استعانت غوښتلو ته اړتيا لري، نو د انسان په زړه کې دا تر يقين ورسيږي چې د الله پاک د عبادت پر مهال د مومن بنده واجب جوړيږي چې د عبادت کولو په مهال ورڅخه مرسته وغواړي او توکل پرې وکړي، ځکه چې د عبادتونو توفيق الله پاک ورکوي بل څوک نه.

دوهم ډول: **تطبيق،** له عمل پرته علم هېڅ دی، له دې کبله د اخرت په ورځ به د خلکو ترمنځ د تفاضل وسيله عمل وي، الله پاک فرمايي: [فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ * وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَه ]

ژباړه: که د ذرې په څېر څوک کار خير ولري نو وبه يې ويني، او که د ذرې په څېر څوک کار شر ولري نو وبه يې ويني.

دريم ډول: **اخلاق،** اسلامي منهج هم دا دی چې له انسان څخه د ښو اخلاقو ښښتن جوړ کړي، ان چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خپله ځان خلکو ته داسې وريپژنی چې رسالت يې په نېکو اخلاقو باندې له پاللو څخه څرخيږي، هغه فرمايي: [إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ صَالِحَ الأَخْلَاقِ] (۴۰)

ژباړه: زه په دې خاطر راستول شوی يم چې نېک اخلاق بشپړ کړم.

او هغه يې د نيکو اخلاقو په خپلولو راتيزوي، ورته فرمايي: [إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ القِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقًا ] (۴۱)

ژباړه: په تاسو کې ما ته يقيني ګران او د قيامت په ورځ د مجلس په اعتبار نږدې هغه څوک دی چې ښه اخلاق ولري.

په ډاګه شوه چې اخلاق د ايمان ظاهري تربيې ثمره او ګټه ده.



# تربیتي بېلګې



د تربیتي بېلګو بیانول هغه څه دي چې د اخلاقو په ثبات کې ښه رول لري، دلته غواړو چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه د تربیت هغه بېلګې ذکر کړو چې په ایماني تربیه یې کوچنیان څنګه او په څه ډول پالل. (٤٢)

١. له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی فرمايي: [كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَوِّذُ الحَسَنَ وَالحُسَيْنَ، وَيَقُولُ: " إِنَّ أَبَاكُمَا كَانَ يُعَوِّذُ بِهَا إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰه التَّامَّةِ، مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لاَمَّةٍ] (٤٣)

ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم به حسن او حسین دواړه په دې دعا دمول او ویل به یې: ستاسو پلار ابراهیم علیه السلام به په دې دعا باندې اسمعیل او اسحاق علیهما السلام هم دمول : د الله په پوره کلماتو سره په الله پورې پناه غواړم، له هر شیطان او زهریله حیواناتو او حشراتو څخه، او له هرې نظر بازې سترګې څخه.

٢. له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم

فرمايي: [مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ، أَوْ يُمَجِّسَانِهِ] (٤٤)

ژباړه: هېڅ ماشوم نشته مګر په اسلامي فطرت سره پېدا کيږي، مور او پلار يې ترې يهودي، يا نصراني او يا مجوسي جوړوي.

٣. له عمر بن أبي سلمه رضي الله عنه نه روايت دی فرمايي: [كُنْتُ غُلاَمًا فِي حَجْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا غُلاَمُ، سَمِّ اللَّهَ، وَكُلْ بِيَمِينِكَ، وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ ] (٤٥)



ژباړه: زه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په پالنه کې وم – زه پرکټې وم – په کاسه کې به مې لاس هر خوا ته تلو راتلو، رسول الله صلی الله عليه وسلم راته وويل: ماشومه! بسم الله ووايه، په ښی لاس دې خوراک کوه، او له هغه ځايه خوراک کوه چې تا ته نزدې وي.

٤. له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې زه له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يوه ورځ وروسته روان وم، راته يې وويل: [ يَا غُلاَمُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ، احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ، وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوْ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ لَكَ ] (٤٦)

ژباړه: ای هلکه! زه درته ځيني کلمات درښايم – عمل پرې وکړه – د الله لحاظ او خيال وکړه – اوامر يې ومنه او له نواهيو څخه يې ځان وساته – نو الله پاک به ستا لحاظ وکړي – له مکروهاتو او ستونزو ستړيو څخه به دې وساتي – او چې کله هم مرسته غواړې نه له الله څخه يې وغواړه، په دې يقيني شه چې که ټول امت دې په ګټه او فايده راغونډ شي خو چې الله پاک درته نه وي ليکلي هېڅ ګټه به درته ونه شي رسولای.

**٥.** له حسن بن علي رضي الله عنه نه روایت دی چې ما ته په وترو کې د قنوت کلمات نبي کریم صلی الله علیه سلم داسې رازده کړي دي: [اللَّهُمَّ عَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَاهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، إِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ سُبْحَانَكَ رَبَّنَا تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ] (٤٧)

ژباړه:یا الله د هغه کسانو سره چې تا ورته هدایت کړی دی ماته هم هدایت وکړه، او د هغه کسانو په جمله کې چې تا ورته عافیت ورکړی ماته هم عافیت راکړې، او د هغو کسانو په جمله کې چې تا یې ساتنه کړې ده، زما ساتنه او حفاظت هم وکړه، او په هغه څه کې چې تا ماته راکړي دي برکت واچوه، او څه چې تا فیصله کړې ده د هغه د شر نه مي وساته، ځکه همدا ته فیصله کوونکی یې، او ستا د حکم څوک دفع کوونکی نشته، په ربښتیا سره چې ته له چا سره دوستي وکړې، هغه به خوار نشي، او له چا سره چې دښمني وکړې، هغه به عزتمند نشي، ته د برکت والا ذات یې، او ته د لویي څښتن یې ای زمونږه ربه.

**٦.** له انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دي چې ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: [يَا بُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُونُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ] (٤٨)

ژباړه: ځویه! کله چې هم خپل کور ته ننوځې نو د کور په خلکو دې سلام وکړه، دغه سلامي کلمات به ستا او ستا د کورنۍ لپاره خیر او برکت وي.

**٧.** له جندب بجلی رضي الله عنه نه روایت دی فرمایي: [كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِتْيَانٌ حَزَاوِرَةٌ، «فَتَعَلَّمْنَا الْإِيمَانَ قَبْلَ أَنْ نَتَعَلَّمَ الْقُرْآنَ، ثُمَّ تَعَلَّمْنَا الْقُرْآنَ فَازْدَدْنَا بِهِ إِيمَانًا] (٤٩)

ژباړه: مونږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کې قوی زلموټي وو، دقران کریم له زده کړې څخه مو مخکې ایمان زده کړ، بیا مو قران زده کړ نو ایمان مو پرې ډېر کړ.

**٨.** د انس بن مالک مور أم سلیم رمیصاء رضي الله عنها چې کله اسلام راوړ نو دغه مهال انس رضي الله عنه د غیرې ماشوم و چې شیدې به خوړې، مور به یې انس رضي الله عنه ته دغه مهال په شهادتینو تلقین ورکو، ورته به یې ویل: ووایه: لا اله الا الله، أشهد أن محمدا رسول الله، نو انس رضي الله عنه به دغه کلمات ورسره ویل. (٥٠)

**٩.** ابراهیم تیمي رحمه الله وایي: سلفو صالحینو به د خپلو ماشومانو خبرې په ( لا اله الا الله ) باندې ماتولې، اووه ځله به یې ورته تهلیل ووایه نو هغوی به دا کلمه وویله. (٥١)



# په ایمانیاتو باندې
## د ماشوم پالل...





# د مضمون

**د مضمون له نګاه نه د ماشوم لپاره ایماني تربیه خورا نهایت زیاته مهمه ده،** ځکه په دې سره د ماشوم د ښو خویونو او عادتونو بنسټ کېښودل کيږي او فکر او زړه ته يې صحیحه او درسته عقیده په کامل قوت سره ورښکته کېږي، بلکې د ژوند په ټولو برخو او نیکو اخلاقو ته يې مزیده توجیه او لارښونه هم ده (٥٢)، په دې مرحله کې ماشوم ټولې نړۍ ته خپلې موخې ورښايي، نو له کبله يې خپل اخلاق او برخورد او سلوک اصلاح کړي، چې څومره يې هدف متحقق وي هومره په دنیا کې سعید او نېک بخته وي، او په اخرت ورته د خپل سعادت په اندازه سرفرازي ورکړل شي، دومره ده چې د ماشوم په دې عمر کې دا دنده د مور او پلار ده، ځکه خو يې قرانکریم شان او مرتبه پورته کړې ده، الله پاک فرمایي: [يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ] (٥٣)

ژباړه: ستاسو د اولادونو په پار درته الله پاک ځانګړې سپارښتنه کوي.

بلکې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورباندې بيخي ډېر صراحت کړی دی، هغه فرمایي: [مَا مِنْ مَوْلُود إِلَّا يُولَدُ عَلَى الفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ، أَوْ يُمَجِّسَانِهِ ] (٥٤)

ژباړه: هیڅ ماشوم نشته مګر په د حق د قبلولو قابلیت سره پیدا کیږي، مور او پلار يې ترې یهودي، یا نصراني او یا مجوسي جوړوي.

**یاد حدیث په یو څو امورو باندې دلالت کوي:**

1. **په انسان کې ایمان فطري دی، ځوک چې له ایمان څخه ستنیږي عوارض یې بشر په خپله دی.**
2. **د ماشوم په تربیه او پاللو کې حدیث مبارک د مور او پلار مسؤلیت او لوی دور لوبولو ته اشاره کوي.**
3. **حدیث مبارک د ټولنې هغه اغیز ته هم اشاره کړې ده چې د ماشوم په تربیه کې لوبوي.** (٥٥)

دا هم د الله پاک لورینه ده چې له دلیل او برهان پرته یې د ماشوم د پاللو په لومړي پړاو کې د هغه زړه او سینه خلاصه کړې ده (٥٦)، د دې حدیث په رڼا کې مور او پلار د ځوي په خوندیتوب کې باید خپل فعال رول ولوبوي او به مذکور فطرت باندې خاص ترکیز وکړي، او په هغه دین باندې د خپلو بچو پالنه وکړي چې د قراني ایتونو او صحیحو نبوي حدیثونو څخه استخراج شوی دی، مور او پلار هېڅکله باید په هغو عنعناتو او تقلیدونو بسیا ونه کړي چې له ټولنې څخه ترویجیږي، تقلیدي اسلام هېڅکله هم د چا لپاره په دې عصر کې د انحراف مخه نه ډب کوي، او نه هم د شخصیت کمزورتیا او د هویت ویلي کېدل خوندي کولی شي.

د کوچني ماشوم پاک زړه له هر ډول نقش او تصویر څخه پاک وي له دې کبله کېدای شي چې هر ډول نقش او تصویر ته ځای ورکړي، که د ماشوم نفس د خیر په کارونو باندې روږدی شي او په علم کې یې راشي په دنیا او اخرت کې به د سعادت څښتن شي، مور او پلار او د کار خیر هر معلم او ښوونکی به ورسره په ثواب کې ګډونوال وي، خو که د ماشوم نفس د شر او شرارت په کارونو باندې روږدی شي او د بهائمو او چارپایانو په څېر لا وباله پرېښودل شي نو د شقاوت او هلاکت ښکار به شي، ګناه او وبال به یې خپل سرپرست او نګران ته هم ورسیږي (٥٧)، ځکه ښه ډول ارزول په کوچنیتوب کې کیږي، خو که کوچنی لا وباله او بې مهار پرېښودل شي او شرارت یې طبیعت جوړ شي نو کار خیر ته راستنول به یې ډېر ګران وي (٥٨).

د غښتلي ایمان څښتن او اسلامي تعلیماتو ته ژمنې کورنۍ کې چې د کوم کوچني نشو نما وشي او په هر څه کې مور او پلار تقلید کړي، د مور او پلار د نظر له مخې خپل ځانګړي مفاهیم تصحیح کړي، ګورو چې داسې خلک هم شته چې په پوره باور او کلک عزم باندې شرعي مفاهیم مقدم بولي چې دا په ماشومانو کې بعینه د مور او پلار دیني جذبه راولي، خو که د کوم ماشوم مور او پلار شرعي تعلیماتو ته ژمن نه وي، نو ډېره به ګرانه وي چې په مستقبل کې دین راجذب کړی شي، ځکه چې په کوچني توب کې یې د دین هېڅ اثر نه وي لیدلی نو دیني افکار او اتجاهات یې په شخصیت کې ځای هم نه نیسي. (٥٩)





# په کوچنیانو کې
# د دیني اړخ نشو نما

د کوچنیانو په نفسیاتو کې دین د الله پاک د وجود له فکري څخه پېل اخلي، بیا یې ترڅنګ نور اندونه راڅرګندیږي، د پیدا کېدو، د اخرت او ملائکو او شیطانانو فکر، د کوچنیتوب د نښانو دیني نشو نما دا مرحله څلور ځانګړني لري:

أ **واقعي ځانګړنه**: چې ماشوم دیني مفاهیم په خپلو محسوسو واقعیتونه کې راتاو کړي، څومره چې کوچنی وده کوي هومره حقیقت پېژني او د دیني مفاهیمو په ادراک کې مخکې ځي او د مراهقت په مرحله کې یې خپل نصاب وګرځوي.

ب **شکلي ځانګړنه**: دا هله چې کوچنی په خپلو عبادتونو او دعاګانو کې خپل مشران تقلید کړي، له دې پرته چې کوچنی دې د خپلو عبادتونو او اذکارو په معنا او روحي ستروالي وپوهیږي، له مربي سره خو بیخي لائق دي چې د ماشومانو له دې مرحلې څخه ګټه واخلي او د اسلام په ارکانو، په اسلامي اخلاقو او د ایمان په ارکانو او ثمراتو یې وپوهوي.

ج **ګټوره ځانګړنه**: چې کوچنی د خپلو عبادتونو په ادا سره د خپل مور او پلار او د استاذانو خوشحالي درک کړي، نو دا مهال ماشومان د خپل عبادت په ادا سره د دوی خوشحالول غواړي، کوچنی دا مهال خپل عبادت په دې خاطر هم کوي چې خپلې ګټې تر لاسه کړي او یا د هغه عقوبت مخنیوی وکړي چې د کسالت او لا وبالیت په مهال ورته متوجه کیږي.

**د** **تعصبي ځانګړنه**: په دې ځانګړنې سره کوچنی د خپل دین لپاره د ولاء تر کچه رسيدلی خپل فطرتي تعصب کوي، د سترې درجې کار يې د دين او الله پاک لپاره تعصب دی. (٦٠)

له تېرې څېړنې څخه په استنباط کولای شو چې ایماني تربیه باندې د ترکیز اهمیت درک کړو، په عمومي توګه د ټولو کوچنیانو او په ځانګړې توګه په دې دور کې چې فتنې ورپکې په ډېرښت دي او د ملهیاتو او په ناوړه امورو باندې د بوختیا اسباب او اسالیب بلها تنوع لري ، باید مور او پلار او ګرد پالونکي زيار اوباسي چې د کوچنیانو په ذهن کې ایماني کښت او کر وکړي او ایماني امور ورته اسان معرفي کړي.

په ایماني تربیه باندې د ماشوم پاللو په مهال باید مور او پلار او ښوونکي لاندې امورو ته متوجه وي:

لومړی: د کوچني په نفس کې د فطرت غښتلتیا، ترڅو کوچني ته د توحید د کلمې په تعلیم او زده کړه کې رول ولري.

دوهم: د ایمان د شپږو ارکانو په ورزده کړې سره د ماشوم په نفس کې ایمان ته وده ورکول چې بنسټ به يې له رب پروردګار سره مینه او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره محبت او قراني تعلیمات وي(٦١).

د والدينو په نفسونو کې ديني فطرت د خپلو بچو د تربيې په تړاو ستر مرستندويه دی، فطرت د تدين باعث په ډاګه کوي، او تدين هم د نورو طبيعي غرائزو په څېر غريزه ده چې تبديل او تغيير نه قبلوي، بلکې توجيه او نشو نما قبلوي، شوني ده چې د تدين غريزه په بيلابېلو هغو ځايونو کې استعمال شي چې له کبله تدين نه دی شته شوی، خو ولې ګورو چې اسلام بيا فطرت ته له هغه اړخه توجيهات متوجه کوي چې له کبله يې تدين شته شوی دی. (٦٢)

یو له هغو مهمو امورو څخه چې د ماشوم نشو نما پرې اړینه ده د ایمان د شپږو ارکانو زده کړه ده چې مهم يې په الله پاک باندې ایمان دی، په الله پاک باندې ایمان او ورسره محبت له کبله د ایمان پاتې ارکان خپله شته کيږي، له دې کبله الله پاک خپل محبت، هغه ته خضوع او خشوع د ایمان لپاره موکد قانون ګرځولی دی، د دې معنا دا ده چې له الله پاک سره مینه او محبت او له دښمنانو سره يې دښمني د هغه د اطاعت له لوازمو څخه دي، او الله پاک په دنیا کې واجب کړې دي چې باید په ټولو ديني محبتونو باید له الله سره مینه او پورته وي، الله پاک فرمايي: [قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ] (٦٣)

ژباړه: (ای پېغمبره!) (ته دوی ته) ووايه: که چېرې وي ستاسو پلرونه او ستاسو زامن او ستاسو ورونه او ستاسو ښځې او ستاسو قبیله او هغه مالونه چې تاسو هغه ګټلي دي او هغه تجارت چې تاسو د هغه د بنديدو وېره کوئ او هغه استوګنې چې تاسو هغه خوښوئ، تاسو ته ډېر محبوب دي

له الله او د هغه له رسول او د هغه په لاره کې له جهاد کولو نه، نو بيا انتظار کوئ، تر هغه پورې چې الله خپل حکم راولي او الله فاسقو خلقو ته هدايت نه کوي.

او الله پاک د خپلو بندګانو لومړی صفت چې هغه پرې ورباندې خوشحاله وي دا دی چې دوی له الله سره مينه لري، هغه فرمايي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ] (٦٤)

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! په تاسو کې چې څوك له خپل دين نه مرتد شو، نو ژر ده چې الله به داسې خلق راولي چې هغه (الله) به له دوی سره مينه کوي او دوی به له هغه (الله) سره مينه کوي، په مومنانو به ډېر نرمي کوونکي وي او په کافرانو باندې به ډېر سخت وي، د الله په لار کې به جهاد کوي او د هېڅ ملامت کوونکي له ملامتيا نه به نه وېرېږي، دا د الله فضل دی، چا ته چې وغواړي هغه ته يې ورکوي او الله ډېر د فراخۍ والا، ښه پوه دی.

او الله پاک توضيح کړې دي چې خالص توحيد هله شته کيږي چې د الله پاک لپاره محبت مطلق باندې د توحيد عقيده ونه لري، الله پاک فرمايي: [وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ] (٦٥)

ژباړه: او په خلقو کې ځينې هغه څوك دي چه له الله نه غير نور شريکان نيسي، له هغوی سره مينه کوي له الله سره د مينې په شان، او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی؛ له الله سره په مينه کې ډېر سخت (او کلك) دي، او که چېرې هغه کسان چې ظلم يې کړی دی؛ دا ووينې، کله چې دوی عذاب ويني، چې يقينًا قوت ټول خاص د الله لپاره دی او دا چې يقينًا الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی.

خو د کوم عبادت لپاره چې الله پاک مونږ پيدا کړي يو نو د محبت لويه مرتبه ده، او د الله دتوحيد بنسټ له الله پاک سره مينه او محبت کول دی او همدا د الله پاک د الوهيت اصل او د عبادت حقيقت دی، تر هغه د انسان توحيد تر کمال نه رسيږي ترڅو له الله پاک سره کامله مينه ونه لري چې په ټولو مينو او محبتونو تفوق لري، پرېکړې به په همدغه مينه او محبت باندې پالل کيږي او د انسان ټول محبتونه به د الله پاک د محبت تابع وي او د انسان سعادت او فلاح هم د همدې پورې تړل شوی دی. (٦٦)

دغسې محبت چې بنسټ يې په الله باندې کامل ايمان وي د کوچنيانو د سلوکو د استقامت لپاره او په اسلام باندې د سرښندنې او د الله پاک او د هغه درسول د اطاعت ستره وسيله ده، که د چا په زړه کې د الله مينه ځای پر ځای شي نو عقيده او عبادت او اخلاق به يې دروست شي، که په ځينو جزئي مسائلو کې څه هم دغه ډول سړی انحراف ولري او يا پرې غفلت او نسيان طارئ شي خو په ډډ کې يې له الله سره مينه بېرته ديني استقامت ته راستنوي (٦٧)، ځکه مينه او محبت يواځې دا نه چې خارجي دوافع هم لري بلکې داخلي دوافع لري.

اسلامي عقیده چې د کومې موخې نشر او اشاعت کوي بیخي د انسان د فطرت او طبیعت سره سمون خوري، له سلیم عقل سره موافق خو ورسره هېڅ ډول تناقض نه لري (٦٨)، دا ډول اسلامي عقیده دومره ځانګړنې او امتیازات لري چې بله عقیده یې نه لري، ایکې یواځې اسلامي دین دی چې فکري، عقیدوي، اخلاقي او تشریعي نظم او ضبط لري، له دې نګاه څخه چې اسلامي دین فکري او عقیدوي نظام او ضوابط لري نو د نړۍ لپاره یې هومره شامل تفسیر کړی دی چې د نړۍ پایله به څه وي؟ په داخل کې یې حقائق څه شی دي؟ له دې وروسته به بیا څه وي؟ ژوند څنګه پیل اخلي؟ له ژوند څخه موخه او هدف څه شی دی چې انسان یې له کبله شته شوی دی؟ دا ټول هغه څه دي چې د انسان عقلي پوښتنې ځوابوي، تر هغه انسان نه شي هوسا کېدای ترڅو خپلو پوښتنو ته شافي او کافي ځوابونه ونه لري، ورنه خپل ټول ژوند به په نا ارامیو، اضطراب او کشمکش کې تیروي، ځکه چې د ژوند په تړاو هېڅ قابل غور څه نه لري. (٦٩)





# د ایماني تربیې ګټې او فایدې

**د ایمانی تربیې ورکونکی مربي او معلم ګڼ شمېر ثمرات ترلاسه کوي چې ځنې یې دا دي:**

1 **لومړی**: د خیر او ښېګړې په کارونو مسارعت کول، دا ډول مربي د تل لپاره زیا اوباسي چې الله پاک ته د قربت او رضا کارونه کوم کوم دي چې ویې کړي.

2 **دوهم**: ایماني تربیه په انسان کې داخلي تدبیر تقویه کوي، ژوندی ایمان دې ته ویل کیږي چې د انسان په سلوکو کې مثبت رول ولري.

3 **دریم**: په دنیا کې زهد، په داسې حالت کې یې زړه بیخي له دنیا سره هېڅ اړیکه نه لري او نه یې دنیا د تعامل او اهتمام موخه وي.


4 **څلورم**: الهي ملاتړ، په داسې وختونو کې الله پاک د خپل مومن بنده ټولې چارې پخپله په هغه توګه اداره کوي چې د بنده مصلحت او ګټه او د دنیا او اخرت سعادت یې وریکې وي.

5 **پنځم**: الله پاک ته رغبت، څومره چې هم د انسان ایمان ډېرښت کوي هومره یې په الله پاک باندې باور ډېریږي، هغه ته یې رغبت او له مخلوق څخه یې انصراف ډېر وي.

6 **شپږم**: د افرادو ترمنځ ستړې ستونزې او د سلبیاتو کمښت، څومره چې زړونه په ایمان باندې ودان وي هومره پرې د هواپرستۍ اغېز سست وي، د انسان اراده دومره پیاوړې شي چې د هر کار خیر په کولو باندې انسان مجبورووي.

7 **اووم**: په خلکو کې د مثبت اړخ تقویه، د غښتلي ایمان څښتن د تل لپاره د خپل ځان او بل په اصلاح بوخت وي.

8 **اتم**: د ډاډ او اطمئنان احساس، څومره چې د چا په زړه کې ایماني باور غښتلی وي هومره ترې د ویر ډار ثقافت کډه کیږي او خلک هم ورڅخه ډار لري. (۷۰)



# د ایماني تربیې اړوند

مور او پلار باید بچو ته هغه څه ورزده کړي چې ایماني قوه یې غښتلي کوي، د هغوی سلوک او اخلاق ارزیابي کوي او د محمد صلی الله علیه وسلم امت ته په انتساب ویاړ کوي، په دې معنا کې لاندني امور راځي:



۱. د ایمان د شپږ واړه ارکانو زده کړه، اجمالي ایمان داسلامي شریعت شمول چې له فطرت او انساني طبیعت سره سمون خوري، ترڅنګ یې ځان د شکلي تلقین څخه د ځان ساتلو خیال ساتل چې له انسان څخه د ایمان روح سلبوي، خو دې ته باید پام ولرل شي چې یاد عملیات باید په داسې حالت ترسره شي چې زړه راوپښوي او عقل ته حرکت ورکړي او د انسان سلوک ورسره پاک صفا شي.

۲. له افراط او تفریط پرته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم، د هغه له کورنۍ او بي بیانو، او د ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعین سره په مینه او محبت باندې د بچو پالل.

۳. د اسلامي دین د شعائرو او نښو نښانو په تعظیم باندې د بچو پالل، او په دیني شعائرو باندې یې له ملنډو او رشخند څخه ډارول. (۷۱)

۴. کوچنیان په دې پوهول چې ایمان له نیکو اعمالو انجامولو پرته نه بشپړیږي، ایمان د نیکو عملونو په کولو زیاتیږي او د بدو عملونو په کولو کمیږي، ایماني تربیه تر هغه ضروري ده ترڅو د کوچني په اخلاقو او سلوکو او عبادت کې خپلې میوې ورکړي. (۷۲)

۵. د کوچنیانو په نفسونو کې د اخرت په ورځ باندې د کلک ایمان لرلو عقیده، چې په دغه ورځ به انسان ته د هغو عملونو بدله ورکړل کیږي چې دنیا کې پرې بوخت و، که څوک محسن وي نو بدله یې جنت او که بد کار وي نو بدله یې اور دی.

٦. کوچنیان د الله پاک په مراقبه پوهه ول، چې په هر حالت کې یې هغهویني او ګوري، هغه یې اقوال اوري او پرې پوهیږي، او د ژوند هیڅ حالت یې پر هغه پټ او پناه نه دی.

٧. کوچنیان پوهول چې دیني مسیر یې حق او حقیقت دی، ترڅو دا شعور یې پرې باعث شي چې اسلامي دین ته انتساب کې دځان عزت او احترام ووینې او دین ته په هر حالت کې ژمن وي. (٧٣)



# د کوچنیانو په زړونو کې د ایمان د کښت او کر اسلوبونه

**کولای شو چې دا ډول اسلوبونه دوو ډولونو ته تقسیم کړو، یو ډول یې د کوچني له تمییز(۷٤) څخه وړاندې او بل ډول یې ورڅخه وروسته.**

**د هغو امورو له جملې څخه چې د تمییز له مودې نه وړاندې د کوچني په زړه کې ایمان ته پیاوړتیا وربښي دا امور دي:**

۱. په چاپیریال کې یې د هغو نومونو په مغز پوهول چې دا یې اوري لکه عبدالله، عبدالرحمن، عبدالکریم، او په اجمالي توګه یې د دې نومونو په معناګانو پوهول، د اذان په اوریدو ورته د اهتمام درس ورکول، ورځني اذکار ورته یادول او په هغې باندې ورته د خیال ساتلو درس ورکول (۷۵)، د الله پاک لورینې ورته یادول او په ځانګړې توګه د خوراک او څښاک په مهال، هغوی ته د خوراک په مهال بسم الله ورزده کول او په اخر کې یې په الحمدلله ویلو باندې روزل.

۲. د قرانکریم ځینې سورتونه ورته یادول، او کوچنی په دې پوهول چې قرانکریم د الله پاک کلام دی، لومړی باید ورته سورت فاتحه ور زده کړی شي او بیا سورت اخلاص او بیا معوذتین، دا راز ماشوم ته ځینې هغه قصیدې او شعرونه ور زده کول چې د صحیح ایمان ترجماني ورڅکې شوي وي. (۷٦)

۳. د خوشحالیو په مهال ورته د الله پاک نوم وریادولو خیال ساتل، باید د کوچنیتوب په مهال ورته د الله د پاک نوم له عذابونو سره یاد نه شي، دا مهال به مربي ماشوم ته د الله پاک د غضب اوعذاب او درزخ ډېرې خبرې نه کوي.

٤. په اخلاقو او قوت کې کوچنیان ښایسته اخلاقو ته توجیه کول، ترڅو د الله پاک عظمت او قدرت باندې سم دم پوهه شي، او له الله سره یې په دې مینه پیدا شي چې ټوله نړۍ او کائنات یې ورله مسخر کړي دي.

٥. په سلوکو، په ترحم او مهربانۍ، د خبرو د کولو او اورېدلو په ادبونو باندې ماشوم اموخته کول، د ښه مقتدا له لارې یې په نفسیت کې اسلامي اخلاق کرل ترڅو د فضیلت او خیریت په فضا کې ژوند وکړي او له ارد ګرد چاپیرال څخه د خیر او سعادت اقتباس وکړي. (۷۷)

**اما د تمییز له مودې وروسته مخکنو یادو شویو امورو ته باید د غور او سوچ دا امور هم اضافه شي:**

۱. د نړۍ په ستروالي، په دقیق صنعت او غښتلیتا باندې باید کوچنی وپوهول شي، ترڅو له دې لارې د الله پاک عظمت او جلال وپېژني، الله پاک فرمايي: [صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ] (۷۸)



ژباړه: (وګورئ) کاریګري د الله هغه چې هر شی یې محکم کړی دی.

۲. د الله پاک په افعالو او مخلوقاتو باندې کوچنیانو ته تذکیر ورکول، ترڅو له الله پاک سره مینه ولري او ثناګانې یې وواییې، د بېلګې په توګه له ورځې او شپې د پیدا کولو څخه د الله پاک حکمتونه، له لمر سپوږمۍ، له حواسو: غوږونو، سترګو، ژبې او نورو شیانو په تخلیق کې د الله پاک حکمتونه، الله پاک فرمایي: [أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنفُسِهِم مَّا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ لَكَافِرُونَ] (۷۹)

ژباړه: ایا دوی په خپلو نفسونو کې فکر نه دی کړی، چې الله اسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې د دې دواړو په مینځ کې دي؛ نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره او په ټاکلې نېټې سره او بېشکه ډېر له خلقو څنې د خپل رب په ملاقات خامخا منکران (او کافران) دي.

۳. له روانو پېښو څخه په ګټه اخستلو سره موقعې او چانسونه کتل تر څو ماشومانو ته د خیر جمله کارونه محبوب او له شر او شرارت څخه یې نفرت پیدا شي، دبېلګې په توګه: که ناجوړه شي نو باید ده چې مونږ د هغه د زړه رابطه الله پاک سره جوړه کړو، دعاګانې باید ورته ور وښایو، ښه ګمان په الله پاک ور زده کړو، شرعي دمونه ور زده کړو، که کور ته میوجات یا نور خواړه راوړو باید ده چې د شکر ویستلو عبادت باندې یې روږدي کړو او ویې خبرو چې دا د الله پاک پر مونږ ځانګړې لورینه ده، د سترو دردونکو پېښو په مهال باید مور او پلار خپلو کوچنیانو ته له ایماني مفاهیمو له زده کړې څخه ډډه وکړي ځکه چې هغوی د پوهې او ادارک د کاملې قوې څښتنان نه دي. (۸۰)

۴. د اسلامي خویونو د تعلیم په خاطر مور او پلار باید د ماشومانانو لپاره عملي عادات ولري تر څو موخه په اسانۍ سره تر لاسه کړو، له دې کبله له مربي سره ښائیږي چې د اقتداء لپاره باید پخپله نېکه بېلګه وي، ځکه د دین او اخلاقو ترمنځ تعامل او سلوک رښتنې اړیکه لري چې د غور او سوچ تقابل بیخي نه ارزي. (۸۱)

۵. له هدفي قصو او واقعو څخه ګټه اخستل تر څو کوچنیانو ته ور زده کړی شي او له خیالي قیصو څخه یې لرې ساتل، مناسب ده چې واقعه اوقصه ورته د اغېزناک تمثیل له لارې واورول شي، او ورڅخه هغه موخې ظاهره شي چې له کبله یې ماشوم ته قصه اورول کیږي، د شعرونو اورولو له لارې هم مونږ کولای شو چې د کوچنیانو نفسیتونه په ښو اخلاقو باندې وروزو، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سیرت وریپژندل ترڅو اطاعت یې وکړي او په ځانګړي توګه بیا هغه واقعات چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ماشومتوب په مهال تر سره شوي دي، یا یې له ماشومانو سره خوندور مواقف او له دوی سره لوبې لوبالې، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم هیئت او د هغه بهترین اخلاق، همدا راز کولای شو چې ماشومانو روزنه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په قصو او ایماني افروز واقعاتو باندې وکړو، د نبي کریم صلی الله علیه بي بیانې او د هغه پاکه کورنۍ – رضي الله عنهم أجمعين – په واقعاتو او داسې نور. (۸۲)

۶. د کوچنیانو لپاره په تربیت کې میانه روي کول، په هغوی هغه شاق کارونه نه تحمیلول چې له توان نه یې بهر وي، هېره دې نه وي چې د ماشومانو لپاره د لوبو او سپورټس وختونه له یاده ونه باسو، باید داسې چلند ورسره ونه کړو چې د هغوی د طبیعي او نفسي نشو نما مخه نیسي، یا ترې د کارونو اړوند هرومرو مثبتې نتیجې وغواړو، یا پرې هغه څه تحمیل کړو چې د کوچنیتوب له اساسي حاجتونو څخه یې بې برخې کوي، ځکه په دې برخه کې مغالات کول او ډېر نقد سلبي اړخ ته تللو سره کوچنی په سلبي اړخ روانیدلی شي، دا ډول پېښې له کوچني سره په لومړنۍ مرحله کې مور او پلار په دې خاطر کوي چې کامله بېلګه او ښه مقتدا جوړ شي.

۷. د لویانو له پلوه باید د کوچنیانو په طبیعت کې ډېره مداخله ونه کړی شي، د کوچنیانو لپاره باید د نشاطاتو ټول اوزار شته کړی شي چې د هغه په نفس کې پټ کرکټر راښکاره کړي او د چاپیریال ادراک په ښه ډول وکړي، په دې سره د کوچنیانو په نفسیاتو کې نوښتونه او د انکشاف جذبه وده کوي.

۸. کوچني ته تشجیع ورکول د هغه په نفس باندې ډېر ښه او ګټور اغېز لري، د تل لپاره یې د نیکو عملونو په ترسره کولو په پوره جدوجهد هڅوي، څومره چې د کوچنیانو د سلوکي اړخ بنسټ ثواب او مینه وي هومره به یې بوختیا نېکې پایلې ورکوي او په ښه ډول به خپل کارونه انجاموي، باید ده چې له ماشوم سره په تعلیمي مرحله کې پوره خواري وشي، هغه ته باید ما له او ما علیه حقوق ور وپېژندل شي، هغه کارونه چې کول یې ښه او هغه چې کول یې ناښه وي، کوچنی باید په خپل کرامت او مکانت باندې پوهه کړی شي او په تربیه کې باید له ډېر سهولت څخه کار وا نه اخستل شي. (۸۳)



۹. د کوچنیانو په زړه کې د قرانکریم مینه او محبت کړل، ترڅو د قرانکریم اوامرو او نواهیو ته په اسان زړه راښکونکي اسلوب قداست او احترام ولري، ماشوم باید پوهه شي چې څومره په اتقان سره تلاوت کوي نو د ملائکو تر درجې به ورسیږي، د تل لپاره باید د تلاوت د ادبونو خیال وساتي لکه اعوذ بالله، بسم الله ویل، په ډېر احترام د قران کریم ایتونه اورېدل، څکه دا ډول کردار د ماشوم لغوي اړخ مضبوطوي او په تلاوت یې لا تشجیعوي، کوچني ته باید د قرانکریم د ځینو هغوو ایتونو تفسیر ور زده کړی شي چې هم د ده یاد وي او هم په عقیدوي امورو مشتمل وي، لکه سورت فاتحه، سورت اخلاص، معوذتین، په ښایسته زړه راښکونکي اسلوب او تکرار سره باید کوچنیانو ته دقرانکریم قصې او واقعات بیان کړی شي. (۸٤)

۱۰. د پوښتنې او ځوابونو له لارې د کوچنیانو له استخدامولو څخه ګټه اخستل، دا ډول پوښتنې باید په هغو معلوماتو باندې مشتملې وي چې مونږ یې ماشومانو ته زده کړه غواړو، ځوابونه هم باید ډېر مختصر وي او د کوچنیانو له عمر او مستوی سره سمون خوري، دا ډول پوښتنې او ځوابونه د ماشوم په نفسیاتو او د ښایسته اخلاقو په کسبولو کې ستر رول لري او ښه اړخ ته یې تېل باسي.

۱۱. د تصویرانو د رنګولو له لارې باید د ماشومانو وختونه ګټور شي، د دوی مخې ته داسې ایمان افروز تصویرانو کېښودل شي ترڅو دوی یې رنګ کړي او باید هر ځل دغه ایمان ښښونکي تصویران یو له بل څخه بدل وي، دوی ته د مسابقاتو او د پراخه مجالونو له مخې باید دغه ډول تعلیمات ورکړل شي، ښه به دا وي چې دا ډول مسابقې د حرکتونو والا وي څکه چې ماشومان ورسره مینه هم لري او برخه هم ورپکې ډېره اخلي. (۸۵)

۱۲. ضرور ده چې کوچنیانو ته د عقیدوي مسائلو په پار ځینې حدیثونه یا یې څه برخې هم ورزده کړو چې د دوی له تفکیري مستوا سره سمون خوري، هغه هم په لنډ مختصر جاذب انداز سره چې د دوی عقل یې ایجابوي (۸٦)، دا هم کېدای شي چې د کوچنیانو تعلیم د هغو عبارتونو له مخې وشي چې ایمان ته وده ورکوي او بیا د دغو کلماتو استعمال خپله د ماشوم عادت او خوی وګرځي: لکه : قَدَّرَ اللهُ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، په الله مې بروسه ده، الله پاک په هر څه قدرت لري، د مور او پلار او د ښوونکي تر څارنې لاندې د کوچني تربیه په دې هم کېدای شي چې هغه خپله خوب خونه او صنف پاک صفا وساتي او له ایمان څخه ډکو کلماتو باندې یې مزین کړي، لکه : زه مسلمان یم، زه مې له رب سره مینه لرم، د ایمان ارکان، دا او دې ته ورته تعلیمي وسائل له مشاهدې سره سم د کوچني په ذهن کې ځانګړی مقام پیدا کولی شي. (۸۷)

۱۳. کوچني ته باید ور زده کړو چې له غم او درد، له ستونزو او ستړو څخه هېڅوک هم خلاص نه دی، په نړۍ کې الله پاک هرومرو خلک په مصیبتونو باندې ازموي، کوچنیان باید پوهه کړو چې الله پاک هر څه مقدّر کړي نو هغه وریکې بلا شمېر حکمتونه او ګټې لري، په دې یې باید وپالو چې ګټه او تاوان رسونکی الله پاک دی، رحمت یې په غضب او غصه ډېر مخکې دی، باید کوچنیانو ته ور زده کړو چې د تل لپار اساني او مزې له سختو ګاللو وروسته وي، په مخلوق کې دا د الله قانون دی او باید په الله باندې ښایسته ګمان ولرو، دا خبرې کوچنیانو ته ورزده کول بعینه عبادت دی، دا باید ومنو چې زمونږ د الله پاک اختیار زمونږ د خپل ځان لپاره له اختیار څخه ډېر ښه دی، انسان باید ځان په صبر او حوصله باندې سینګار کړي، د مصیبتونو په مهال باید انسان ټول شرعي اسباب په کار واچوي، د الله په سوچه رضا باندې ځان ګانه کړي او مصیبتونه د ځان لپاره اجر او ثواب وګڼي، په اخر کې باید له یاده ونه باسو چې ماشوم ته دا ور زده کړو چې ډېرې دعاګانې او الله پاک ته التجاء د انسان لپاره تل او همېشه ګټور تجارت دی. (۸۸)





# د پرورش وسائل

**د کوچنیانو په نفسیاتو کې د ایمان د کشت او کر لپاره مرستندویه مهم وسائل په دې توګه دي:**

۱. **قدوه حسنه**: د کوچنیانو په نفسونو کې نېک مقتدا د اسلوبو په اعتبار د ستر اثر او ژور رسوخ وسیله ده، د کوچنی ماشوم د ښه مستقبل په خاطر نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ښه اقتدا لرلو تنبیه ورکړې ده، له عبدالله بن عامر رضي الله عنه نه روایت دی فرمایي: [دَعَتْنِي أُمِّي يَوْمًا وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ فِي بَيْتِنَا، فَقَالَتْ: هَا تَعَالَ أُعْطِيكَ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَمَا أَرَدْتِ أَنْ تُعْطِيه؟» قَالَتْ: أُعْطِيه تَمْرًا، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَا إِنَّكِ لَوْ لَمْ تُعْطِهِ شَيْئًا كُتِبَتْ عَلَيْكِ كِذْبَةٌ] (۸۹)

ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم زمونږ په کور کې ناست او ما ته مې مور اواز وکړ چې راشه څه شی درکړم، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: آیا څه شی دې ورکول؟ هغې وویل: غوښتل مې چې کجوره ورکړم، هغه ورته وویل: که دې څه نه وای ورکړی نو یو دروغ به درته لیکل شوي ول.



په یو روایت کې لا دا هم راځي: [مَنْ قَالَ لِصَبِيٍّ: تَعَالَ هَاكَ، ثُمَّ لَمْ يُعْطِهِ فَهِيَ كَذْبَةٌ] (۹۰)

ژباړه: که څوک ماشوم ته ووایي چې راشه څه واخله، او بیا څه ورنه کړي نو دا دروغ دي.

قدوه باید فعال اسلوب وي، او حدیث کې هم په ځانګړي توګه له ماشومانو سره د رښتیا ویلو اهمیت ته اشاره ده. (۹۱)

۲. **رښتونی نصیحت**: امکان لري چې نصیحت په بېلابېلو لارو سره وکړی شي، یا خو دا چې نصیحت په معروف او مشهور شکل ورکړل شي او یا د مثالونو په بیان سره، یا د قصې

او کهانۍ په منځ کې او یا هم د حوار او مکالمې په شکل او که بل صورت او ډول ولري، خو دا مو باید دنده وي چې په نصیحت کې ماشومان تنګ نه کړو او خیال یې وساتو. (۹۲)

۳. **ترغیب او ترهیب،** له دې څخه په ثواب او عقاب هم تعبیر سم دی، له دې وروسته بیا عاطفي اسلوبونه باید په کار واچول شي ځکه دا ډول نصیحت د انسان له هغه فطرت سره سمون خوري چې الله پاک ورباندې پیدا کړی دی، او دغه فطرت له ګټې سره مینه لري او د جلبولو زیار یې اوباسي، له شر او شرارت څخه نفرت لري او له ځان څخه یې دفع کوي، خو ضرور ده چې ترغیب او ترهیب د افراط او تفریط په منځ کې وي، ځکه د ماشوم نفس بیخي رقیق او شفاف وي نو نه ارزي چې وډارول شي، دا چې د کوچنیانو نفسیتونه زر د اغېز لاندې راځي نو ترغیب ورته په کار دی، د عمر په دې مرحله کې ماشوم له ترهیباتو څخه ترغیباتو ته ډېره اړتیا لري. (۹۳)

٤. **تدریب او ممارسه**: د الله پاک په رضا باندې کوچنی اموخته کول، له هغه څخه خشیت او حیا کول، د ژوند په ټولو برخو کې پر الله پاک باندې توکل چې هر څه د الله په لاس کې دي، دا او دې ته ورته اخلاق هغه څه دي چې په ماشومانو کې د هر محنت او مشکل په وړاندې قوت او صلابت پیدا کوي، دا اخلاق په کوچنیانو کې رضا، یقین، او قلبي اطمئنان پیدا کوي چې هم یې پرې نفس او هم یې پرې زړه مطمئن وي.

٥. **تکرار،** تکرار هغه اسلوب دی چې اوسني تعلیم تر ثبوت رسولې ده چې د انسان په نفس کې علم لا تقویه کوي. (۹٤)

٦. **حوار او مناقشه،** له کوچنیانو سره حوار او مناقشه د هغوی د معرفت او دانش مدرکونه پراخوي، خو ضرور ده چې د کوچنیانو د رایې احترام پکې وساتل شي، خبرې یې په سمه توګه واورېدل شي، په دې خاطر چې حوار ناجح او ګټور شي او په ترڅ کې یې ورته توجیهات هم وشي. (۹٥)

۷. **کتاب،** د ستر اهمیت خبره ده چې د ماشومانو لپاره د هغوی مناسب علمي، ثقافتي او ایماني کتابتون شته شي ترڅو د هغوی اړتیا له منځه لاړه شي او ډېره ښه خبره ده چې مکتبه سمعي او بصري او رقمي ځانګې ولري، ډېره مهمه ده چې د کوچنیانو دا ډول مکتبه په قصو او واقعاتو مشتمله وي ځکه قصې د تربیت لپاره ډېره ښه وسیله ده (۹٦)، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سیرت او صحابه کرامو د ژوند ډېرې داسې ښې قیصې او ګټورې واقعې شته دی. (۹۷)

۸. **اوسنۍ ټیکنالوجي او تعلیمي وسائل**: د افکارو په نشر او اشاعت او کوچنیانو ته په زده کړه کې دا دواړه پوره برخه لري ترڅو ماشومانو ته دغه افکار ورياد کړی شي، دا هم کېدای شي چې دغه ډول د لارو پر سر تختو باندې رنګین او زړه راښکونکي اسلوب باندې ولیکل شي چې کوچنیان ځان ته راکاږي او نفسي حالت یې هم داسې کوي چې قبول اخلي. (۹۸)

۹. **فطري دوافع**: ماشوم ځینې داسې دوافع لري چې ګټه اخستل ورځخه امکان لري، لکه هغوی سر لوبې کول، له یو بل سره مرسته کول او تقلید او داسې نور... د لوبې له لارې کوچنی کولای شي چې ارد ګرد خلک ځان ته کشف کړي او له خپلو تصوراتو ځخه تعبیر وکړی شي، له دې ځخه د ګټو اخستلو امکان داسې کېدای شي چې د ژوند او نړۍ په تړاو ورته سم دروست تفسیر ورکړی شي او په نفسیت کې یې د ښو اخلاقو کرونده وشي، خو دا هم په مناسب او لنډ اسلوب سره، کله چې د کوچني له دریځونو او منځ ته راغلي پېښو ځخه په ښو توجیهاتو او تنبیهاتو سره ګټه واخستل شي (۹۹) نو د کوچني په نفس کې خورا پیاوړی اغېز پرېږدي.

۱۰. **دعاګانې**، دعا الله پاک ته د انسان په افتقار او د هغه د فضل او مهربانۍ د امید ساتلو باندې ښه دلیل دی، الله پاک خپل بندګان هم د دعاګانو په کولو راتیز کړي دي او وعده یې ورسره کړې ده چې هرومرو به یې دعاګانې قبلوي، الله پاک فرمایي: [وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ] (۱۰۰)

ژباړه: او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم.

دعا د مربي لپاره د هدف په ترلاسه کولو کې ستره وسیله ده، او دا وسیله د مربینو سپه سالارو او د الله پاک بهترینو خلکو استعمال کړې ده چې انبیاء کرام دي، ایکې یواځې په دې خاطر چې په ایمان او توحید باندې ټینګ او قائم او دائم ووسي، الله پاک فرمایي: [وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا الْبَلَدَ آمِنًا وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَعْبُدَ الْأَصْنَامَ] (۱۰۱)



ژباړه: او (یاد کړه) هغه وخت چې ابراهیم وویل: ای زما ربه! ته دا ښار د امن والا وګرځوه او ما او زما زامن د بتانو له عبادت نه لرې وساته.

کوچنیانو ته دعا کول له هغه سره تربیت او پالنه کې د احسان لویه نښه ده. (۱۰۲)

**۱۱. تمثیل او تقلید،** تقلید کول د کوچنیانو خوی او عادت وي، باید ده چې ماشوم ته فرصت ورکړی شي چې د مسجد د امام دور ادا کړي، لمونځ او تلاوت وکړي، یا د خطیب دور ادا کړي او پورته شي خطابت وکړي، یا د ښوونکي دور ادا کړي او د درس ځیني فقرات شرح او تفصیل کړي، په دې سره د کوچنیانو په نفسیتونو کې معناګانې رسوخ پیدا کوي



# د مربي
# او پالونکي ځانګړنې



**۱. رحمت او شفقت**، تربیت او پالنه تر هغه مثبته نتیجه نه ورکوي تر څو له تربیې سره رفق اونرمي نه وي مل شوې چې زړونه له رحمت او شفقت څخه ډک کړي، اقرع بن حابس رضي الله عنه ولیدل چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حسن او حسین په مچې کولو بوخت دی، ورته یې وویل: زه لس بچیان لرم خو لا مې هم یو نه دی مچې کړی، نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: [مَنْ لاَ يَرْحَمُ لاَ يُرْحَم ] (۱۰۳)

ژباړه: څوک چې په چا رحم نه کوي نو په ده به هم رحم ونه کړی شي.

او مزید فرمایي: [الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا أَهْلَ الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ] (۱۰٤)

ژباړه: په رحم کونکي مخلوق به رحمن ذات رحم او مهرباني وکړي، دځمکې پر میشو خلکو مهربانه شئ هغه څوک به په تاسو مهربانه شي چې په اسمان کې دی.

**۲. برده باري او درګزري**، د برده بارۍ ښایسته اخلاقو لوړې څوکې ته نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپله رسیدلی دی، له جملې څخه یې د حوصلې او زغم اړوند انس بن مالک رضي الله عنه وایي: [كُنْتُ أَمْشِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الحَاشِيَةِ»، فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهُ بِرِدَائِه جَبْذَةً شَدِيدَةً، حَتَّى «نَظَرْتُ إِلَى صَفْحَة عَاتق رَسُولِ اللَّه صَلَّى اللَّهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ البُرْدِ مِنْ شِدَّة جَبْذَته»، ثُمَّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ مُرْ لِي مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي عِنْدَكَ، «فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ضَحِكَ، ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ ] (۱۰۵)

ژباړه: له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځای روان وم او پر هغه باندې نجراني زیګ څادر پروت و، یو بانډه چې راونیو او دومره سخت یې ځان ته راجذب کړ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مرۍ مبارکه کې یې اثر پرېښود، بیا یې ورته وویل: ای محمده! زما لپاره د الله پاک له مال څخه په څه شي د راکولو امر وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وکتل او یې خندل، بیا یې امر وکړ چې څه ورکړل شي.

عفوه او درګزر هم له بردبارۍ سره تړلي اخلاق دي، الله پاک فرمایي: [خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ ] (۱۰٦)

ژباړه: ته معاف کول راونیسه (د عفوه کولو عادت راخپل کړه) او د نېکۍ حکم کوه او له جاهلانو نه مخ وګرځوه.



په دې خاطر چې حلم او بردباري وجود ته راشي، نبي کريم صلی الله علیه وسلم له غضب او غصې څخه په ځان ساتلو توصيه کړې ده، په صحيح حديث کې راځي چې يو سړي نبي صلی الله علیه وسلم ته وويل: ما ته سپارښتنه وکړه، هغه ورته وويل: مه غصه کېږه، سړي يې بار بار غوښتنه وکړه خو هغه ورته وويل: [لاَ تَغْضَب ] (١٠٧)

ژباړه: مه غصه کېږه.

**٣. صبر او حوصله،** د تربيت او تعليم په دوران کې بايد مربي او ښوونکی له بېړې څخه کار وانه خلي او ځان په صبر او زغم سينګار کړي، او نه به مربي او ښوونکی د خپلو هلو ځلو پايلي فورا غواړي، ورنه د خپل تربيتي لړې کې به ډېر ناهيلې شي او د ناکاميو ښکار به شي، بې حوصلې مربي لکه د بې توخې مسافر مثال لري.

**٤. عدل،** کله چې د افرادو ترمنځ له واضح سبب پرته امتيازي سلوک شته شي همکاري بې درکه او لا بيخي ورکه شي، د ماشومانو ترمنځ تفاهم بېګانه شي، او ظلم او زياتی چې کله هم وجود ته راشي هر څه بې رنګه شي.

**٥. امانت،** له ښوونکي اوپالونکي سره ښايي چې له کوچنيانو سره پوره صادق او په تعامل کې امانتګر وي، امانت د اسماني استازو پېغمبرانو خوي او عادت و، او د اعمالو په خورا پياوړتيا او ښايست او کاميابۍ کې امانت بې پناه اثر لري.

۶. **تقوا**، څوک چې له الله پاک څخه ډار لري نو د دومره اعمالو توفیق به ورکړي چې د ده به ورته خیال هم نه وي، په دنیا او اخرت کې د توفیق، فلاح او نجاح لپاره تقوا ډېر ښه شی دی.

۷. **علم**، ځکه عالم د انسان په حال او مآل پوره خبر وي، د جاهل په خلاف باندې چې حاضر ضایع کوي چې عاقبت یې بیا ډېر ناکاره وي.

۸. **اخلاص**، تر څو پورې چې په اعمالو کې اخلاص نه وي نو اعمال یې مردود دي، او ریاکار له سترو ستومانیو پرته نور څه نه لري.

۹. **حکمت**، مربي او ښوونکی چې کله هر څه په خپل نصاب کې کېږدي، نو هر څه به په ګړندۍ توګه خپلې پایلې ورکړي او تربیه به خپلې میوې ورکړي، مربي او ښوونکی باید د کوچنیانو نفس ته دننه ننوځي او د ماشومانو په تربیه او توجیه کې حکمت ګټور وبولي.

۱۰. **په تربوي اعمالو باندې باور**، تربیه نفسي او روحي خیرات او صدقه ده، که څوک په تربوي عملیاتو باوری نه وي نو خلکو ته یې ګټه هم نه شي رسولی. (۱۰۸)

۱۱. **پرمختګ**، ضرور ده چې مربي او ښوونکی باید د خپلو امکانیاتو له پرمختګ سره سم اهتمام وکړي ترڅو هغو موخو ته رسیدګي وکړی شي چې دا یې د تربوي دور په ادا کې لوبوي.







# د ايماني
# تربيې ارکان[۱۰۹]

لومړی رکن:

**په الله پاک باندې ایمان لرل.**

دوهم رکن:

**په ملائکو باندې...**

دریم رکن:

**په اسماني کتابونو ایمان لرل...**

څلورم رکن:

**په پېغمبرانو باندې ایمان...**

پنځم رکن:

**د اخرت په ورځ ایمان..**

شپږم رکن:

**په تقدیر باندې ایمان...**





# لومړی رکن:
# په الله پاک باندې ایمان لرل.

انساني فطرت عقل او شریعت د الله په وجود ډېر ښکاره دلالت کوي، هر مخلوق د الله د وجود په فطرت پیدا کیږي، عقل هم دا قبلوي چې مخلوقات باید خالق ولري، او شریعت او اسماني دینونه هم دا ثابتوي چې خالق شته دی، په الله پاک باندې ایمان څلورو شیانو ته شمول لري:

**لومړی**: د الله پاک شتون.

**دوهم**: د الله پاک په ربوبیت ایمان چې الله پاک ورکوونکی، پیدا کوونکی رازق او د نړۍ چلوونکی دی.

**دریم**: د الله پاک په الوهیت باندې ایمان او په عبادت کې یې یو ګڼل چې هېڅ راز برخه دار نه لري.

**څلورم**: د الله پاک د کمال او جمال لرونکو نومونو او صفتونو باندې ایمان (۱۱۰)، کله چې مونږ ماشوم ته دا عقیده ورزده کړو نو د الله پاک په معرفت او تعظیم او محبت به راوتوکیږي، په داسې حالت کې چې دا د ټولو ارکانو بنسټ دی.

## کوچني ولې د الله په مینه او محبت وروزو؟

۱. ځکه چې الله پاک له عدم څخه مونږ شته کړي یو، ښایسته شکل یې راکړی دی او په ډېر مخلوق یې بهتر ګرځولي یو، او د بلا شمېر لورینو په ترڅ کې یې اسلام هم نازولي یو، دومره لوریني چې مونږ ورڼه یو، له دې سره بیا هم ښو او ښایسته افعالو تر سره کولو په مهال له مونږ سره د جنت وعدې کوي، الله پاک لومړی او اخرنی متفضل دی.

۲. ځکه چې له مینې څخه احترام او په ښکاره او پټ ډول هیبت تولیدوي، حالانکه مونږ شدیده اړتیا لرو چې زمونږ ماشومان دې د الله پاک احترام وکړي او ورڅخه ډار ولري، نه یواځې دا چې له عذاب او جهنم څخه یې ډار ولري او له هغه سره د ډار علاقه او اړیکه ولري، نو که ویره او مینه دواړه وي نو عبادتونه به یې هغه روحي غذا وي چې دوی پرې ژوند وکړی شي او له خطاګانو څخه سالم او غانم پاتې شي.

۳. ځکه چې الله پاک حي او قیوم او د تل لپاره دائم ذات دی چې مرګ پرې نه راځي، پرکالي او خوب پرې نه راځي، مخلوق چې هر چرته وي الله پاک ورسره وي، الله پاک یې حفاظت کوي او له مور او پلار څخه یې هم ښه پالي، له دې کبله یې له الله پاک سره مینه اړیکه ځکه ډېره اړینه ده تر څو وپوهیږي چې دوی د الله په خیر کلک ملاتړ لري.

٤. کوچنیان چې کله له الله پاک سره مینه ولري له قران سره به یې هم مینه او محبت پېدا شي، په لمونځ باندې به یې حرص زیات شي، دوی چې کله د الله پاک له جمال څخه خبر شي چې جمال خوښوي نو دوی به د تل لپاره ښایسته او د جمال کارونه کوي، که کوچنیان وخبرېږي چې الله له توبه ویستونکو او پاکو خلکو سره مینه لري، له محسنینو او متصدقینو، له صابرینو او متوکلینو او د متقینو سره مینه او محبت لري، زیار به اوباسي چې ټول دغه صفتونه په ځان کې راولي، ترڅو الله پاک راضي او خوشحاله شي او دهغه په ولایت سرفراز شي او الله پاک یې په خپلې دفاع کې واخلي. (١١١)

کله چې کوچنیان وپوهیږي چې له خیانتګرو، کافرانو، متکبرینو، ستمګرو، ظالمانو او ورانکارو سره الله مینه نه لري نو کوچنیان د خپل توان په اندازه له الله پاک سره د مینې او محبت په تقاضا ورڅخه لرې وځي.

٥. له الله پاک سره مینه د الله پاک په وجود باندې د عقیدې ساتلو معنا ورکوي، په دې سره انسان ته پوره ډاډ او اطمئنان حاصلېدلی شي، غم او درد له منځه ځي او د انسان بدن له ګردو بدمرغیو او نفسي او عضوي رنځونو څخه سالم پاتې کیږي، دا لا څه چې انسان پرې له ګناهونو څخه هم ژغورل کېدلی شي. (١١٢)



## له الله سره مينه او محبت به مونږ خپلو شاګردانو ته څنګه ورزده کړی شو؟

۱. د ماشومانو په تړاو حسي مدخل د ايماني قضيو د کشت او کر لپاره يواځنی مدخل شمېرل کيږي، معنا: په الله پاک باندې د ايمان د غښتلتيا لپاره کولای شو چې په حواسو باور ولرو، کولای شو په دې اړه د ماشوم له ارد ګرد طبيعي نښانو څخه ګټه واخلو لکه : لمر، باران، باد او طوفان، د دې په ترڅ کې مونږ کولای شو چې ماشوم پوهه کړو چې دا نړۍ خالق او مدبر لري، بايد ويې هڅو چې په دې اړه پوښتنې ولري (۱۱۳)، دا مهال بايد مونږ زيار اوباسو چې د ايماني ليد لورې له مخې يې پوښتنې ځواب کړو ترڅو د الله پاک د وجود په دليلونو باندې وپوهيږي او په علمي افاقو کې يې تحليل او درس کړي (۱۱٤)، حرص بايد وکړو ماشومانو ته د الله پاک معجز قدرت او خوندور نوښت راښکاره کړو، د دې له جملې څخه يوه هم دا رباني توجيه ده چې د انسان د پېدائښت پېل ته غور سوچ وکړي، الله پاک فرمايي: [فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ] (۱۱۵)

ژباړه: انسان دې دېته وګوري چې له څه شي يې پېدائښت شوی دی.

او الله پاک فرمايي: [وَفِي أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ] (۱۱٦)

ژباړه: او ستاسو په نفسونو کې دالله پاک د توحيد نښانې دي ايا تاسو يې نه وينئ؟

دا ډول د انسان خوراک څښاک کې سوچ غور چې الله پاک يې څنګه شته کوي او په کومو مرحلو باندې تيريږي، الله پاک فرمايي: [فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ] (۱۱۷)

ژباړه: انسان دې خپل خوراک او څښاک ته په ځير وګوري.

همدا راز د الله په مخلوقاتو کې سوچ او غور چې د الله په عظمت باندې دليل دی، الله پاک فرمايي: [أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلۡإِبِلِ كَيۡفَ خُلِقَتۡ * وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ رُفِعَتۡ * وَإِلَى ٱلۡجِبَالِ كَيۡفَ نُصِبَتۡ * وَإِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَيۡفَ سُطِحَتۡ ] (۱۱۸)

ژباړه: ايا دا خلک اوښ ته نه ګوري چې د خلقت په کوم کيفيت پيدا کړی شوی دی، دوی اسمان ته نه ګوري چې څنګه پورته کړی شوی دی؟ دوی غرونو ته نه ګوري چې څنګه ودرول شوي دي؟ دوی ځمکې ته نه ګوري چې څنګه غوړول شوې ده.

کېدای شي چې د مخلوق په ښايسته پېدائښت کې دا سترې معناګانې چې د الله پاک په عظمت لوی دليل دی ، په خورا ښايسته ډول د کوچنيانو په ذهن کې کېښودل شي او د کوچنيانو د عمرونو لحاظ پکې وساتل شي، د دې په ترڅ کې د اوسمهاله تعليمي او توضيحي وسائلو څخه پکې کار هم واخستل شي (۱۱۹)، ماشوم به د خپل فطرت له مخې هرومرو له هغه الله پاک سره مينه پيدا کړي چې هم يې ورله نړۍ پيدا کړې ده او هم يې ورله مسخر کړې ده.

۲. کوچنيانو ته د الله پاک په کمال او جمال باندې دلالت کونکې نومونه او صفتونه ور زده کول، الله پاک رحيم او رحمن ذات او رحمت و شفقت يې هر څه شي ته عام او تام دی، الله

پاک عفو ذات له ګناهونو څخه بخشش کوي، الله پاک عفوې ذات دی په ګناهونو پرده اچوي او بخښي يې، کريم ذات دی له طلب او سبب پرته په خپل مخلوق باندې کرم او سخا کوي، الله پاک هادي ذات دی بندګانو ته هغه څه ورښايي چې د دوی ورپکې ګټه وي، الله پاک ودود ذات دی چې دا له نورو او نور له ده سره مينه لري، د الله پاک دا ډول معرفت او پېژندنه کوچنيان له الله پاک سره په مينه او محبت باندې پالي او مرسته ورسره کوي. (١٢٠)

۳. کوچنيانو ته بايد له داسې خبرو ډډه وکړو چې [ **که خبره مې وانه اورې او منونکی نه شې نو الله پاک به دې سزا وار کړي** ] ماشوم ته ور زده کول چې الله پاک نافرمانو بندګانو ته سزا ورکوي او يا زما له اطاعت څخه سرکشي کې به د الله پاک له پلوه ته سزا وار شې او هغه ته به دې دړکې ورکول، دا دواړه خبرې خپل منځ کې ستر توپير لري، دا ډول خبرې د الله په قدرت او عظمت کې له ژور سوچ او فکر نه د ماشوم مخه ډپ کوي، او نه دا مناسب دي چې د کوچنيانو په تربيه کې هغوی په الله وډارول شي، بلکې واجب دا ده چې مونږ ګرد کوچنيان د الله پاک په عظمت او محبت او توقير باندې وپالو (١٢١)، الله پاک ته بايد داسې څه شی منسوب نه کړو چې د الله پاک اړوند د ماشوم نظريه باندې ناوړه اغېز لري.

٤. کله کوچنيان وګوري چې مور او پلار د فرضي لمونځونو خومره پابند دي او له محرماتو څخه خومره ځان ژغوري، نو زياتره کوچنيان داسې وي چې په اړه يې پوښتنې لري، هرومره ده چې مور او پلار يې په ځواب کې ورته د الله پاک د محبت او اطاعت ذکر وکړي نو دا به د کوچني لپاره دالله په محبت کې ډېره ښه مقتدا وي، ځکه د لومړي ځل لپاره د کوچني مقتدا مور او پلار وي، بل سبب د ماشوم په نفس کې د الله پاک محبت کرلی شي دا دی چې ته کوچني ته د جنت اړوند وګړېږې او د الله پاک هغه لورينې ورياده کړې چې له مومنانو سره يې ورله وعدې کړې دي.

٥. کله چې کوچنی داسې عمر ته ورسيږي چې د واجباتو معنا ادراک کولی شي، بايد ده چې له الله سره د مينې او محبت واجبي حکم هم ور زده کړی شي، ځکه الله پاک مونږ پيدا کړي يو، ښايسته شکل يې راکړی دی او رزق روزي راکوي، په ډېرو مخلوقاتو يې مونږ ته شرف او قدر رابښلی دی او پر مونږ باندې احسان لري چې د اسلام په نوم دين يې راکړی دی (١٢٢)، ضرور ده چې ماشوم ته ورزده کړو چې ارد ګرد څومره نعمتونه دي دا د الله پاک لورينه ده، بايد ده چې په دې يې وپالو چې دوی به دالله پاک د نعمتونو شکريه څنګه ادا کوي او مزيد نعمتونه به ترې څنګه غواړي؟ د نعمتونو دا تذکره له الله پاک سره د مينې او محبت ډېر جلبونکی لامل دی. (١٢٣)

٦. کوچنيانو ته د هغو وسائلو زده کړه چې د الله پاک او د هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره مينه او محبت جلبوي، که قولي، که فعلي او که د احوالو څخه وي خو استفاده ورڅخه وشي. (١٢٤)



# دوهم رکن:
# په ملائکو باندې ایمان لرل...



په ملائکو باندې د ایمان معنا د هغوی په وجود باندې باور لرل دي، په ټولو هغو ملائکو باید باور ولرل شي چې مونږ یې په نوم پېژنو او که نه، په هغو حدیثونو ایمان لرل چې د ملائکو په اړه په صحیح سند روایت شوي دي، ورسره مینه کول، **په ملائکو باندې د ایمان په تړاو چې باید کوچنیان ورباندې ایماني تربیه ولري دا دي:**

۱. کوچنیان پوهول چې ملائک له د نور ( رڼا ) څخه پیدا دي، له عائشې رضي الله عنها نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: [خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ، وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ، وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ] (۱۲۵)

ملائک له نور څخه پیدا شوي دي، پېریان د اور له شغلې څخه پیدا دي، او ادم له هغه څه چې تاسو ته یې بیان شوی دی.

د ملائکو اړوند همدومره وصف بسیا کوي، د خلقت او طبیعت اړوند یې مزید تفاصیلو ته دلته اړتیا نه لیدل کیږي.

۲. کوچنیانو ته د هغو ملائکو نومونه ور زده کول چې ثبوت لري، لکه جبریل علیه السلام، دا د ټولو ملائکو مشرتابه او امانتګر دی، د قران نزول دجبریل علیه السلام په واسطه باندې شوی دی.

میکائیل: ده ته د باران ورولو مسؤلیت ورپه غاړه دی.

اسرافیل: ده ته د قیامت لپاره په شپیلۍ کې پوکی ورکول ورپه غاړه دي، نور ملائک هم شته چې حملة العرش ورته ویل کیږي، ځینې نور د بندګانو اعمال لیکي، نور ملائک دي چې انسان له تکلیفونو څخه ژغوري او داسې نور...

۳. کوچنیان پوهول چې ملائک ګڼ شمېر لري، له الله پاک پرته یې هېڅ چا ته د شمېر معلومات نشته، ملائک د الله په اطاعت او د هغه د اوامرو په تنفیذ باندې پیدا دي، هر ملائک جلا مسؤلیت لري او په تنفیذ یې بوخت وي.

٤. ملائک له ګناه څخه معصوم دي، دوی په دوامداره توګه د الله بندګي کوي او ستړيا نه احساسوي او تکبر هم نه کوي، ملائک د مومنانو بندګانو سره مينه لري او مرسته کومک يې کوي، دعاګانې ورله غواړي او حفاظت يې هم کوي، دوی د مسلمانانو د ذکر او ديني مجلسونو ته حضور هم کوي او د دا ډول مجلسونو پلټنې کوي.

٥. کوچينانو ته ملائک د طبيعي لارې څخه ورګرانول چې دوی د خير کارونه کوي، په دې يې پوهول چې په انسانانو باندې د تل لپاره د ملائکو خير او ګټه پېرزو وي، په دې سره د کوچنيانو له دغه بابرکته مخلوق ملائکو سره د مينې او محبت څپې راپورته کيږي، څکه ملائک د خپلو تسبيحاتو او استغفار په ترڅ کې مومنانو ته دعاګانې هم کوي، د حق او ايمان او په عمل صالح باندې د استقامت څښتنانو ته دجنتونو زيري هم ورکوي، د مومنانو مرسته او کلک ملاتړ يې کوي (١٢٦)، دوی يې عملونه خوندي ساتي، الله پاک فرمايي: [لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ] (١٢٧)

ژباړه: له انسان څخه مخکې او وروسته ملائک وي چې د الله په امر يې تحفظ کوي.

٦. په ملائکو باندې ايمان لرل د دوی احترام او قدر کولو ته هم شمول لري، ملائک د الله پاک قدرمند مخلوق دی، دامرونو په تړاو يې هيڅ ډول سرغړونه نه کوي، له هغو صفتونو څخه يې تنزيه واجب ده چې له دوی سره لائق نه دي.

٧. په شخصي نظافت ځانګړی خيال لرل، څکه ملائک له ټولو هغو شيانو څخه تکليف ده وي چې انسانان ورڅخه په تکليف کې کيږي، له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: [مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الْبَقْلَةِ، الثُّومِ – وقَالَ مَرَّةً: مَنْ أَكَلَ الْبَصَلَ وَالثُّومَ وَالْكُرَّاثَ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو آدَمَ] (١٢٨)

ژباړه: څوک چې له دې سبزي – اوږې – يا يې وويل: له پياز، اوږې او ګندنې څخه خوراک وکړي نو زمونږ مسجد ته دې بيخي نه رانږدې کيږي، څکه ملائک له هغه شيانو څخه په تکليف کې کيږي چې انسانان هم ورنه تکليف کې وي.

٨. د ملائکانو په وجود اوورباندې ايمان لرلو کې بلاشبهر ګټې او حکمتونه دي، يوه ګټه يې دا ده چې انسان د الله پاک په وسيع علم، عظيم قدرت او نا اشنا حکمتونو باندې پوهول دي، بله ګټه يې دا ده چې مسلمان امن او ډاډ محسوس کړي، دا هله چې مسلمان ويوهيږي چې ملائک مې د الله په امر ساتنه کوي او زما ملاتړي دي. (١٢٩)

٩. له مونږ سره د ملائکو د تخليق او ايجاد او مراقبې اړيکه مونږ ته د هغوی اهميت او ارزښت راښايي، له دې څخه د هغو افکارو مخه ډپ کيږي چې د ملائکو په حقارت او توهين بناء وي، په دې سره انسان ايله بيله ځان ويېږني او د عملي بنې لپاره خپل ټول زيار په کار واچوي او خپل واجب دور په سمه توګه ولوبوي. (١٣٠)

# دریم رکن:
# په اسماني کتابونو ایمان لرل...

**په اسماني کتابونو باندې ایمان لرل لاندې موضوعاتو ته شمول لري:**

۱. د هغو کتابونو په وجود ایمان لرل چې نزول یې د الله پاک له اړخه شوی دی، دا په بندګانو د الله لویه لورینه ده چې هر قوم ته یې په خپل زبان داسې کتاب ورکړی دی چې دوی پرې د هدایت لارې لټوي، داسې احکام یې ورته پکې ورکړي دي چې له دوی سره مناسب دي، کوچنیانو ته باید توضیح شي چې داسماني کتابونو نزول د الله لویه او ځانګړې لورینه ده، ځکه اسماني کتابونو مونږ ته د الله پاک او د اخرت د ورځې پېژندلو علم راکړی دی او په خیر او شر یې پوهولي یو.

۲. په هغو کتانونو د تصدیق عقیده لرل چې مونږ یې په نومونو پېژنو لکه د ابراهیم علیه السلام صحیفې، تورات چې په موسی علیه السلام نازل شوی و او زبور چې په داود علیه السلام یې نزول شوی وی، انجیل چې په عیسی علیه السلام باندې رانازل شوی و او قران کریم چې په محمد مصطفی علیه السلام باندې نازل شوی دی.

۳. دا عقیده لرل چې اسماني کتابونو د یو بل تصدیق او ملاتړ کوي، یو بل نه دروغجنوي او نه خپل ترمنځ تعارض او تناقض لري، الله پاک فرمایي: [مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ ] (۱۳۱)

ژباړه: قران کریم ټول هغه کتابونه تصدیقوي چې له ده څخه مخکې نازل شوي دي.



٤. به ټولو صحيحو اخبارو يې د تصديق عقيده لرل، او په دې خلک پوهول چې له قران پرته ټولو اسماني کتابونو کې تحريف او لاسوهنې شوي دي، ځکه هغه وقتي کتابونه و او د همغې زمانې لپاره الله ځانګړي کړي ول چې د قران په څېر يې الله پاک د حفاظت وعده نه وه کړې.

٥. په دې عقيده لرل چې په قرانکريم سره ټول مخکني اسماني کتابونه نسخ شوي دي، او تر قيامت پورې د قرانکريم اوامرو ته عملي بڼه ورکول او له نواهيو څخه يې ځان ژغورنه واجب دي، د قران کريم حلالو ته حلال او حرامو ته يې حرام ويل، په محکم ايتونو يې عمل او متشابهه ايتونو ته يې تسليمي او حدود او تعليماتو کې يې توقيف وجوبي حکم لري. [۱۳۲]

يو له هغو مهمو امورو څخه چې په اسماني کتابونو باندې د ايمان په باب کې داخلېږي د ماشومتوب په مرحله کې کوچنيانو ته د قران کريم زده کړه ده، د ماشومانو د ذکات د ودې لپاره د قرانکريم زده کړه او حفظ يو له مهمو نشاطاتو څخه شمېرل کيږي، خو دا هله چې استاذ دنده په ښه توګه ادا کړي او د کوچني په نفس کې د ايتونو فضا ژوندۍ وساتي، قرانکريم مونږ ته د اسمان او ځمکې په تخليق کې، د انسان په پيدائښت او له مونږ څخه ارد ګرد کې د سوچ او غور پوره دعوت راکوي په دې دعوت راکوي ترحو ايمان مو وده وکړي او علم مو عملي بڼه ولري، د قرانکريم حفظول او په معناګانو يې ځان پوهول انسان د ذکاوت لوړ ځلي ته رسوي [۱۳۳]، څومره چې يې په قرائت او تجويد کې ژبه مهارېږي هومره ماشومان په فصاحت او بلاغت باندې راټوکوي - د خشوع، خضوع، رغبت او رهبت - د زړونو او احساس د نرمولو لپاره - دا او دېته ورته نورې خدايي ورکړه باندې انسانيت پالي، د قرانکريم حفظ کوچنيان روږدي کوي چې د قرانکريم تعليماتو ته عملي بڼه ورکړي او د روز مره ژوند په ټولو مرحلو کې يې د ادب او احترام ځانګړی خيال وساتي، د قرانکريم حفظ د کوچنيانو خوی جوړوي چې ژوند کې يې استقلال او د ښو اخلاقو څښتنان شي، د قرانکريم د حفظ بله ګټه دا ده چې د قرانکريم د حفظ لپاره په حلقاتو کې د دوی راغونډېدلو سره دوی لوی اجر او عظيم فضل ګټلی شي. [۱۳٤]





## د قرانکريم حفظ ته بايد ماشومان څنګه ترغيب کړو؟

۱. دوی ته بايد د قرانکريم فضيلتونه شرح او تفصيل کړو، د قران کريم د حفظ، د تلاوت او تعليم او ورباندې دعمل کولو فضيلتونه ورته بيان کړو، لکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: [اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ] (۱۳۵)

ژباړه: قرانکريم په کثرت سره ولولئ، د قيامت په ورځ به قرانکريم خپلو لوستوالو لپاره په داسې حالت کې راشي چې سفارش به يې کوي.

او نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: [يُقَالُ – يَعْنِي لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ –: اقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا، فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَأُ بِهَا] (۱۳٦)

ژباړه: قاري صيب ته به وويل شي: قران داسې لوله لکه په دنيا کې چې دې لوستو او پورته خېژه، ستا اخرنۍ منزله او مرتبه به د هغه اخري ايت سره وي چې ته يې ولولې.

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: [مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْأُتْرُجَّةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لاَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ التَّمْرَةِ، لاَ رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الرَّيْحَانَةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لاَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الحَنْظَلَةِ، لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ ] (۱۳۷)

ژباړه: هغه مومن چې قرانکريم لولي مثال يې د ترونجبين دی هم خوشبودار او هم مزيدار وي، د هغه مومن مثال چې قرانکريم نه لولي د کجورې دی خوشبويي نه لري خو په خوند خوندوره وي، د هغه منافق مثال چې قران کريم لولي د کشمالي په څېر دی، په بوی خوشبودار خو په مزه او خوند کې تريخ وي، د هغه منافق مثال چې قران هم نه لولي د مرغونې دی چې خوشبويي خو بيخي نه لري خو خوند کې هم تريخ وي.

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: [خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ ] (۱۳۸)

ژباړه: په تاسو کې غوره ترین هغه دی چې قران زده کړي او نورو ته یې وښایي.

دا ډول ورته باید په قرانکریم باندې د سلفو صالحینو اهتمام هم وریاد شي حالانکه دا ډول وسائل د عزم او مورال لوړوالي کې مهم رول لري. [۱۳۹]

۲. ضرور ده چې مونږ خپل کوچنیان د قرانکریم په مدرسو او مسجدونو کې د تحفیظ په حلقاتو کې داخل کړو، یا یې د قاري صاحبانو اړوند لټه او تالاش وکړو او په مستقله توګه یې د خپلو ماشومانو معلمین کړو، کوچنیانو ته د قران کریم په حفظ باید جائزې او انعامونه ورکړو، او ضرور ده چې د شاګردانو او بچیانو ترمنځ د قرانکریم په حفظ کې د منافسې او مقابلې فضا جوړه کړو. [۱٤۰]

۳. په لومړۍ مرحله کې باید ده چې ماشوم ته د قرانکریم د حفظ مجال خلاص پاتې شي ترڅو د قران په حفظ کې بذات خود رغبت ولري، دا چې د اخرنۍ سپارۍ سورته واړه دي ښه به دا وي چې پیل له ( عم یتساءلون ) سپارې څخه واچوي ځکه چې د کوچنیانو په ذهن کې یې رسوخ ډېر آسان دي [۱٤۱]، بله ځانګړنه یې دا ده چې د اخري سپارې سورتونه د ایمان په ارکانو مشتمل دي نو په دې سره به یې عقیده هم اصلاح شي او اخلاق هم، بلکې په دې سورتونو سره د کوچنیانو صحت هم خوندي ساتل کېدای شي – ځکه قران کریم کې شفاء ده، دم هم دی او ذکر هم، د الله اضافي لورینه یې لا ورسره دا ده چې ژبه کې استقامت او په خبرو اترو کې بیان هم پیدا کوي.

٤. د تلاوت په اثنا کې باید دقراکریم د هغې حصې مختصره شرح کوچني ته وکړو چې هغه یې په یادولو بوخت وي، تر څو زړه او عقل یې قراني معناګانو ته متوجه وي، دا ګمان باید هېڅوک ونه لري چې ماشوم د قران په تفسیر او شرح باندې نه پوهیږي، د فهم او حفظ په میدان کې ماشوم ځانګړی مقام لري. [۱٤۲]

۵. کوچنیانو ته باید ور زده کړو چې قرانکریم شفا، رحمت او برکت دی، الله پاک فرمايي: [وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ] [۱٤۳]

ژباړه: مونږ له قران څخه هغه څه نازولو چې د مومنانو لپاره شفا او رحمت وي.

خو که څوک قران زده کړي او یا یې یو برخه زده کړي نو ورته به اسانه وي چې د بې تابۍ په مهال ځان او د خپل ماحول نور خلک دم کړي.



# څلورم رکن:
# په پیغمبرانو باندې ایمان...



په پیغمبرانو باندې د ایمان معنا دا ده چې هغوی په خپلو خبرو کې تصدیق کړی شي، که مونږ یې په نومونو پېژنو او که نه خو زمونږ ایمان لرلورباندې واجب دي، په دوی باندې ایمان لرل چې دوی د الله پاک هغه غوره ترین مخلوق دی چې په خپلو نسبونو او قومونو کې یې غوره کړي دي، په دې خاطر چې د نورو په پرتله دوی د عقل او اخلاقو له نګاه پر نورو برتري لرله ترڅو د الله رسالت او پیغام تر خلکو ورسوي، الله پاک فرمايي: [وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ] (١٤٤)

ژباړه: مونږ مخکې هېڅ پیغمبر نه دی استولی مګر د خپل قوم په ژبه مو استولی دی ترڅو دین ورته تشریح او تفصیل کړي.

که پیغمبر علیه الصلاة والسلام چرته ملائک وای نو خلک به یې په خبرو باندې نه ول پوهه شوي، پر مونږ باندې واجب دي چې د پیغمبرانو ترمنځ توپیري چلند ونه کړو، داسې نه چې پر ځینو ایمان او پر نورو ځینو یې کفر وکړو، بلکې په ټولو باندې به یو شېر ایمان څکه لرو چې ګرد په خپلو رسالتونو کې رښتوني دي، خپلو امتونو ته په نصیحت او خیرخواهۍ کې صادقین دي، د الله پاک له پلوه په تبلیغ کې معصوم دي، خو مونږ به یې د اخرني پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم په شریعت عمل کو، په پیغمبرانو باندې د ایمان لرلو د معناګانو له جملې څخه چې باید د کوچنیانو په ذهن کې کېنول شي ځینې یې دا دي:



۱. کوچنیانو ته د دې بیان چې الله پاک په هر امت کې له دوی څخه پېغمبران رالیږلي دي، ایکې یواځې د الله عبادت ته به یې خلک رابلل او د باطلو معبودانو په الوهیت به یې خلک کفر ته دعوت کول، ټول پېغمبران رښتوني، ښه خلک، متقیان، امانتګر او هوښیار او ځېرک هستیاني دي.

۲. کوچنیان پوهول چې له لومړي څخه تر اخره پورې د ټولو پېغمبرانو عبادت د دعوت بنسټ یو دی چې د عبادت په ټولو ډولونو کې عقیدةٍ، قولاً او عملاً الله پاک ایکې یواځې وګڼل شي او له هغه پرته د ټولو باطلو معبودانو په عبادت کفر وکړی شي.

۳. کوچنیانو ته پېغمبرانو د راستولو فلسفه بیانول چې د الله پاک عبادت او هغه یو ګڼل دي، صراط المستقیم ته دخلکو رادعوت کول او په دیني او دنیوي امورو کې د خلکو لاسنیوی کول، له تورتمونو څخه یې رڼاګانو ته راویستل، د امت قیادت کول او د الله پاک شریعتورباندې تطبیقول، له پېغمبرانو پسې اقتدا کول او د هغوی تګلاره خپلول.

٤. د الله په رحمت باندې علم لرل چې هغه پر خپلو بندګانو څومره رحیم دی او خیال پرې کوي چې د دوی د هدایت لپاره یې پېغمبران راستولي دي، کوچنیان د الله پاک دې سترې لورینې ته ځېر کول چې شکریه یې ادا کړي، له پېغمبرانو سره مینه او محبت ولري، ځکه د الله پاک د پیغام د رسولو او بندګانو ته یې د نصیحت کولو د ذمه وارۍ دنده همدوی په غاړه لري، که خلکو ته هرڅومره علم او دانش، عقل او ځیرکتیا ورکړل شي خو د امت د مصلحت او یووالي اړوند استقلال او هر چا ته د خپلو حقونو له ورکړې څخه به پاتې راغلي ول، خو ولې پېغمبران خلکو ته د همدوی لپاره ګټور شیان ورښایي او له زیانمنو شیانو یې رابندوي. (١٤٥)

۵. کوچنیان د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مینه او محبت پالل ترڅو اطاعت یې وکړي او په نقش قدم یې ولاړ شي او تعظیم یې وکړي، په محبت یې د هېڅ مخلوق مینه او محبت پورته ونه ګڼي، له ټولو هغو خلکو سره مینه وپالي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه او محبت لري او له دښمنانو سره یې دښمني وپالي (۱۴۶)، لکه د هغه نوم یاداشت په مهال ورته قدر او احترام لرل او درود وربانديې ویل، د هغه د ښو اخلاقو او فضائلو تذکره کول چې هغه بذات خود عظیم رحمت او ستر شفقت و (۱۴۷)، که د مسجد نبوي په زیارت الله پاک ځوک مشرّف کړي نو د قبر ترخنګ یې عزت او قدر کول چې نزدې ورسره اواز لوړ نه کړي او په احترام یې ترخنګ ودریږی (۱۴۸).

## کوچني ته باید له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره مینه څنګه ور زده کړو؟

۱. هرو مرو باید کوچنی وپوهو چې له نبي صلی الله علیه وسلم سره د الله پاک ډېره مینه ده او پر ټولو خلکو یې ورته بهتري ورکړې ده، ترخنګ یې پر مونږ واجب کړي دي چې مینه ورسره ولرو، کوچنی باید وپوهو چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره مینه او محبت له الله پاک سره په مینه دلیل دی، که څوک له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه ولري نو له الله پاک سره په خپلې مینه کې صادق دی. (۱۴۹)

۲. کوچنیان پوهول چې څنګه په دنیا کې د دین په تبلیغ کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ګرد مخلوق لپاره رحمت دی، همدغسې به د قیامت په ورځ هم د مخلوقاتو لپاره رحمت وي او سفارش به یې کوي.

۳. کوچنیانو ته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خوندور سیرت ځیني برخې لوستل، په دې سره به کوچنی په خپله وپوهیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دګرد بشریت لپاره مثل أعلی او ښه مقتدا دی، باید ده چې کوچني ته د هغه مبارک ځیني معجزات او عظیم اخلاق، له مظلومانو سره ملاتړ او په ناداره خلکو د هغه عطف او حنان، د یتیمانانو سپارښتني او په بې وسو او بې کسو باندې د شفقت بېلګې ور زده کړی شي (۱۵۰)، د دې لپاره ضرور ده چې له ماشوم سره مو په دې تړاو خبرې دومره واضحې او له غموض لرې وي چې د هغه له مستوا سره سمون خوري، او هغه امور ورته توضیح شي چې د ماشوم عقلي مستوا یې مني ترڅو ښه وفهمیږي، د کوچني د مرحلې سره سم باید مونږ د هغه د پوهې په خاطر ټول هغه اوسمهاله رنګارنګ تدریسي وسائل په کار واچو او د چاپیریال او فردي توپیرونه یې په نظر کې ولرو. (۱۵۱)

٤. کوچنی باید په خپل مور او پلار او چاپیریال کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د هغه د سنت او اقوالو تعظیم ووینې، لکه د هغه پسې اقتدا کول او خبره یې منل، په درود شریف باندې پابندي کول کله چې یې نوم یاد شي، د تربیت اغېزناکه وسیله د مور او پلار عملي سلوک دی، د نمونې په توګه که پلار خپله د سنت او نفل لمونځ پابند وي نو خپلو بچو ته ویلای شي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به داسې کول، ځکه د نیکې مقتدا تربیه د کوچنیانو په دروستې تربیه او سلیمې عقیدې کې مهم رول لري، نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خپله قدوه او نېکه نمونه ده باید ګرد مربین او استاذان ورپسې اقتدا وکړي او لارښونې یې عملي کړي سنت یې له خپلو بچو سره په یقیني جامه کې عملي کړي. (۱۵۲)

٥. کوچني ته ځینې هغه حدیثونه ور زده کول چې د اسلامي دین په کمال او جمال، دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په نېکو اخلاقو او د صحابه کرامو د فضیلت اړوند غړېدلي وي، د شخصیت جوړولو او په ایمان او سلوکو کې حدیثونه بې پناه اغېز لري (۱۵۳)، شونې ده چې دا ډول حدیثونه د مسابقې له لارې یاد کړې شي خو چې واړه واړه حدیثونه او د معنا له لحاظه بیخي واضحه وي او په هغه ډول اخلاقو مشتمل وي چې د کوچنیانو له مرحلې سره سمون خوري، دا مهال باید ماشومانو ته د انعامونو او تشویق د اسلوب استعمالولو باید ځانګړې خیال وساتل شي.

٦. کوچنیانو ته د صحابه کرامو هغه واقعې ذکر کول چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم قدر او احترام ورپکې وي او یا پرې غیرت نیولي وي او په ځانګړې توګه د کوچنیانو صحابه کرامو قیصې، لکه د انس رضي الله عنه واقعات چې په کم عمرۍ کې یې په نبي صلی الله علیه وسلم پسې اقتدا کوله، د خوراک لپاره یو خیاط نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته دعوت ورکړ، انس رضي الله عنه وایي : زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوارک لپاره لاړم، خیاط رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وربشې ډوډۍ نږدې کړه ، د غوښې او کدو شوروا هم وه، ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید چې د کاسې په څنډو کې به یې کدو پسې لاس وړو، له دغه ورځ راهیسې مې کدو خوښ دی، ثمامه له انس رضي الله عنه څخه نقلوي: ما به یې مخې ته کدو ورغونډو. (۱۵٤)

مربې او استاذ باید کوچنیان وپوهوي چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د صحابه کرامو ډېره بې پناه مینه وه او ترې قربانېدل به، په دې باب کې بلا نور واقعات هم شته. (۱۵۵)

۷. کوچنیانو ته په دې محبت باندې جائزه ورښودل، لکه له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې یو سړي له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل: قیامت به کله وي؟ هغه ورته وویل: تا ورته څه تیاری کړی دی؟ سړي وویل: هېڅ نه خو له الله او رسول سره یې مینه لرم، هغه ورته وویل: ته به له هغه چا سره مل یې چې مینه ورسره لرې.

انس رضي الله عنه فرمایي: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دې قول چې ته به له هغه چا سره مل یې چې مینه ورسره لرې، مونږ چې په دې څومره خوشحاله شوي یو په بل څه شي نه یو، بیا انس رضي الله عنه وویل: زه له نبي صلی الله علیه وسلم سره، له ابوبکر او، عمر رضي الله عنهما سره مینه لرم، که څه هم د هغوی په څېر نېک عملونه نه لرم خو د مینې له کبله به مې ورسره ملتیا وکړم. (۱۵٦)

۸. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د محبت په اړه له ماشوم په نوښتونو کې مرسته کول، لکه شعرونه لیکل، قصې او واقعې لیکل، خطبه لیکل، مقالات لیکل، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د محبت اړوند مسابقو کې یې په ګډون تشویقول. (۱۵۷)



# پنځم رکن:
# د اخرت په ورځ ایمان..

په اخرت ورځ باندې د ایمان مطلب له مرګ څخه وروسته ژوند باندې، په حساب او کتاب، د صراط پل، د اعمالو تله، جنت او اور باندې ایمان لرل دي، د تمییز له مرحلې وروسته کوچنی د اخرت اړوند د ځینو مسائلو ادراک په خپله کوي، له دې مرحلې وړاندې افضله خبره ده چې باید معلومات ورته په نهایت اختصار ورکړل شي، دا مهال باید ماشوم ته توضیح شي چې یو ژوند بل هم شته دی، الله پاک جنت د مومنانو لپاره او اور یې د کافرانو لپاره پیدا کړي دي. (۱۵۸)

**د اخرت دورځې په تړاو د تربیت مهمې معناګانې چې باید د کوچنیانو په نفس کې کېنول شي دا دي:**

۱. باید ماشوم وپېژني چې له مرګ وروسته به یې الله پاک بېرته راپورته کوي ترڅو د خپلو دنیوي عملونو جزا ووینې، که یې ښه عملونه کړي ول نو ښه بدله او که یې بد عملونه کړي و نو ناکاره بدله.

۲. ماشوم باید وپېژني چې په دغه ورځ باندې الله پاک جنت د کرامت او سعادت او تل پاتې کور پیدا کړی دی، په دې خاطر یې جنت پیدا کړی دی چې خپلو نېکانو بندګانو ته یې بدله ورکړي، او اور یې د کافرانو لپاره تیار کړی دی، دا درس ماشومانو ته جنت او نعمتونو ته د ترغیب په شکل د وړاندې کولو امکان لري.

۳. له ماشوم سره د مرګ مړینې او اخرت په تړاو داسې خبرې اترې کول چې د الله په مغفرت او رحمت او لطف باندې دلالت کوي، دا په دې خاطر چې د کوچنیانو ذهن ته سترې کونګې افکار سرایت ونه کړي (۱۵۹)، ضرور ده چې دا ډول خبرې د ټولو ژوندي حیواناتو بېلابېلو مرحلو ته شاملې وي، خو ولې انسان ورڅخه په دې امتیاز لري چې الله مکلف کړی دی او ټول کائنات یې ورته مسخر کړي دي او د جزا او سزا وعده یې ورسره ایښې ده.

٤. کوچني ته باید بیان کړی شي چې ظلم نه د الله پاک خوښېږي او نه به ظالم بې سزا او مظلوم له انصاف پرته پرېږدي، مونږ د ژوند په اړدو کې وینو چې ځینې خلک ظالمانه ژوند لري او د ظلم په حالت کې مړه هم شي، خو ولې له دې ژوند پرته به هغوی له بل ژوند سره هم مخ شي چې محسن انسان ته به ورپکې نیکې بدلې او بد کار ته به د خپل ناکاره عمل په بدل کې وړ سزا ورکړل شي او هر چا ته به خپل حق ورکړل شي. (١٦٠)



# شپږم رکن:
# په تقدیر باندې ایمان...

په تقدیر باندې د ایمان معنا د الله په کمال علم، په کتابت او په ټول مخلوق باندې د قدرت او د هغه په مشیئت باور لرل دي، کوچنی د خپل کوچنیتوب په مهال نه شي کولای چې د قضا او تقدیر مسائل په سمه توګه فهم کړي، هغه دا مسائل نزدې نهه کلنۍ کې درک کولای شي (١٦١)، خو ولې ضرور ده چې په دې مرحله کې یې ځینې معناګانې او مفاهیم په ذهن کې کېنول شي چې له جملې څخه یې ځینې دا دي:

١. په دې باب کې بنسټ د عبدالله بن عباس رضي الله عنه حدیث دی چې زه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره په سورلۍ شا ته ناست وم راته یې وویل: [يَا غُلَامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَات، احْفَظِ اللَّه يَحْفَظْكَ، احْفَظ اللَّه تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّه، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّه، وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوْ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّه لَكَ وَلَوْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّه عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الأَقْلَامُ وَجَفَّتْ الصُّحُفُ] (١٦٢)

ژباړه: ای هلکه! زه درته ځینې کلمات درښایم – عمل پرې وکړه – د الله لحاظ او خیال وکړه – اوامر یې ومنه او له نواهیو څخه یې ځان وساته – نو الله پاک ستا لحاظ وکړي – له مکروهاتو او ستونزو سترېو څخه به دې وساتي – او چې کله هم مرسته غواړې نه له الله څخه یې وغواړه، په دې یقیني شه چې که ټول امت دې په ګټه او فایده راغونډ شي خو چې الله پاک درته نه وي لیکلې هېڅ ګټه به درته ونه شي رسولای، او که ټول امت درته په ستونزو او سترو جوړولو راغونډ شي نو نه یې شي در رسولی مګر دا چې الله پاک درته لیکلی وي، قلمونه پورته شوي او کتابونه رابند شوي دي.

په بل روایت کې بیا داسې راځي: [احْفَظ اللّهَ تَجِدْهُ أَمَامَكَ، تَعَرَّفْ إِلَيْهِ فِي الرَّخَاءِ، يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ، وَاعْلَمْ أَنَّ فِي الصَّبْرِ عَلَى مَا تَكْرَهُ خَيْرًا كَثِيرًا، وَأَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ، وَأَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ، وَأَنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا] (١٦٣)

ژباړه: د الله پاک خیال وساته خپلې مخې ته به یې ووینې، په نعمتونو کې الله پاک ته ځان ور وپېژنه هغه به دې په سختیو کې وپېژني، پوهه شه چې په ازمېښتونو باندې په صبر او حوصله کې ډېر اجر دی، مرسته او کومک له صبر او زغم سره وي، اساني له سختیو سره وي، او له هر ډول تنګدستۍ سره بلا سهولتونه وي.

دا نبوي حدیث د ښو او ارزښتناکو توجیهاتو لپاره له نبي کریم صلی الله علیه وسلم له پلوه ستره سرچینه ده چې خپل امت یې په اسلامي عقیدې باندې د ماشومانو روزلو ته تنبیه کړې دی. (١٦٤)



.٢ د ماشومتوب په دې مرحله کې له هغه سره د قضا او قدر مسئلو له خېړلو څخه ډډه کول، ماشوم ته باید دا مهال د الله پاک د وسیع علم د هغه قدرت او په خپل مخلوق یې احاطه او د انسان د حریت له ثبوت سره د الله پاک د مشیئت اړوند باید معلومات ورکړل شي، او پوهه شي چې انسان په اختیاري افعالو کې مجازات کیږي، خو که د کوچني ذهن په دې مسئلو مشغول شي او په خپل واک کې یې واخلي ضرور ده چې باید مسائل ورته د توان په اندازه داسې توضیح شي چې د ماشوم له ذهنیت سره سمون خوري.

.٣ کوچنی په دې تربیه کول چې له الله پرته له بل چا څخه هېڅ هم ونه غواړي او مرسته و کومک له یو الله څخه وغواړي، په دعاګانو کې الله پاک ته متوجه وي او په الله پاک باندې توکل او بروسه وپېژني، باید ده چې د الله پاک په تقدیر او قضا باندې د صبر او زغم زده کړه وکړي.

.٤ کوچنی باید پوهه کړی شي چې الله پاک ورباندې له خیرته پرته بله اراده نه لري او هرومرو به ورته په دې زندګۍ کې د الله پاک تقدیر ور رسیږي، بیا به یې نفس هېڅ چا ته جزع او فزع نه کوي، د الله پاک د تقدیر له سترو ستومانیو سره به په خوشحاله نفس مواجه کیږي، او دا به یې یقین وي [قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا] (١٦٥)

ژباړه: ورته ووایه چې نه رارسیږي مونږ ته مګر هغه چې الله پاک راته لیکلي وي.

۵. کوچنی باید پوهه شي چې ټول امور د الله پاک په لاس کې دی، هغه څه به کيږي چې د الله خوښه او اراده وي، هغه په خپل ملکیت کې مطلق تصرف لري، دا لړې یې له الله پاک سره اړیکه لا پسې تقویه کوي، له دې وروسته یې امېدونه او هیلې ټولې له الله سره وتړل شي.

۶. په تقدیر باندې د ماشوم ایمان لرل هغه ته د زړه اطمئنان او توازن وربښي، کله چې مومن وپوهیږي چې د ده اړوند هر ډول د خیر او شر پرېکړې د همده لپاره خیر دی دا یې د نفس په داخل کې داډ او اطمئنان لاپسې تقویه کوي، دا مهال کوچنی او ماشوم د الله پاک تقدیري مسائل خیر او که شر وي په پراخه سینه استقبالوي، او په ډاډمن زړه او ارام ذهن د الله پاک امر ته تسلیم وي (۱۶۶)، څوک چې د الله په تقدیر ایمان ولري د مصیبتونو او ازمېښتونو په مهال هېڅ ډول جزع او فزع نه کوي، بلکې له صبر او حوصلې څخه کار اخلي او د لومړي پړاو سره پرې زغم بلا ثواب او ډېر اجر ګټي، الله پاک فرمایي [الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ * أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ] (۱۶۷)(۱۶۸)

ژباړه: کومو خلکو ته چې ازمېښت او کړاو واوړي او هغوی (إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ) ووايي نو په دوی هم د خپل رب له پلوه رحمتونه وي او په هدایت باندې روان هم دي .

۷. باید ده چې هغه ډول واقعې او قیصې ورته واورول شي چې په چا باندې د الله تقدیري ازمېښتونه راغلي وي او ده ورته سینه تنګه کړې وي، بیا وروسته پوهیدلي وي چې همدغه شر ورله د الله له پلوه خیر او برکت و، چې د ژوند حالت یې ښو چارو ته تغیر وخوړ.

۸. په تقدیر باندې د ایمان نچوړ دا دی چې الله پاک په هر څه باندې جملةً وتفصیلاً علم لري، تر قیامت پورې د ټول مخلوق تقدیرونه الله پاک د خپل علم له مخې په لوح محفوظ کې لیکلي دي، په کائناتو کې د تغیرات ایکې یواځې د الله پاک د مشیئت او تخلیق له مخې کیږي.






# د کوچنیانو له پوښتنو
## وړاندې تمهيدي کلمات...

الله پاک کوچنیان داسې تخلیق کړي دي چې له پوښتنې سره مینه لري، په دې خاطر چې خپل عقل د امکان په صورت کې په معلوماتو وخړوبوي، د کوچنیتوب مرحله څکه د پوښتنو مرحله شمېرل کیږي چې د کوچني دا مرحله له بلها پوښتنو څخه جوړه ده (۱۶۹)، ماشومان پوهیږي چې دوی له ځان چار چاپیره شیانو په اړه کره معلومات نه لري خو له دې کبله چې جهالت ډار زږوي نو د خپل زیار په اندازه هغوی پوهې او دانش ته ځان ټیل باسي، مونږ ګورو درې کلن کوچنی به مور او پلار او مشرانو وروڼو څخه لسګونه پوښتنې لري، او یقیني ده چې د دوی ځوابونه د کوچني په نفسیاتو باندې اغېز لري، په دوامداره توګه یې په دې دلیل چې یوه پوښتنه یې بېلابېل اسلوب لري له یو حال څخه یې بل ته اړوي (۱۷۰)، تاسو به له ماشوم څخه دا ډول پوښتنې د تل لپاره اورئ: دا ولې؟ د دې ځای چرته دی؟ داسې ولې وشول؟ دا له کومه راغی؟ دا څه شی دی؟ دا څه چل دی؟ ایا ته یې پېژنې؟

کوم شیان چې یې انتباه ځان ته راړوي نو کوچنی د هغه په تړاو پوښتنې لري او خوښه ګڼي د سترګو لیدلی حالت او غوږونو اوریدلي شیان په خپل فهم کې راولي، خو ولې کله په ځواب وپوهیږي او کله پرې ونه پوهیږي، کله ځواب ته ډېر وخت خاموش پاتې شي او کله خاموشي ماته کړي. (۱۷۱)



کوچنیان له ځان پوهنې سره ځانګړې مینه لري، او کله یې چاپیریال په علم او دانش کې مثبت اغېز ولري او نورې هغه موقعې چې کوچني ته مهیا وي، له دې کبله یې د ماشومتوب او هلکولۍ په مهال پوښتنې مقارنه کول مونږ هم حیران دریان کړي، لامل یې یواځې د زمان او مکان اختلاف او علمي پرمختګ دی، او په دې کې شک نشته چې مربین کوم اسلوب له کوچنیانو سره خپلوي د پوښتنې دائره ورته لا پراخوي او یا یې بیخي له منځه وړي، که کوم مربي ماشوم ته د پوښتنې مجال پراخه پرېږدي او فرصتونه ورکړي نو د خپلو ځانونو اړوند لا پسې ژور ولاړ شي، خو که څوک یې پوښتنې ښې استقبال نه کړي، یا یې بیخي وانه وري او یا پرې لوړ غږونه وریورته کړي نو هېڅ کوچنی به ورڅخه پوښتنې ونه لري [۱۷۲]، سره له دې چې په دې کې مونږ تر اتفاق رسیدلي یو چې د ماشوم لپاره په دې کې هېڅ مصلحت نشته چې په هر څه دې پوهه او دانش ولري، خو ولې دا ډېره مهمه ده چې باید د خپل ژوند ژواک په تړاو د هغو پوښتنو په هکله ډار محسوس نه کړي چې په ژوند یې اغېز لري، دا ډېره مهمه ده چې کوچنیان ونه پوهیږي چې دوی غیر حاضر و او یا باور ورن نه دي، بلکې له دې څخه ډېره مهمه دا ده چې دوی په پوره ډاډ او اطمئنان له خپلې کورنۍ سره خبرې اترې کوي. [۱۷۳]



# له کوچنیانو سره
# د ډېرو پوښتنو لاملونه

کولای شو چې د کوچنیانو د ډېرو پوښتنو اړوند لاملونه په راروانو نقطو کې منحصر کړو:

۱. د علم او دانش په تړاو د کوچنیانو رغبت، ترڅو د خپلې عقلي ودې اړتیاوې پوره کړي. [۱۷٤]

۲. له کوچنیانو څخه د ارد ګرد شیانو په تړاو د علم او دانش اړتیا.


۳. د سابقه معلوماتو د نه شتون له کبله له ځینو شیانو څخه د کوچنیانو خوف او ډار، د نمونې په توګه: له ځینو حیواناتو څخه د کوچنیانو ډار که څه هم سره نه وي ټکر شوي، له دې کبله یې اړوند پوښتنې هم ډېرې لري ترڅو ډاډ او امان ترلاسه کړي.

٤. د کوچنیانو لغوي قاموس کې پراختیا، کله چې هغه پرله پسې پوښتې ولري، نو د پوښتنې ځواب ته به دومره اړتیا نه لري لکه څومره چې د لغوي استعمال او د خپل توان په اندازه اجتماعي مشارکې ته اړتیا لري.

٥. د پلارانو او بچو ترمنځ د وجداني مشارکې او خواله (تواصل) فرصتونه شته کېدل.

٦. د کوچني په خپل ځان او مور او پلار باندې باور، او د هغه په قدر او احترام کې وده او پرمختګ. (١٧٥)

# د ماشومانو
# د پوښتنو طبیعت



په دې خاطر چې د کوچنیانو پوښتنې په سمه معنا درک کړو باید ده چې مونږ لغوي او عقیدوي او نفسي پوښتنې سره توپیر کړو، د لغوي پوښتنو په مهال کوچنیان کوښښ کوي چې یو شی بذاته وپېژني او یا بذاته د یو شي اړوند معلومات ورکړي، خو ولې په دوهم ډول پوښتنو کې یې نفسي ډاډ باعث وي چې بحد ذاته جواب یې موخه نه وي، ضرور ده چې مونږ یې له بنسټیز حقیقت څخه متاکد یو چې دغه پوښتنې دلالت غوځ دریځه دی، تر هغه مونږ د کوچنیانو د پوښتنو ارزښت نه شو پېژندلو، نه یې په فهم کې راوستلی شو او نه یې معنا تحدیدولی شو ترڅو مو هغه لامل نه وي پېژندلی چې کوچنیان یې دغه ډول پوښتنو کولو ته اړل کړي وي، پوښتنه په خپله ذاتاً دومره ارزښت نه لري خو ارزښت له هغه طبیعي موقف څخه اخلي چې له ماشوم ارد ګرد وي، له دې کبله **د کوچنیانو پوښتنې درې خورا مهم تکویني اړخونه لري:**

١. د ماشومانو د نفسیاتي توازن تحقیق: ځکه د ماشومانو د بلها پوښتنو سرچینه نفس خپله وي.

٢. استنباطي غور او سوچ: کله چې ماشوم د هغو معلوماتو په مټ چې دا یې لري او یا ورسره اړیکه لري زیار اوباسي چې نور نوي معلومات ترلاسه کړي.

٣. په ارد ګرد چاپیریال او د ژوند اړوند چارو باندې ځان خبرول، لکه اخلاقي او سلوکي خویونه چې د کوچنیانو چاپیریال په داخل کې وي. (١٧٦)



# د کوچنیانو
# د پوښتنو ډولونه



ګټوره به دا وي چې مونږ د کوچنیانو پوښتنو ته له پلې زاویې څخه وګورو، د زاویې له پېژندلو سره پوښتنې توپیر خوري، مونږ کولای شو چې د ماشومانو دا ډول پوښتنې راروانو ډولونو ته تقسیم کړو:

۱. **لغوي پوښتنې**: د نمونې په توګه: دا ولې د دې شیانو نومونه دي؟ مونږ یې په نومونو کې تغیر ولې نه شو راوستلای؟ مونږ د بلې ژبې ایجاد ولې نه کو؟

۲. **وجودي پوښتنې**: د بېلګې په توګه: مونږ له کومه راغلي یو؟ چرته به ځو؟ بچیان څنګه دنیا ته راځي؟ مرګ ولې راځي؟ نړۍ څه ته ویل کیږي؟...

۳. **تمردي پوښتنې**: دا ډول پوښتنې د ماشوم له فکر څخه څرخیږي د بېلګې په توګه: د مسائلو اجازه مونږ ته ولې نه راکړل کیږي چې مشرانو ته ورکړل کیږي؟ دا ډول پوښتنې د سوال په صورت کې دومره نه وي لکه د مشرانو د تقلید هومره چې څومره وي.

۴. **ازمیښتي پوښتنې**: دا ډول پوښتنې هغه وي چې ماشومان د خپل کور والاو څخه د انتقاد او اعتراض په شکل کوي چې کله ورپکې کمزورتیا احساس کړي، دا ډول پوښتنې زیات وخت کې سرچینه د کوچني د دوستانو د کورنیو څخه راپورته کیږي، او غالبا د کورنۍ مالي لګښتونو او یا د بدن او تنې څخه څرخیږي.

۵. **د کوچنیتوب اضطرابي پوښتنې**: دا ډول پوښتنې اکثره د کوچني د پراخه احساس له مخې وي، او زیاتره پوښتنې یې بیا د کورني غړیو د سفر او غیاب په مهال راپورته کیږي او یا دا چې ځینې یې له ځینو راجلا او مستقل شي.

۶. **د تنې په تړاو پوښتنې**: د دې ډول پوښتنو په سر کې هغه پوښتنې راځي چې ماشوم یې د مذکراو مؤنث جسدونو ترمنځ توپیرونه احساسوي ترڅو خپل علم کې زیادت راولي.

باید ده چې په دې پوښتنو کې د کوچني کورنۍ له ماشوم سره مرسته وکړي او د پوښتنې یې داسې ځواب کړي چې ښه شالید ولري، هغوی پوښتنې دپوښتنې په نوم نه کوي، بلکې په نفس کې داخلي باعث لري چې له کبله یې پوښتنې کولو ته اړ کړي. (۱۷۷)

## مور او پلار د کوچنیانو په پوښتنو ولې ځان نانګاره کوي؟!

د کوچنیانو پوښتنې مهملې پرېښودل اویا ورڅخه ځان نانګاره کولو معنا دا نه ده چې یا یې پوښتنې بې ارزښته دي او یا یې پوښتنې ته ځواب نه مومي، دا نور لاملونه لري چې مهم یې په دې توګه دي:

۱. کله چې مشران د کشرانو پوښتنې نا اشنا وګڼي، جدي یې وانه اخلي او په حقارت ورته وګوري، دا د دې لامل دی چې مشران د کشرانو د پوښتنې بې ارزښته کړي او یا ورته بیخي التفات نه کوي، په دې سره لویان د خپلو کوچنیانو حقوق د خپلې ځانګړې اند له مخې غوبل کړي چې ډېر بسط او واضح وي، د لویانو دغه کړنه – چې د کوچنیانو پوښتنې بې ارزښته پریږدي– هغه عقلي ځواک دی چې همدوی پرې ځانونه مسلط بولي، نفسي موخې تر لاسه کول خو لاپریږده چې په ځینو دریځونو کې یې له لاسه ورکړي خو ولې د کوچنیانو د علم او دانش اړوند ساده پاده له صادق رغبت سره پوښتنې هیرې او تیرې کړي.

۲. چې د لویانو له پلوه د کوچنیانو پوښتنو ته ځواب ویل ګران وبریښي، د بېلګې په توګه چې د کوچني پوښتنه د چاپیریال او یا د اخلاقي محرماتو اړوند وي په داسې حالت کې چې دغه یې باید په مناسب عمر کې ځواب شي، د ماشومانو دا ډول درانه سوالونه ګرد لویان حیران دریان کړي، لویانو ته په داسې دریځونو کې په کار دي چې د کوچنیانو پوښتنو ته پوره چمتو والی ونیسي.

۳. د کوچنیانو زیاتره پوښتنې د لویانو له پلوه د بې ارزښته کولو نور لاملونه هم کېدای شي، خو که لویان د کوچنیانو د پوښتنو اهمیت او ارزښت له نفسي ناحیې څخه ادراک کړي شاید د ځواب دریځ یې بدل شي چې هغه ماشومانو ته تشجیع ورکول دي ترڅو خپلې پوښتنې په کثرت سره وکړي لکه دوی چې د اوریدلي اواز اړوند غور سوچ ورې وي.

۴. د هغو لاملونو له جملې څخه چې لویان د کوچنیانو پوښتنې بدې نه ورې دوی ته مناسب التفات او اهتمام دی، ځکه د کوچنیانو دغه پوښتنې په ضمني شکل راځي خو ولې مباشرې پوښتې نه وي.

۵. کله مور او پلار د کوچنیانو پوښتنو ته له ځواب څخه ځکه تښتي چې کوچنیان کوم علم او معرفت غواړي مور او پلار يې پرې جهالت لري، مونږ ويلای شو چې : تاسو بايد د خپلو کوچنيانو بچو پوښتنو ته د ځوابونو لټه وکړئ، او دوی په پوره امانت او صداقت سره وخبروئ. (۱۷۸)

٦. د کوچنيانو پوښتنې کله بې ځوابه ځکه پاتې شي چې پوښتنې يې له عقلي قدرت څخه باندې وي او ځوابونه يې هم داسې وي چې ستره پيچلتيا لري، په دې مور او پلار فکر يوسي چې کوچني يې دې پوښتنې ته لاره ښنګه پيدا کړه؟(۱۷۹) له دې کبله يې پوښتنه ځکه بې ځوابه پريږدي.

## مور او پلار بايد بچي له پوښتنو سره څه ډول تعامل وکړي؟

د مور او پلار واجب جوړيږي چې د خپلو بچو پوښتنو ته سم صحيح ځوابونه ووايي، د ايمان په تړاو بايد مور او پلار له کوچني سره د خبرو اترو فضا جوړه کړي او د دين په تړاو چې ورسره څومره افکار او اندونه دي بايد د خبرو اترو له لارې ورسره مرسته وکړي، تر څو د دين صحيح فهم، قناعت او ډاډ په کې راپورته شي، په دې سره په کوچنيانو کې هغه ديني مساوات شته شي چې افراط او تفريط دواړه نه لري (۱۸۰)، په مور او پلار لازم نه دي چې هرومرو دې د کوچنيانو ديني پوښتنو ته ځوابونه ولري، بلکې دا پرې لازم دي چې خپل کوچنيان د ايمان ارکانو په علم



او معرفت راوتوکوي چې په الله پاک باندې د غښتلي ایمان سره ځوانان راغټ شي، خو ولې دا بیا ډېره خوندوره ده چې مور او پلار خپل مشران بچي د کوچنیانو پوښتنو په لیکلو مجبور کړي، هغه به دا دنده ډېره ښه استقبال کړي او په ځانګړي توګه بیا هله چې اهتمام او تشجیع څخه برخمن شي، د دې په ترڅ کې کوچنیان له دې څخه خوند په دې هم اخلي چې لویان د کوچنیانو په نفسونو کې د پوښتنو ارزښت کېنوي نو ځکه به پوښتنې کولو ته زړه هم ښه کړي، یواځې دا نه بلکې په دې سره مونږ د دوی په نفسونو کې د خپلو بچو پوښتنو ته په ارزښت ورکولو هم بلا اهتمام کولی شو کله چې دوی خپله پلاران او میندې جوړې شي، له بل پلوه مونږ سره به پوښتنې راجمع کېږي چې په اسانه به یې ځوابونه ویلتلی شو، د کوچنیانو پوښتنې ځوابولو سره به هغوی وکولی شي چې د خپلو ورونو او خویندو پوښتنو ته سم دم ځوابونه ورکړي، که مونږ د کوم کوچني پوښتنې ته بروقت ځواب ورکړو ځومره به خوشحاله شي، د کوچنیانو پوښتنو ته ښه ځوابونه ورکولو سره د الله په اذن زمونږ او دهغوی ترمنځ اړیکې لا تقویه کېږي او کوچنی به پوهه شي چې د معرفت او دانش لومړی مصدر یې مور او پلار دي چې په خپل مستقبل کې به په همدوی باور لري، د دې بدل کې چې معلومات له مشکوکو ځایونو راغونډ کړي او په ځانګړي توګه د مراهقی او زلمیتوب په مهال. (۱۸۱)

یوه بله نقطه چې باید مور او پلار ورته متوجه وي د ماشومانو د پوښتنو ترمنځ توپیر دی.

لومړی: له هغو پوښتنو څخه ستړیا محسوسول چې ماشومان یې تکراراً کوي او کله همدغه پوښتنې د کورنۍ له مختلفو افرادو څخه هم کوي چې ورڅخه نورې پوښتنې زېږېږي.

دوهم: عرضي او جانبي پوښتنې، که چرته یې مونږ تفصیلي څېړنې ته مخ واړو نو شاید د کوچني د پوښتنې ځواب راڅخه پاتې شي، دا ښه خبره نه ده چې پوښتنې یې د تجاهل له کبله بې ځوابه پرېږدو، باید ده چې د ځواب په ورکولو کې یې زیار اوباسو او سمه پلټنه یې وکړو، او یا د هغه چا اړوند پوښتنه وکړو چې پوښتنې ته درست ځواب ویلی شي او حالانکه دا تربوي ښه ابعاد لري، خو که د کوچني پوښتنې داسې ډول وي چې پرېښودل یې له دې کبله وي چې هغه یې په ځواب نه پوهیږي نو هېڅ باک نه کوي.



# د کوچنیانو له پوښتنو سره
# د چال چلند طریقه کار

د کوچنیانو پوښتنو ته د ځواب په مهال باید ځینو قاعدو او قانون ته مور او پلار ژمن وي او ځانګړی خیال پرې ولري: ځینې یې دا دي:

**۱.** د احترام قانون، کله چې مور او پلار د کوچني پوښتنې ته غوږ کیږدي نو ته دا پیغام ورکوي چې مونږ دې په غم او خفګان کې شریک یو، د هغه پوښتنو ته د احترام له مخې د کوچني نفسیات او توازن ډېر ښه وي نو ډاډ او اطمئنان ولري، په دې سره د ماشوم په نفس کې باور رامنځ ته کیږي او هغه ته خپلې پوښتنې ډېرې دقیقې ښکاري او د خبرو اترو په جریان کې منطقي تتابع هم رامنځ ته کیږي.

**۲.** د باور او نه رټلو قانون، کوچنیان چې کله هم پوښتې وکړي باید ځواب ته یې مور او پلار له دقت څخه کار واخلي او مشهور او معروف لغوي مفرداتو په استعمال کې ځواب ورکړي، او د علم په صحیح چوکاټ کې ورته معلومات ورنزدې کړي، په پای کې د رښتوني ځواب په ورکولو سره د کوچني په نفس کې باور او نفسي اطمئنان راځي.

**۳.** په کوچنیانو کې د داخلي اسبابو د معالجې قانون، د کوم دریځ له سیاق څخه چې کوچنیان د ژوند سرچینه اخلي ورڅخه موخه ده، د بېلګې په توګه: کله چې په کورنۍ کې ماشوم پیدا شي نو د لړزې په حالت کې هرومرو ماشوم پوښتنه لري؟ دا کوچنیان له کومه راځي؟ اوس د ماشوم د پوښتنې او اضطراب حالت هېڅکله علمي ځواب ته اړتیا نه لیدل کیږي ترڅو یې هغه داخلي دوافع او اسباب وڅېړل شي چې ماشوم یې دغه ډول پوښتنې ته اړ کړی دی، او باید ده چې ځانګړې اهتمام پرې ولرل شي. (۱۸۲)

غوره شیان چې لویان یې کشرانو ته ورکوي د هغوی عقلي انارت او روښنایي ده، نه یواځې دا چې د صحیحو او دروستو قیصو او واقعو حکایاتو له مخې یې ذهن رڼا کړي، ضرور ده چې عقلي قوه یې په سوچ غور کولو باندې روښانه کړي، مشورې ورڅخه وغوښتل شي او د ظاهري امورو په علم او دانش باندې د بسیا عادت یې له منځه یوړل شي، باید دوی مجبور شي چې له دغو ظاهري معناګانو چې دوی یې پېژني تر شا څومره باطني ګټې او فایدې پټې پناه دي (۱۸۳)، له دوی سره باید ګډوره مشارکه مناقشه شي او خبرې اترې پکې تبادله شي (۱۸٤)، مور او پلار هم باید پوښتنې وکړي ترڅو د کوچنیانو تفکیري اړخ وده وکړي.

شونې ده چې له پوښتنو ځخه جوابونه توظيفي لوی صورت ولري، مور او پلار باید له کوچني ځخه وغواړي پوښتنې ورځخه وکړي او یا ورځخه پوښتنې د کورني افرادو په اجتماع کې وکړي، خو که پوښتنه عادي وي باید ټولو ته د ځواب مجال خلاص پرېښودل شي چې نه ورسره ماشوم حساسیت ولري او نه سوال ډېر ژور وي، د پوښتنې له سادګۍ ځخه یې باید مشران ورورنه تمسخر او استهزاء نه کړي، که مجلس کې دغه ډېر تعامل منځ ته راشي ضرور ده چې پلار د ماشوم اړخ ونیسي او جرأت یې وستایي او مطرح کړي چې دی ډول پوښتنو ته مونږ ډېره اړین یو، او د الله پاک دا قول وریاد کړي [وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا] (۱۸۵)

ژباړه: او تاسو نه دی درکړل شوی مګر ډېر لږ علم درکړل شوی دی.

**د کوچني پوښتنې ته له اجتماعي ځواب ځخه به مونږ وکولای شو چې خپلې موخې ترلاسه کړو.**





# د خبرو اترو په شکل کې
# د ماشوم تربیه

سوال او ځواب د کوچنیانو د تربیې لپاره ډېره ښه طریقه ده، ځکه په دې سره ژبه روانېږي د زده کړې او تحصیل ملکه یې وده کوي، پوښتنې او ځواب د تحصیل او زده کړې ملکه تر انسان رانږدې کوي او موخې ترې په اسانه تر لاسه کېدای شي (۱۸٦)، ضرود ده چې د مکالمې په دوران کې کوچنی خپل کرامت او عزت احساس کړي او په همدې سره ماشوم د لړزې او احساس کمترۍ څخه وځي او ټول نفسي موانع ماتوي او د ډار ثقافت رنګوي، خو که د مکالمې او مناقشې په جریان کې کوچنی نفسي راحت او ډاډ احساس کړي نو له خپل محاور او مناقش سره به خپل ټول زیار په کار واچوي او ترمخ یې پرتې ستونزې او سترپا به په سمه توګه وګالي، خو که طرفین د خپلو مشکلاتو په تړاو صریح وګړیږي نو کوچنی به هم ما في الضمیر په ډېر صراحت ظاهر کړي نو حل ته به په اسانۍ رسیدګي وکړای شي او د خوښۍ په کامله بڼه به بریالیتوب شته شي (۱۸۷).

له ماشوم سره د مور او پلار حوار ګڼ شمېر ګټې لري چې له جملې څخه یې دا دي:

**پېژندګلو:** د کورنۍ نورو غړو ته به هم ماشوم په دې سره بلا نږدې شي.

**مینه او محبت:** په حوار او مکالمې سره د کورنۍ غړیو ترمنځ مینه او محبت لا وده کوي او یو بل ته سره نور هم نږدې کیږي.

**نرمي او لطف:** د دې مطلب دا دی چې له حوار څخه به زمونږ موخه رسمي فضا جوړول نه وي، بلکې موخه به ورڅخه حقیقي حوار وي ترڅو د نرمۍ او مهربانۍ خوږه فضا رامنځ ته شي. (۱۸۸)

**له تېرې څېړنې څخه مو زده کړل چې له ماشومانو سره د خبرو اترو عملیات ځانګړتیاوې لري چې ځینې یې دا دي:**

۱. دا ډول عملیات کوچنیانو کې د حقایقو پلټلو د فکر او غور ازادي ورکوي، په دې سره د کوچنیانو نوښتونه او شخصیت دواړه وده کوي.

۲. د خبرو اترو دا ډول عملیات ډېر اسان طرزه دي او له کوچنیانو سره پټې ښه رویه هم کېدلای شي او له خجالت او شرم پرته پټې ماشوم ښه ګډنوال هم جوړیږي.

۳. دا ډول عملیات د کوچنیانو په نفسیتونو کې خوښي رامنځ ته کوي او په خپل نفسي ارزښت یې پوهوي، له دې لارې همدا کوچنی کولای شي نورو کوچنیانو ته ښوونه وکړي.

۴. دا ډول عملیات کوچنیانو ته په مسقبل کې د روڼ اندۍ پوره موقعه ورکوي، هغه بیا خپل امور له بېلابېلو اړخونو څخه څېړي او منطقي سوچ فکر یې عادت ګرځي.

۵. دا ډول عملیات د کوچنیانو انتباه بیداروي او احساس کمتري یې له منځه وړي (۱۸۹)،



# د مکالمې لپاره
# د پوښتنو جوړولو

شونې ده چې په کوچنیانو رنګارنګ پوښتنې وکړو چې له جملې څخه یې ځینې دا دي:

- (**څه کېږي او څه روان دي؟**) دا ډول پوښتنې کوچنیان په بحث او پلټنې مجبوروي ترڅو د کوچني په چاپېریال کې د سترګو لیدلي حالات په خپله وڅېړي.
- ( **ته څه غواړې؟** ) دا ډول پوښتنې یې شخصي اړتیاوې رابرسیره کوي.
- ( **ولې داسې کوې؟** ) دا ډول پوښتنې له ماشوم سره د ازاد فکر مرستندویه وي او پوښتنې ته د ځواب ورکولو هوډ پیدا کوي.
- ( **داسې ولې کېږي؟**) دا ډول پوښتنې یې له ظاهري امورو څخه صرف نظر ته اړ باسي او مجبوره وي یې چې له لاملونو اړوند یې پلټنه وکړي، د شیانو ترمنځ د اړیکو اړوند خپله شننه پیل کړي.
- ( **که داسې وشي مونږ به څه کو؟** ) دا ډول پوښتنې کوچنیان د ژوند په چارو کې نظر ثاني ته اړ کوي.

کومې پوښتنې چې له کوچنیانو څخه کېدای شي بلا تنوع لري خو ولې د تربیت اړوند هغه پوښتنې چې که په حواري شکل له کوچنیانو څخه وشي نو خپل ثمرات به ورکړي په دې ډول دي:

۱. د امکان په صورت کې باید پوښتنې کوچنۍ وي.

۲. باید ده چې پوښتنې بيخي واضحه او محدودې وي.

۳. ضرور ده چې پوښتنې د کوچني له عمر او هغه چاپیریال سره سمون ولري چې کوچنی پکې هستوګن دی او د زمان او مکان سره موافقې وي.

۴. پوښتنې باید داسې نه وي چې د خطا او رسا دواړه اړخونه لري، پوښتنې باید داسې شکل ولري چې د کوچني د ذهن کنارې توسیع کړي او حرکت ورکړي، ترڅو کوچني ته د ځواب لپاره مجال مفتوح پاتې شي. (۱۹۰)





# د ماشومانو پوښتنو ته
# د ځوابونو اسلوب



له تېرې څېړنې څخه مو د پوښتنو ډولونه، د پوښتنو صيغې او کلمات او دې ته ورته معلومات زده کړل، دلته به د ځوابونو اړوند ګړېږو چې د ظروفو او زمان او مکان په تغيير سره د پوښتنو ځوابونه مختلف راځي چې خورا مشهور ځوابونه يې په دې توګه دي:

۱. **مباشر شفوي ځواب:** خورا زيات او مشهور هم همدا ډول ځوابونه دي چې کوچنی پوښتنه وکړي او کورني غړي يې پوښتنه په فوري توګه شفاهةً ځواب کړي، دا ډول ځوابونه غالباً توند او لنډ وي.

۲. **په ورو ورو قيصو سره ځواب:** پوښتنو ته په ځواب ورکولو کې دا طريقه غير مباشره ده، دلته قيصګی له پوښتنې سره بيخي سمون خوري او دا ډول ځواب ماشومانان هم پسند بولي او ځواب يې هم په ډېره مينه باندې اوري.

۳. **انځوريز ځواب:** ځينې وخت کې کوچنی پوښتنه وکړي خو ځواب ته يې د ځينو توضيحي اشکالو او تصويرانو اړتيا وي، نمونې يې هغه علمي پوښتنې دي چې د معرفت او دانش لپاره رئيسي سرچينه وي او په ځانګړې توګه چې تصويران رنګونه هم ولري.

٤. **نظري ځواب:** کله کوچنی داسې پوښتنه وکړي چې ځواب يې عملي بڼه لري نو ضرور ده چې د ځواب ځای ته بوتلل شي ترڅو واقعيتونه ووينې او خپله پوښتنه بېرته خپله ځواب کړي، د بېلګې په توګه کله چې ماشوم د چاپېريال د حيواناتو اړوند پوښتنه وکړي چې دوی څنګه ژوند کوي؟ او څه خوري؟ او په کوم شکل ډېرښت پيدا کوي؟ (۱۹۱)



# د ځواب په مهال عمومي سپارښتنې
# چې باید ځانګړې خیال يې وساتل شي

**۱.** د مناقشې، د پوښتنې او توضیح په خاطر د قناعت ورکولو کلک حرص وکړه خو چې په تلقیني اسلوب هېڅ باور ونه لرې، کله چې له ځواب څخه اوزګار شو باید ارزیابي کړو چې ایا ماشوم ته مو د ځواب په مهال داسې قناعت ورکړې دی چې هغه پرې خوشحاله وي؟

**۲.** د ځواب په مهال باید ته رښتونی يې او له خپل کوچني سره درواغ مه وایه، باید حرص ولرې چې د خپل کوچني معلومات دې ناسم نه وي، که خبره هر څه وي خو د ځوابونو واقعیت او صحت په تا باندې ستا د ماشوم د باور ښه مدار دی.

**۳.** زیار اوباسه چې ځوابونه دې مختصر وي ترڅو فهم ورڅخه اسان شي او د کوچنیانو له ذهنیت سره سمون وخوري، له غموض او پیچلتیا څخه ډه ډه وکړه چې د کوچنیانو ذهن تشویش کې اچوي، باید زیار اوباسې چې کوچنیانو ته په دې دلیل ناقص معلومات ور نه کړئ چې ماشوم لا هم ماشوم دی او د صحیح فهم ادراک نه شي کولای، ځکه چې دا معلومات د هغه په ذهن کې کرښه کيږي. (۱۹۲)

**٤.** هېڅکله له خپل ماشوم سره د غیبي په نوم کردار مه کوه، که ته لږ اسلوب ښایسته کړې نو کولای شې چې هغه ته معلومات انتقال کړې، باید زیار اوباسې چې له تحریف او بدلون پرته د ماشوم پوښتنه په فوري توګه سمه دمه ځواب کړې، ترڅو له مضمون څخه بهر د ماشوم ذهن نوره حیرانتیا لاهو نه کړي.

**۵.** که کوچنی هر ډول پوښتنه ولرې خو چې نه يې ورټې او نه وريسې تمسخر او استهزاء وکړې، بلکې ذهن يې داسې جوړ کړه چې ته يې پوښتنې هر کله ځوابولو ته چمتو يې (۱۹۳)، ځکه له ماشوم پسې برېقا خندا په هغه کې هم د معرفت د مینې کچه ټيټوي او هم يې په ځان باندې باور له منځه ورکوي.

**٦.** د خالق پروردګار اړوند د ماشوم له پوښتنو څخه مه لړزیږه چې دا خو د وجود اړوند له تصور څخه ډېر قاصر دی! او مه يې پوښتنو ته له ځواب څخه تخښته، ځکه دا ډول کردار هغه مجبور وي ترڅو خپلو پوښتنو ته ځواب په نورو مصادرو کې ولټوي.

۷. د ځواب لپاره هغوی ته مهلت ورکولو کې باید هېڅ تردد ونه کړي، که د شناند په توګه هغوی ته ځان ورمعرفي کړې له دې څخه به بهتر وي چې د علم او معرفت له دعوې سره ورته جاهل معرفي شې، دا هېڅ عیب او خو نه ده چې ته دې خپل ماشوم ته ووایې چې وار وکړه زه دې پوښتنې ته د ځواب لټون خوم. (۱۹٤)

۸. په پوره اهتمام د خپلو ماشومانو پوښتنې واوره او هېڅکله یې لا وباله مه ګڼه او مه یې اړوند له تغابي او تجاهل څخه کار اخله، ځکه نفسي او واقعي د ماشوم پالل له هغه سره د اشیاؤ په شرح او تفصیل کې چې ده ته پرې فهم ګران بریښي بلا مثبت رول لري.

۹. که تا بوختیاوې درلودې باید ماشوم په پوره رفق او نرمۍ سره وپوهوې چې دا ستا پوښتنې ته د ځواب وخت نه دی، خو چې څنګه دې بوختیاوې بشپړې شي باید په فوري توګه یې پوښتنه وځوابوې.

۱۰. له هغې شرح او تفصیل څخه ډډه وکړه چې هېڅ اړتیا ورته نه لیدل کیږي، د شپږکلن کوچنی پوښتنې ته ځواب باید د لس کلن کوچني پوښتنې ته له ځواب څخه لنډ وي، دا هله چې پوښتنه په دلیلونو سره توضیح ته اړتیا لري، لکه د مغیباتو اړوند پوښتنې، خو دا چې ځینې پوښتنې بیخي محدودې وي نو د هر ډول عمر کوچنیانو ته یې ځواب باید یو څېر ورکړل شي. (۱۹٥)

۱۱. زیار اوباسه چې خپل ماشومانو ته خپل ځواب په داسې واقعي شیانو پورې تړلی ورکړې چې ماشوم یې ادراک کولی شي، او له هغو مجردو شیانو څخه ډډه وکړه چې د ماشومانو په دې مرحله کې پرې فهم ګران وي، د توان په انداز باید ماشومانو ته ځواب له دلیلونو څخه کلک ملاتړ ولري ترڅو ځواب منطقي وي هوایي نه وي. (۱۹٦)

۱۲. کوچني ته د معلوماتو په ورکولو کې باید ده چې مور او پلار موافق وي او د خبرو منځ کې ټکر ونه لري.

۱۳. د کوچنیانو پوښتنې باید په پوښتنو ځواب نه شي، لکه ځوی پوښتنه وکړي او پلار ورته ووي (ستا څه مطلب دی؟) له دې پوښتنې سره کوچنی ځان چټي وګڼي ځکه ماشوم نه شي توانېدای چې له پلار څخه په بل عبارت پوښتنه وکړي او لامل یې همدا دی چې کوچنی عقیده لري چې له تفسیر او شرح پرته یې مور او پلار په خبره باندې پوهیږي، خو که مور یا پلار د کوچني په پوښتنه ځان پوهول غواړي باید ده چې تقریري سؤال ورڅخه وکړي لکه: (ستا موخه دا ده چې... )

۱٤. د کوچنیانو معیني پوښتنې ته په ځوابو ویلو سره باید والدین له استبداد څخه کار وانه اخلي، که ماشوم خپلې پوښتنې ته له بل مصدر څخه ځواب د مور او پلار د ځواب طریقه کار څخه په بل اسلوب حاصل کړي، باید ده چې دا مهال مور او پلار په اسانه طریقه چې په مور او پلار باور له منځه لاړ نه شي صحیح ځواب ورکړي. (۱۹۷)

۱۵. زیار اوباسه چې ځواب دې د مکالمې په صورت کې وی خو چې د محاضرې ( لیکچر ) په صورت کې نه وي، د ځواب په جریان کې باید ډېر مثالونه او قیصې ورته وکړې او زیار اوباسه چې د ځواب په مهال باید علمي انځوریز موسوعې استعمال کړې (۱۹۸)، ترڅو د کوچني ذهن ته معلومات سم صحیح ورسیږي، ضرور ده چې د ځواب په مهال ورته حرکتي کاټون، مثالونه، رسم او تصویر، سوچ او غور، شعرونه، فکري لوبې (۱۹۹)، ځکه تنوُع د ماشوم فکر ته وده ورکوي او معلومات یې پیاوړي کوي.

۱۶. ځینو پوښتنو ته په یوه دفعه ځواب نه ورکول کیږي، بلکې په تدریجي توګه ورته لږ لږ ځواب ورکول کیږي، که هغه په کثرت سره پوښتنې وکړي نو د کوچني عمر ته په کتلو سره باید ځوابونه ډېر او د بېلابېلو وسیلو په استعمال ورکړی شي چې خومره یې ماشومانو ته اسانه وي. (۲۰۰)

۱۷. کله چې کوچنی غوټکی شي او په ښه عمر کې شي نو ښه به دا وی چې لومړی ورڅخه د خپلې پوښتنې په تړاو مشوره وغوښتل شي او همدا خپله پوښتنه به بېرته له هغه نه وکړو چې هغه یې اړوند څه عکس العمل ښایي، له دې ځای څخه کولای شو چې پوښتنې ته یې ځواب ورکړو او له دې څخه یې صرف نظر کړو چې زمونږ په عقل او ذهن کې سوچ یوسي، که داسې ونه شي نو کوچنی به په داسې دائره کې داخل شي چې ځای به یې نه وي. (۲۰۱)





# د کوچنیانو پوښتنو ته
# د ځواب په مهال تربیتي خطاګانې

**د کوچنیانو پوښتنو ته د ځواب په مهال له مونږ. څخه دا خطاګانې کیږي:**

- : د تربیت د مختلفو اړخونو ځانګړی خیال ساتل، لکه ایماني اړخ، اخلاقي اړخ، علمي اړخ، تېروتنه هم دا ده چې نظر پر یو اړخ متمرکز وي او بل لا وباله پرېښودل شي او بل لاوباله پرېږي نه ښودل شي خو ترمنځ یې موازنه نه وي، بل په تربیه کې د تدرج نشتوالی او د رټنې او توبیخ ډېرښت او په تقصیر باندې کوچنیان تورنول، یا له مناقشې پرته هغه خپلو خبرو ته تسلیمول، یا هوښیارانو ماشومانو څخه مشوره نه اخستل،یا توندي او کړندیتوب کول، یا د متابعې کمزوري، یا د توجیهاتو او سپارښتننو په مهال پیچلتوب کول، یا زمونږ. د ا قوالو او افعالو ترمنځ ټکر، یا هغه ډول پیغامات چې سلبي اړخونه لري [۲۰۲]، دا ټولې هغه تېروتنې او خطاګانې دي چې د کوچنیانو په نفسیاتو کې په ایماني او تربوي اړخونو باندې ناوړه اغېز لري.


د ايماني
پوښتنو په تړاو د
کوچنيانو پوښتنو ته
د ځوابونو بېلګې...



په دې ځپرکې کې راغلي ځوابونه په لومړۍ درجه کې مور او پلار، نارینه او ښځینه ښوونکي، تربوي هیئتونه او مصلحینو ته متوجه دي، او دټولو هغو خلکو د پام وړ هم دي چې د کوچنیانو د عمر او ذهني استدراک په تقاضا باندې ځوابونه چمتو کوي، ځکه مونږ نه شو کولای چې یو سوال ته د هر ماشوم د عمر او عقل او علمی مستوا په تقاضا ځواب کېږدو[٢٠٣]، ضرور ده چې باید زمونږ ځواب حقیقي وي نه حرفي ځواب چې تش په نوم له کلماتو جوړ وي[٢٠٤]، دا ډول باید د مباشر او غیر مباشر ( فوري ) ځوابونو په اسلوب کې توپیر وي، ترڅو وکولای شو قدرمند لوستوال ته په لویه کچه معلومات ورکړی شو، هغه به په خپل وار همدغه ځوابونه راواخلي او په خپل قالب کې به یې د بیا ځل لپاره داسې ترکیب کړي چې همده ته غوره او د خپل ماشوم لپاره مناسب بریښي.

د ایمان په تړاو د کوچنیانو پوښتنو ته د ځواب لپاره مناسب دي چې مور او پلار لږ شرعي ثقافت او اسلامي معلومات ولري ترڅو وکولای شي چې خپلو ماشومانو ته د هغو د عمر او عقل سره سم لومړی دیني معلومات ورکړي، خو ولې له کومې ستونزې چې ترتیب ورکونکی سر ټکوي ایکې یواځې په معلوماتو پورې انحصار نه لري، بلکې په هغه قالب کې یې کېښودل په کار دي چې د کوچني عقل یې اخلي او پرې پوهیږي، هغه هم په داسې اسلوب چې د زمان او مکان او له هغو ظروفو سره سمون خوري چې ماشوم ورپکې ژوند کوي.

په راروانو کرښو کې غواړو چې ځینې هغه پوښتنې د بېلګې په توګه ذکر کړو چې ماشومان یې په ډېرښت سره کوي، دا ټولې نه بلکې ځنې مهمې او تکراري پوښتنې دي، مونږ زیار اوباسو چې په خپل نظر ځوابونه باید منطقي او ښه ووایو خو د نمونې دعوه یې نه کو، ولې نه! په دې اعتبار د نمونې ځوابونه دي چې مور او پلار ورڅخه پېل اخلي کېدای شي چې دا ځوابونه، تصحیح شي، حذف شي او یا ورته نور څه هم اضافه شي.

**تنبیه:**

که څوک د خپلو ماشومانو په تړاو فکرمند وي چې شاید تربیتي خلل ورته له دغو ډول پوښتنو څخه راولاړیږي نو دغه انسان خطا دی، بلکې دا د ماشونو د فکر او غور او په عقلي توان کې د صحت ښه نښه ده چې طبیعي وده او منطقي تسلسل لري، که خوګانې ولري هم نو د پلار له پلوه به وي چې د ماشوم او نشو نما کې یې بې توانه راغلی دی ترڅو د کوچنیانو عقلي کنارې خلاصې کړي او تر شاوخوا یې ارد ګرد شیانو ته ذهن متوجه شي (٢٠٥)، په مور او پلار او څوک چې د ماشوم تربیت په غاړه لري باید چې کوچنیانو ته تر یو حده قناعت بخش ځوابونه ورکړي، ځکه قناعت بخش ځواب له کوچني سره نفسي او فکري او عقلي قرار او سکون باندې ښه مرستندویه وي، د هغې ځوابونو په خلاف چې یا ګډ وډ وي او یا خطا او کاږه وي چې کوچنیان لا هک پک او درهم برهم کړي، یواځې دا نه بلکې دغه حیرانتیا به د کوچنیانو په سلوکو کې مزید اضطراب او د تفکیر تعامل کې به یې لا کوتاهي زیاته کړي.

لویې ستونزې یو دفعه نه زیږیږي او د غومبر اور ابتدا له کوچنۍ سکروټې کیږي، له دې کبله باید څېر یو چې په انسان کې بد صفتونه د لومړي ځل لپاره ورکوټی تخم وي چې لاوبالیت او د وبه شي کلمات یې خړوبوي، د تجاهل له اوبو څخه خړوب شي او دومره وده وکړي چې په انساني نفس کې جرړې پیاوړې کړي نو وروسته یې زوال او له بیخه ویستل بیخي ګران شي. (٢٠٦)



# په الله باندې د ایمان
## لرلو اړوند د کوچنیانو پوښتنې...

د ماشومتوب په لومړۍ مرحله کې د ماشوم په ذهن کې زیاتره د الله پاک متعلق پوښتنې تیریږي راتیریږي، دلته مونږ هغه ډول پوښتنې ښکاره کول غواړو چې زیاتره کوچنیان یې له خپلو والدینو څخه کوي.

### الله څوک دی؟

له پیل څخه باید مونږ ماشوم ته موقعه ور نه کړو چې د الله پاک اړوند راڅخه پوښتنې وکړي، مناسبه دا ده چې باید مونږ هرومرو په هر مناسبت کې د الله پاک اړوند په کثرت سره وګړیږو، د ماشوم دې پوښتنې ته په سم صحیح ځواب د هغه په نفس او عقل او زړه کې د خالص توحید دعقیدې او په الله پاک باندې د ایمان بنسټ ږدي، له دې کبله مناسب دا ده چې باید ماشوم ذهن د الله پاک په ذات کې له فکر او سوچ څخه د الله پاک نعمتونو او لورینو ته سوچ واړول شي، لکه اسمان، وریځې، ستوري، لمر، سپوږمۍ، سمندرونه او ونې او داسې نور نعمتونه (۲۰۷)، دې ته یې باید سوچ واړول شي چې ته الله پاک پیدا کړی یې او د بدن غړي یې درکړي دي، سترګې، غوږونه او خوله او ژبه، خپې او حتی ټول بدن یې درکړی دی، مونږ باید کوچنی وخبرو چې الله پاک اسمان پیدا کړی دی، ځمکه یې پیدا کړې ده، ټولې ونې بوټې یې راټوکولې دي، په دې سره به کوچنیان له دې خبرو سره روږدي شي ، که بیا راڅخه پوښتنه ولري چې الله پاک څوک دی؟ مونږ به یې په ساده الفاظو وپوهولی شو چې الله پاک هغه څوک دی چې له مونږ څخه ارد ګرد شیان یې پیدائښت دی، او وبه کولی شو چې په دې اړه ورته ډېر مثالونه ورکړو.



کله چې مونږ وکولای شو چې د اسمان او ځمکې په عالمونو خپل کوچنیان وخبرو او له دې حیران کن نظام او عجیب ترتیب څخه ورته پرده پورته کړو ، ورته به ووایو: په دې نظام پوهه شوې؟ د دې قوانینو او ضوابطو

کېښودونکی الله پاک پخپله دی، په دې سره به کوچنیان په علم او برهان او ښه دلیل سره الله پاک وپېژني، بیا به یې وخبرو چې الله پاک هر څه پېدا کړي دي او د هغه په خبر هېڅ شی نشته دی، الله ډېر مهربان، رازق او کریم ذات دی، الله پاک ښایسته نومونه او ښکلي ډولي صفتونه لري، له دې کبله الله پاک د عبادتونو مستحق دی او په عبادت کې هغه هېڅ برخه دار نه لري، الله پاک له کوچنیانو سره دومره مینه لري چې لویان یې امر کړی دي چې ځانګړی خیال پرې ولري او هر ډول خیر او سعادت لپاره یې هلې ځلې وکړي، ماشومانو ته په ځانګړي توګه او ټولو خلکو ته به په عمومي توګه خیر او ګټه رسوي، له مونږ سره به الله پاک په خپلو ښو او بدو عملونو محاسبه کوي او سزاګانې او جزاګانې به ورکوي، هغه به محسن ته د خپلو نیکو عملونو بدله ورکړي او بد کار ته به د خپلو ناوړه کارونو، دا به ډېره ګټوره وي چې مونږ کوچنیانو ته قصار مفصل سورتونو ورزده کړو ، ځکه همدعه سورتونو یې پوښتنو ته ډېر ښه ځوابونه وایي او د الله په ذات او صفاتو مشتمل سورتونه دي، الله پاک هغه څوک دی  چې نه ورڅخه څوک پېدا دی او نه ورنه څوک پېدا دي او هېڅ مساوي هم نه لري. (۲۰۸)

کولای شو چې پوښتنه ورڅخه وکړو: دا ښایسته کالي درته چا واخستل؟ هغه به ځواب وکړي: زما پلار، او مدرسې مکتب ته دې څوک بوځي او راولي؟ ؟ هغه به ووایي: زما پلار، کله چې ته ناجوړه شې نو روغتون ته دې څوک بوځي؟ هغه به هرومرو وایي: زما پلار، د رخصتې په مهال مو په چکر باندې څوک بوځي، هرومرو به وایي: پلار، د دې معنا دا شوه چې ستا ټوله سرپرستي همدا ستا پلار کوي، همدغه خېر الله پاک زمونږ د ټولو انسانانو سرپرستي کوي، هغه د ټولو شیانو خالق او واکدار دی، څومره شیان چې ستا په نظر راځي د الله پاک تخلیق دی، لمر، سپوږمۍ، وریځې، دریابونه، غرونه، دا ډول هغه انسانان او حیوانات، مرغان او ملائک او ان شیطانان یې پېدا کړي دي، الله پاک دا ټوله دنیا پېدا کړې ده، الله پاک ډېر کریم  او مهربان باچا دی چې مونږ پالي او پام راباندې کوي، هغه له مونږ – مسلمانانو – سره مینه لري او زمونږ لپاره هر ډول خیر خوښوي.

## ؟ ایا الله پاک د انسان په څېر دی؟

نا، هغه زمونږ په څېر نه دی، دالله په څېر هېڅ شی نشته، زه او ته او ټول مخلوق همدغه الله پېدا کړي یو، هغه ونې بوټې، نهرونه او دریابونه او په دنیا کې هر څه پېدا کړي دي، ټول قوتونه له هم هغه څخه سرچینه اخلي، هغه چې هر څه ته د ( موجود شه ) کلمه ووایي نو موجود شي، الله پاک له انسان سره کامل توپیر لري، انسان هېڅکله نه شي کولای چې انسان پېدا کړي خو ولې الله ته ډېره اسانه ده چې انسان پېدا کړي او چې څه کول وغواړي نو په توان کې یې دي، هېڅ څوک نه شي کولای چې په دنیوي ژوند کې الله پاک وګوري او نه څوک د دې توان لري چې د الله پاک ذات خلکو ته په داسې صفتونو ور وپېژني چې ګویا ده لیدلی دی، دا چې زمونږ توان محدود دی نه شو کولای چې الله پاک ته د هغه د نور او ښکلا له کبله وګورو، بیا به له ماشوم څخه وغواړو چې لمر ته دې وګوري خو په دې شرط چې سترګې پورې راپورې نه کړي، دا مهال به ورڅخه وپوښتنو چې ایا ته په استمراري توګه کولای شې چې لمر ته دوامدار وګورې؟ ضرور ده چې هغه به ځواب

په (نا) سره کوي، مونږ به ورته ووايو: ګرانه! دا ډول مونږ هغه نور او وړانګې هم نه شو برداشت کولای چې د الله پاک له ذات څخه راپورته کيږي، خو چې جنت ته ولاړ شو هلته به يې د هغه په اذن سره ليدلی شو.

شايد کوچنی په دې قناعت ونه شي کړای او وپوښتي: د هغه په څېر څنګه هيڅ شی هم نشته؟ مونږ يې بايد دا پوښتنه په پوره ارام سره وځوابو چې : مونږ که هرڅومره لوی او ستر شو، پوهه مو که هرڅومره وده وکړي او مخکې لاړه شي خو بيا به هم د بشريت له کبله مو عقلونه د تېر په څېر قاصر وي، دومره به پوهيږي چې څومره د الله خوښه وي او پاتې نور هر څه به جاهل پاتې وي، دا چې مونږ بشر يو نو ناشونې ده چې هر څه دې وپېژنو.

يا ورته داسې وويل شي چې: که چرته الله پاک زمونږ په څېر انسان وای نو زمونږ په څېر به ناجوړه کېدو هم، زمونږ په څېر به يې خوراک څښاک کو او د مړه شويو خلکو په څېر به پرې مرګ هم راتلو، خو دا چې الله پاک نه ناجوړه کيږي او نه خوراک او څښاک کوي او نه پرې مرګ راځي، نو هغه به د تل لپاره وي او هغه د اسمانونو او ځمکو او د ټولې دنيا خالق دی، له دې کبله د الله په څېر هيڅ شی نشته.

دا هم شونې ده چې مونږ ورڅخه وپوښتو: ايا مونږ انسانان کولای شو چې يو شي ته ووايو چې ( پيدا شه ) او هغه شی پيدا شي؟ ضرور ده چې د کوچني ځواب به دې پوښتنې ته ( نا ) وي، په دې سره مونږ کولای شو له کوچني سره دې نتيجې ته ورسيږو چې الله پاک زمونږ په څېر بشر نه دی بلکې هغه عظيم او جليل ذات دی.

مونږ به کوچني ته وا يو: زمونږ اوريدل محدود دي له معينې مسافې ور اخوا بيا هيڅ نه اورو خو که هر څه مو اوريدای نو له سخت تکاوټ او ستړيا سره به مخ وای، سترګې مو هم محدودې دي له معينې مسافې پرته ور اخوا ليدل نه شي کولای، مونږ نه شو کولای چې له ديوال وار اخوا څه ووينو، لکه څنګه چې مو سترګې او غوږونه محدود دي دغه څېر مو عقل هم محدود دی، د هر څه شي ادراک نه شي کولای، جوته شوه چې د نوم انسانيت عقل قاصر دی د هر څه شي ادارک توان نه لري، له کوم راهيسې چې الله پاک ادم عليه السلام پيدا کړی دی تر نن پورې له معلوماتو څخه د مجهولاتو د مساحت کچه لوړه ده، د بېلګې په توګه د انسان په جسد کې روح ده، د ټولو شيانو په پرتله مونږ ته نزدې ده خو ولې مونږ يې نه خيال کې راوستلی شو او نه حقيقت ادراک کولای شو، چې مونږ د خپلې يوې برخې له حقيقت څخه عاجز يو نو د هغه الله اړوند به څه ادراک وکړو چې له مونږ څخه خارج دی؟!!

له دې کبله چې تر څو د انسان عقل محدود وي هيڅ کله به ونه توانيږي چې د الله پاک د ذات ادراک وکړي، د الله ذات او شکل په تصور، عقل او يا وهم سره هيڅکله نه شي ادراک کېدای، بلکې په اسلامي شريعت سره کولای شو چې الله پاک وپېژنو او دا مسئله قران کريم په ډېره زغرده تفصيلي څېړلې ده، الله پاک فرمايي: [ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ] (۲۰۹)

ژباړه: د هغه په څېر هېڅ هم نشته او هغه ښه اورېدونکی او ښه لیدونکی ذات دی.

له ایت څخه پوهیږو چې نه الله پاک زمونږ په څېر دی او نه د نورو شیانو په څېر (۲۱۰)، دا په بل څه نه بلکې د الله پاک په عظمت او جلال باندې دلالت کوي، هغه الله چې په مونږ باندې یې محبت او رجا او خشیت واجب دی، د الله رؤیت به په جنت کې کېدای شي او علی الاطلاق د الله رؤیت په جنت کې لوی نعمت دی.

## الله پاک چا پیدا کړی دی؟

که الله پاک بل چا پیدا کړی وی بله پوښتنه هم منځ ته راځي چې د الله خالق به بیا چا پیدا کړی وي؟ له دې کبله ضرور ده چې وپېژنو چې دا د خالق صفت دی چې خپله به مخلوق نه وی او ټول مخلوق همده پیدا کړی دی، که خالق چرته خپله مخلوق وای نو مونږ به یې عبادت نه کو، ایکې یواځې دومره به مو کول چې تعلیمات او توجیهات به مو ورله پلې کول، جوته شوه دا ډول پوښتنه چې ( الله پاک چا پیدا کړی دی ) نا سمه پوښتنه ده، او ناسمې پوښتنې بې معنا وي، د نمونې په توګې که له چا څخه پوښتنه وکړې چې د مثلث څلورمه کرښه څومره اوږده وي؟ نو د ځواب لپاره یې بیخي مجال ځکه نشته چې مثلث څلورمه کرښه نه لري، له دې کبله ( الله چا پیدا کړی دی ) پوښتنه له سره ځکه ناسمه ده چې ( الله ) او ( چا پیدا کړی دی ) داسې کلمې دي چې خپل منځ کې ټکر لري، ځکه هېڅوک الله پاک نه شي پیدا کولی، د تخلیق عملیات له مخلوق سره کېدای شي نه له خالق سره، او نه څوک توان لري چې الله پیدا کړي ورنه بیا به الله هم مخلوق شي او حا لانکه الله پاک پیل او انتها دواړه نه لري.

خو که د فرضیاتو په صورت کې غاړه کېږدو چې الله مستقل خالق لري نو پوښتنه به همدغسې دوامداره پاتې شي چې د الله خالق چا پیدا کړی دی؟ بیا د خالق خالق چا پیدا کړی دی؟ دا پوښتنه به دومره ځنځیري شکل ولري چې پای به نه لري، د ذهني تقریب لپاره کولای شو چې مثال بیان کړو، لکه عسکر او توپانچه ، عسکر غواړي چې ضربه وکړي خو مناسب دي چې له هغه عسکر اجازه وغواړي چې ورڅخه وروسته دی، او دا به له هغه چا نه اجازه غواړي چې له ده نه پورته دی، همداسې هر یو به له هغه چا نه اجازه اخلي چې د ده امیر دی دا لړې به تر هغه جریان لري چې پای یې نه وي، پوښتنه دا ده چې ایا عسکر به توپانچه او کلاشینکوف ضربه کړي، نا یې طبعي ځواب ځکه دی چې



مشر ورته امر نه دی کړی خو که سلسله تر هغه چا ورسیږي چې پورته پرې د بل امر نه وي نو بیا به عسکر توپانچه او کلاشینکوف ضربه کوي خو له اجازې پرته هېڅکله ډز قدرې هم نه شي کولای، که امیران پرې هر څومره زیات شي، لنډه دا چې د صفر مثال یې دی، که څومره صفرونه کېږدې خو چې عدد ترې مخکې وروسته نه وي نو که هرڅومره ډېر شي همدغه صفر به وي. (۲۱۱)

## الله له کومه راغی ؟ او عمر یې څومره دی؟

زما محبوب کوچنیه! الله چا نه دی پیدا کړی، نو نه له چا نه پیدا دی او نه ترې څوک پیدا دي، نه پیل لري او نه پای، جوته شوه چې هغه عمر او ژوندکي نه لري لکه څنګه چې یې مونږ انسانان لرو، ځکه چې الله پاک خالق، عظیم، غني باچا، کبیر او متین، عزیز او رحیم او د پوره قوت څښتن دی، الله پاک ښائسته نومونه او اوچت صفتونه لري، الله پاک د کمال صفتونه لري د نقص نه، الله پاک ټوله نړۍ او ټول شیان او ټول مخلوقات پیدا کړي دي.

## له الله نه مخکې څوک و؟

دا نفس هغه پوښته ده چې الله چا پیدا کړی دی او ومو ویل چې دا پوښته له بنسټه ناسمه ده، الله پاک اول ذات دی لومړی ترې څوک نشته، او هغه اخر دی وروسته ترې څوک نشته، الله پاک فرمایي: [هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ]

ژباړه: الله پاک اول، اخر ظاهر او باطن ذات دی او هغه په هر څه شي باندې پوهیږي.

زمانه هم د مکان په څېر ده چې الله پاک نه شي محدود کولای، زمانه هم د الله پاک د مخلوقاتو څخه مخلوق دی نو له مخلوقاتو سره نه ښائیږي چې خپل خالق په ځان کې راونغاړي او احاطه پرې وکړي، بلکې الله پاک د پوره کمال او جمال صفتونه لري، ضرور ده چې کوچني ته نبوي سپارښتنه وشي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: [يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُولُ: مَنْ خَلَقَ كَذَا، مَنْ خَلَقَ كَذَا، حَتَّى يَقُولَ: مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ؟ فَإِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ وَلْيَنْتَهِ] (۲۱۲)

ژباړه: په تاسو کې چې چا ته شیطان راشي او ورته ووایي: فلانی شی چا پیدا کړی دی؟ فلانی شی چا پیدا کړی دی؟ تر دې چې ورته ووایي: ستا رب چا پیدا کړی دی؟ کله چې دې حد ته څوک ورسیږي نو له الله پورې دې پناه ونیسي او دغه ډول پوښتنو نه دې رابند شي.

نو له الله پورې پناه غوښتل او په غیر مباشرې توګه د کوچني ذهنیت بلې قضیې ته اړول تر څو دغه ډول پوښتنو کې دننه ولاړ نه شي او تسلسل ونه لري ، نو له دغو ډول پوښتنو څخه راګرځېدل غوره ځواب دی، ذهنیت ورڅخه راړولو معنا دا نه ده چې دغه پوښتنه ځواب نه لري بلکې په دې خاطر چې د شیطان د وسوسو دروازه وتړل شي.

## ایا الله نارینه او که زنانه قام دی؟

باید ده چې د الله په ذات کې له سوچ او فکر نه د کوچني ذهن په لرې ورولو کې پوره زیار اوباسو او توجیه یې کړو چې سوچ باید هغو شیانو کې وي چې د ده لپاره ګټور وي، دلته باید کوچنیانو ته توضیح کړو چې د تذکیر او تانیث مسئله د ژوندي حیواناتو به جنس کې د تفریق او توپیر لپاره لازم دي، له دې کبله الله پاک خپل مخلوق باندې احسان هم کوي، ه هغه فرمایي: [وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى] (۲۱۳)

ژباړه: او همدغه الله پاک دوه جوړې مذکر او مؤنث پیدا کړي دي.

او الله پاک په جنس کې له تفریقې څخه پاک او مقدس دی، بلکې په مخلوقاتو کې هم داسې مخلوق شته چې مذکر او مؤنث نه لري لکه ملائکان، بلکې اسمان، وریځ ، هواګانې، اوبه هم مذکر او مؤنث نه لري، نو چې په ناقص مخلوق کې مذکر او مؤنث نه وي نو الله پاک خو بیخي ورڅخه غني دی [لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ] (۲۱٤)

## د الله په موجودیت ولې باید باور ولرو؟ د الله د موجودیت ثبوت څنګه کېدای شي؟

په الله پاک باندې ایمان او باور لرل هغه انساني فطرت دی چې د انکار کولو توان ترې هېڅ څوک نه لري، د الله په وجود باندې دلیلونه بلا ډېر دي خلک یې د خپلو تخصصاتو په باب کې په پرله پسې توګه اکتشاف کوي بلکې په انساني نفس کې خپله دومره دلیلونه دي چې د الله په وجود باندې دلالت کوي: [فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا] (۲۱۵)

ژباړه: دا د الله هغه فطرت دی چې خلک یې ورباندې پیدا کړي دي.

په مونږ کې هر څوک دا داخلي توان لري چې په خپل نفس کې د الله عظمت او برایي، د هغه قوت او کامل رعایت ادراک کړي او علمي حسي دلیلونه هم ثابتوي چې دا نړۍ یو دقیق نظام لري، او ضرور ده چې دغه نظام چا ایښی وي، څکه پوښتنه دا راپورته کېږي چې ګرد مخلوقات چا تخلیق کړي دي او څوک یې پالي؟ یا خو له کوم سبب پرته په تصادفي توګه خپله شته شوي دي نو د دې علم خو بیا هېڅ بشر ته نه شي کېدای چې څنګه او په څه ډول شته شول!!

او بل احتمال دا دی چې دغو مخلوقاتو ځانونه خپله پیدا کړي دي او ځانونه په خپله پالي، او دریم احتمال دا دی چې ټول مخلوقات یو خالق لري ، هم هغه پیدا کړي دي او هغه یې پالي، د شنني له مخې اول او دریم احتمالونه خو ناشوني دي خپله خبره دریم ته پاتې شوه چې همدغه مخلوقات الله پاک پیدا کړي دي او دا صحیح او واضح خبره ده، په دې اړه الله پاک په قرانکریم کې فرمایي: [أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ * أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بَلْ لَا يُوقِنُونَ] (۲۱٦)

ژباړه: ایا دوی له کوم مقصد موخې پرته پیدا شوي دي او که نه خپله یې ځانونه پیدا کړي دي، ایا دوی اسمانونه او که ځمکې پیدا کړي دي؟ بلکې دوی باور او یقین نه لري.

د الله پاک په شتون باندې له حسي دليلونو له جملې څخه د دعاګانو قبلول دي، د ځمکې او اسمان متانت هم د الله پاک په وجود باندې دليلونه دي، الله پاک فرمايي: [ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ] (٢١٧)

ژباړه: د اسمانونو او ځمکې په پيدائښت او د شپې او ورځې په بدلېدو رابدليدو کې خامخا هوښيارانو لپاره د توحيد نښې نښانې دي.

او الله پاک فرمايي: [وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ] (٢١٨)

ژباړه: او ستاسو په نفسونو کې د الله توحيد نښانې شته، ايا تاسو يې نه وينئ.

دارنګه د ستورو او غرونو او حيواناتو په پيدائښت کې د الله د توحيد نښانې شته دی او حالانکه ټول موجودات په دې دلالت کوي چې دوی خالق لري، د الله پاک د شتون او توحيد نښانې د اسمان په کنارو، په نفسونو او ميوجاتو کې ليدل کيږي او ټول د يو معبود، خالق او أحد واحد په وجود دلالت کوي، بله دا چې دا مخلوقات بې موخې نه دي شته شوي، بلکې د يو هدف او مقصد په خاطر شته شوي دي چې ايکې يواځې د الله پاک عبادت کول دي چې هيڅ شريک نه لري (٢١٩)، شونې ده چې په دې خاطر درته د امام أبو حنيفه رحمه الله واقعه نقل کړو چې يو قوم ترې د الله د وجود اړوند ( توحيد ربوبيت ) ثبوتونه وغوښتل، هغه ورته وويل: وړاندې له دې چې مسئله سره وڅيړو تاسو د دجلې د سيند کشتۍ په تړاو څه فکر لرئ چې خپله ځي او له خوراک څښاک او نورو شيانو څخه خپله راډکيږي، خپله راستنيږي او له کشتيوان پرته خپله روانه وي، او خپله راستنيږي، خو ګورئ چې هيڅ څوک پکې لاس نه لري، خلکو ورته وويل: دا ناشونې ده، هيڅکله نه شي کېدای، امام صيب ورته وويل: چې په يوې کشتۍ کې دا خپل سري ناشوني وي نو دا پراخه نړۍ جې ښکته پورته شليدلې ده څنګه بايد مدبر ونه لري؟! (٢٢٠)

نو دا بيخي امکان نه لري چې دغه پياوړې مخلوق دې قدير او عليم خالق ونه لري.

دا هم ويلای شو چې کله ته ګېډخوږی محسوس کړې ايا نه محسوسوې چې وږی شوی يې؟ او لګيا يې د خوراک څښاک اړوند پلټنه کوې ترڅو ولږه له منځه يوسې! يا چې کله تنده محسوس کړې نو ايا د اوبو په لټه کې نه يې چې تنده دې خړوب کړې؟ يا خوشبوې محسوس کړې نو په سعادت نه پوهيږې؟ يا بد بوي محسوس کړې نو ايا تنګستيا نه محسوسوې؟ کله جې مونږ ګلانو او ګلابونو ته وګورو، اسمان او ارد ګرد جاذب طبيعت ته نظر واچو، ايا ته سعادت او خوشحالي نه احساسوې؟

زما ګرانه کوچنيه ! دغه څير مونږ اتوماتيکي شعور لرو چې کله اړمن شو نو همدغه معبود او حق اله ته رجوع کو، ترڅو ډاډ او اطمئنان تر لاسه کړو، کله چې تنګستيا، غم او درد احساس کړو نو اتومات الله پاک ته رجوع کو او اوازونه ورته کو، خو که سعادت او خوشحالي احساس کړو نو د الله پاک حمد او ثناګانې وايو.



## ایا الله پاک زمونږ په څېر اورېدل، لیدل او خبرې کوي؟

الله پاک هم خبرې کوي او هم اورېدل او لیدل، الله پاک فرمايي: [قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ] (۲۲۱)

ژباړه: په تحقیق سره چې الله پاک د هغې زنانه اواز واورېد چې له تاسره یې د خپل خاوند اړوند جګړه شخړه کوله او الله پاک ته یې خپل فریاد کو، الله ستاسو د دواړو خبرې واورېدې او په یقین سره چې الله پاک اورېدونکی او لیدونکی دی.

او الله پاک فرمايي: [قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَى] (۲۲۲)

ژباړه: الله ورته وویل: زه درسره مل یم، زه مو خبرې اورم او وینم مو.

او الله پاک فرمايي: [إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ] (۲۲۳)

ژباړه: په یقین سره چې الله پاک ستاسو عملونو لره لیدونکی دی.

خو د هغه خبرې زمونږ د خبرو په څېر، اورېد او لیدل یې زمونږ د لیدلو او اورېدلو په څېر نه دي او بنسټ یې دا دی چې الله پاک زمونږ په څېر نه دی، که اوازونه هر څومره پټ او پناه شي خو الله پاک یې اوري، که مخلوقات هر څومره واړه او زاړه شي لرې او پناه شي خو الله پاک یېویني، هغه هر څه اوري او هر څه ګوري، خو د هغه سمع او بصر د مخلوق د سمع او بصر په څېر نه دي چې کمزوري او د نقصان او خوګانو ښکار شي، ځکه چې الله باک [لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ]

ښه به دا وي چې په مباشرو سلوکو کوچیان وپوهول شي، داسې باید ورته وویل شي: کله چې الله پاک اورېدل او لیدل کوي نو ایا له مونږ سره مناسب دي چې الله پاک مو په داسې حالت کې ووینې او داسې څه واوري چې ورته پسند نه وي؟! (۲۲٤)

## ایا الله تعالی ولږه او تنده نه لري؟

الله پاک کمالي صفتونه لري چې هېڅ راز نقص او نقصان پرې نه راځي، ولږه اوتنده د کمزورۍ نښې نښانې دي خو ولې د دغې ضعف او کمزورۍ نسبت الله پاک ته کول هېڅ کله جواز نه لري، د دې سربیره الله پاک خوراک او څښاک ته اړتیا هم نه لري (۲۲۵)، دا ځکه چې الله پاک د هر شي خالق دی او هېڅ شي اړتیا نه لري، که اړتیا یې ورته درلودای نو بیا خو د الوهیت قابل نه و، الله پاک صمد ذات دی چې خوراک او څښاک ته اړتیا نه لري او له دغو شیانو څخه غني باچا دی، بلکې مخلوقات له هغه څخه د رزق امیدوار دي او د خوراک او څښاک غم یې کوي او اړتیاوې یې پوره کوي.

کولای شو چې دا هم ووایو:



د خالق او مخلوق ترمنځ د مقارنې هېڅ مجال نشته، دا ضرور ده چې مونږ په څه ډول نوښت او ابتکار کو نو هغه طریقه کار دې هغه هم ولري او زمونږ په هیئت ابتکار او صفتونه دې د هغه هم وي، نو نه الله پاک وړی کیږي او نه تړی کیږي.

زه یوه پوښتنه لرم: سائیکل چا جوړ کړی دی؟ ضرور ده چې هغه به وایي: دا سائیکلونو مصري جوړ کړی دی، ډېره ښه ځواب خو که فرض کړو چې سائیکل خبرې کوي او له خپل نوښتګر څخه وپوښتني چې څه خورې او څه به څښې؟ ته وا چې ځواب به یې څه وي؟ ایا دا به ورته وایم چې له تاسره نه ښیائیږي چې دا ډول پوښتنې وکړې! یا : که یې درته ووایم نو تا ته به څه ګټه وي؟ ایا دا ځواب به ستا په سرعت او تیز رفتارۍ کې کوم مثبت رول ولري؟

بچیه ! همداسې مونږ هم یو چې الله پاک مونږ د خپل محدود مقصد په خاطر شته کړي یو، هغه فرمایي: [وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ] (٢٢٦)

ژباړه: ما پیریان او انسان نه دي پیدا کړي مګر د خپل عبادت په خاطر.

دا پوښتنې هېڅکله نه زمونږ لپاره ګټورې دي او نه راسره د هغې موخې په شته کولو کې مرستندویه ثابتیږي چې له کبله یې مونږ شته شوي یو، برعکس زمونږ ذهنونه له خپلو کارونو څخه شړوي ، بله دا ده چې سائیکل له مونږ څخه پوښتنه کله لري؟ کله چې هغه بې کاره شي نو مصري ته یې وړل مهم دي ترڅو اصلاح شي، آیا داسې نه ده؟ دا ډول به مونږ هم د عبادت څخه د تقصیر او د نورو سترو ستونزو په مهال الله پاک ته سوالونه لېه کړي وي او دعاګانې به ورڅخه غواړو

## الله پاک څومره زورور دی؟

کله چې مونږ د چا د زور ځواک اړوند ګړیږو معنا دا ده چې مونږ د کمزوري قوت او ځواک په تړاو خبرې اترې کو، ځکه د قوت پیاوړتیا ابتدائي کمزورتیا ته اشاره ده او حالانکه الله بیخي ضعف او کمزوري نه لري، ځکه د الله پاک قدرت مطلق دی نه محدود دی او نه یې کوم شی کمزوری کولی شي، الله پاک فرمایي: [أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ] (٢٢٧)

ژباړه: ایا ته معلومات نه لرې چې الله پاک په هر څه باندې قدرت لري؟

کله چې هم هغه د څه شي اراده ولري نو د ( کن ) کلمه ورته ووایي نو له دې کبله چې الله پاک په هر څه باندې کامل قدرت لري هغه شی موجود شي، ځکه داسې هېڅ شی په ځمکه او اسمان کې نشته چې الله پاک عاجز او بې وسه کړي، دا ټول شیان مخلوق دي او د مخلوق قدرت او توان محدود دی، څنګه چې ماسوا د الله نه هر څه مخلوق دي دا ډول قدرتونه یې هم مخلوق دي، اما د الله پاک قدرت نه محدود دی او نه نقصان لري، له دې کبله الله پاک د عبادت او ورڅخه د سوال او دعا مستحق دی، په دې دلیل چې الله پاک ایکې یواځې قادر ذات دی چې د مخلوقاتو اړتیاوې پوره کوي او ورته رزقونه ورکوي، رغبتونه یې ترسره کوي او د ژوند تدبیر یې مخې ته وړي. (٢٢٨)

## الله چرته او حجم يې څومره دی؟

کله چې کوچنی له پېل څخه وپوهېږي چې الله پاک پيدا کړی دی او له کوچنيانو سره د الله پاک ډېره مينه وي، هغه کوچنيانو ته ډېر نعمتونه ورکوي، شونې ده چې دا مهال ورته تشريح کړو چې الله پاک په اسمان کې دی، الله پاک فرمايي: [أَأَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ] (۲۲۹)

ژباړه: ايا له هغه ذات څخه به بيا په امن کې شئ چې په اسمان کې دی.

نو ذاتاً الله پاک په اسمان کې دی خو ولې علم يې په هر ځای کې دی، الله پاک فرمايي: [وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ] (۲۳۰)

ژباړه: تاسو چې هر چرته ياست نو الله پاک درسره دی - د علم په اعتبار -.

خو ولې دا له مونږ سره هېڅ نه ښايي چې ووايو: الله پاک په هر ځای کې دی، ځکه دا د دې معنا ورکوي چې الله پاک د هرڅه شي په داخل کې دی او حالانکه دا صحيح عقيده نه ده، بلکې مونږ به په هغه څه سمه عقيده لرو چې په نبوي سنتو کې يې تشريح راغلې وي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم له يوې وينځې څخه وپوښتل: [أَيْنَ اللَّه؟» قَالَتْ: فِي السَّمَاءِ، قَالَ: «مَنْ أَنَا؟» قَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ، قَالَ: «أَعْتِقْهَا، فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ] (۲۳۱)

ژباړه: الله چرته دی، هغې وويل: په اسمان کې، هغه وويل: زه څوک يم؟ هغې وويل: ته د الله رسول يې، نبي صلی الله عليه وسلم ورته وويل: ازاده يې کړه دا مسلمانه ده.

سره له دې چې الله پاک په اسمان کې دی خو په هر ځای کې مونږويني او زمونږ اوري، د کوچني ذهنيت بايد جوړ شي چې الله پاک مونږ هر وخت او په هر حالت کې ويني، په دې سره د ماشوم په نفس کې داخلي مانع وده کوي او د ځارنې مصدر وريکې ذات په خپله جوړېږي.

اما د الله پاک حجم: ناشونې ده چې الله پاک دې له خپل مخلوق سره مقارنه کړی شي، الله پاک له هر شي او هر مخلوق څخه لوی دی، که مخلوقات هرڅومره عظمت ولري خو خالق يې ورڅخه ډېر عظيم دی، دغه درانه غرونه به الله روان کړي، بحرونه او سمندرونه يې روان کړي دي، په خپل امر يې اوبه په ځمکه کې دننه ننويستي دي، په نړۍ کې د الله له امر او ارادې پرته هېڅ ډول تغيرات نه شي راتلای، خالق هيڅکله مخلوق ته اړتيا او احتياج نه لري، اسمان هم د الله پاک مخلوق دی خو د الله پاک شتون وريکې له اسمان پورې متوقف نه دی او نه ورته هغه اړتيا لري، الله پاک له خپل ټول مخلوق څخه غني باچا دی. (۲۳۲)

## ايا الله پاک مونږ ويني؟

کومې سترګې چې الله پاک مونږ ته په دنيا کې راکړي دي ډېرې کمزورې دي او په دنيا کې د هر څه ليدلو توان نه لري، له دې کبله انسان د شيانو د ښه وضاحت لپاره د تکبير الات استعمالوي، کله چې انسان د شيانو له رؤيت او ليدلو څخه ناتوانه راځي نو لائق ده چې د الله پاک د رؤيت

څخه ناتوانه وي، هېڅکله دنیوي رؤیت د انسان لپاره د دې مرستندویه نه شي جوړېدای چې الله پرې ووینې، ناشوني ده چې مونږ دې په دنیا کې الله ووینو خو په لیدلو مو ورله ایمان شته او په دې باوري یو چې الله پاک له مونږ سره مینه لري، هغه قدرت او پیاوړی قوت لري او په هر څه باندې پوهیږي، هغه په دې هم پوهیږي چې دا اوسمهال یې اړوند مونږ خبرې اترې کو، زمونږ له وجود او مونږ نه الله پاک ډېر لوی او پاک مقدس دی، له دې کبله هغه مونږ ویني او مونږ ټول په یو وخت کې ویني، لکه څوک چې د لوړې ماڼې سر ته پورته شي د کوڅې ښکته پورته کې ټول خلک ویني خو خلک یې نه ویني، الله پاک مونږ ویني خو ولې مونږ یې نه وینو، ډېر مخلوقات شته چې مونږ یې نه وینو خو ولې په نړۍ کې موجود دي، مونږ کوچنیانو ته دا هم ویلای شو: زمونږ سترګې توان نه لري چې هر څه ووینې، اواز مونږ اورو خو مونږ یې نه وینو، مونږ هواګانې حس کو خو مونږ یې نه وینو، مونږ په دنیا کې نه شو کولای چې الله پاک ووینو خو ان شاء الله چې په جنت کې به یې وینو هلته به مو سترګې ډېرې ښایسته وي او الله به پرې ووینو(۲۳۳)، څکه چې الله پاک [لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ] (۲۳٤)

ژباړه: سترګې یې نه شي لیدلی او هغه سترګې ( هرڅوک ) ویني ، الله پاک بارک بین او خبردار ذات دی.

## خلک خو ډېر دي چې الله یې څنګه ویني؟

ترڅو دې پوښتنې ته عملي ځواب ورکړو ماشوم به ځان سره کوڅې ته اوباسو، ورڅخه به وپوښتو چې خلکو ته وګوره او دلیدلو خلکو شمېر راته وښایه، خیر مونږ به هم درسره لیدلي خلک وشمارو، له دې وروسته به ماشوم دوهم پوړ ته پورته کړو، کوم خلک چې ویني نو شماروي به یې، بیا به یې د بلډنګ سر ته پورته کړو ترڅو خلک ووینې او شمار یې کړي، بیا به ورته دوربین ورکړو چې خلک په سمه توګه ووینې او دقیق یې وشماري، د دې عملي مثال په ترڅ کې به ورته مونږ واضح کړی شو چې مونږ د خپل محدود بشري مقیاس په اندازه نه شو کولای چې دا عملیه تر سره کړو، بیا به ورته په ډاګه کړو چې الله پاک له ګرد مخلوق څخه ډېر عظیم او کبیر ذات دی، د تل لپاره به یې په عقل کې دا ترسیخ کړو چې [أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ] (۲۳۵)

ژباړه: ایا ته معلومات نه لرې چې الله پاک په هر څه باندې قدرت لري؟

ممکنه ده چې مونږ له کوچني څخه محسوسه پوښتنه ولرو او ورته ووایو: ایا ستا به باور شي چې میږي مونږ په کامل تفصیل سره ویني؟ او که نه خیال او سیوری ویني؟ هغه به هرومرو ځواب راکوي چې میږي د انسان د یو برخې ( قدم ) پرته نور څه نه ویني، او کله کله قدم ورته بلا لوی غر هم ښکاري.

خا سمه ده، ایا میږي کولای شي چې له تا څخه وپوښتي چې تاسو ولې مونږ ټول په یو ان کې لیدلی شئ؟ ستا ځواب به ورته هرومرو دا وي چې دا طبیعي ده، دا ستا له هغه توان سره توافق خوري چې الله پاک ورباندې ته تخلیق کړی یې، د میږې توان ډېر کمزوری دی، یو کمر او ډبره کې به د

میړانو بلا کلي او کورونه وي خو ولې ته ټول په ډېره اسانه لیدلی شي، خو ولې میږی بیا د خپل توان سره سم ټول هغه څه نه شي لیدلی چې ته یې ګورې، خو دا چې په دې زمونږ د ټولو اتفاق دی چې الله پاک هېڅ مثل او مثیل او شبیه نه لري او په هر څه باندې قادر ذات دی نو په اړه یې دا له مونږ سره بیخي نه دي مناسب چې مونږ هغه ډول پوښتنې ولرو چې الله پاک ته یې لیدل طبیعي دي، د اللهِ قدرت او توان ډېر لوی دی او د مخلوقاتو له قدرتونو بلا عظمت لري، دا څکه چې [أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيرٌ] (۲۳۶)

ژباړه: ایا ته معلومات نه لرې چې الله پاک په هر څه باندې قدرت لري؟

## ایا په تورتمونو کې الله پاک خلک لیدلی شي؟

مونږ کولای شو چې کوچني ته له دې پوښتنې سره سم داسې مستند فلم وروښایو چې زمیني جنګې لښکرې پکې د شپې له مخې هر څه په دوربین کې لکه د ورځې په څېر ویني، یا ورته د هغه مرغانو تصویرانو البم وروښایو چې هغو د شپې داسې لیدل کوي لکه ورځ، یا یې ورته د هغې ویډیوګانو یا ګیمونو په ترڅ کې دا حقیقت روښانه کړو چې ماشوم یې ګوري، څکه لیزر ورته ځینې هغه شیان ورښایي چې د پردې تر شا دي او له کبله یې په تورتمونو کې خلک لیدل کولای شي، له دې ټولو شیانو له مشاهدې وروسته مونږ کولای شو چې کوچني ته ووایو: ایا ودې لیدل چې انسان د خپل کمزوري کیفیت له مخې څنګه کولای شي چې تروږمو کې شیان وي په واضحه توګه ویني؟ نو د الله پروردګار خالق اړوند څه ګمان لرې چې دا انسان او ټول مخلوقات یې پېدا کړي دي؟(۲۳۷)

مونږ ته چې الله پاک کوم کیفیت راکړی دی او کولای شو چې د شپې له مخې پرې هر څه وګورو نو د الله پاک قدرت او عظمت بیخي ډېر پورته دی، سره له دې چې د الله د قدرت او توان مخه هېڅوک نه شي نیولای.

## الله څنګه کولای شي مونږ ویني حالانکه مونږ د بندو دروازو او کړکیو تر شاه په خونه کې پټ او پناه یو؟

له دې پوښتنې سره سم مونږ کولای شو چې طبي شعاعګانې کوچنیانو ته وښایو او په ترڅ کې ورته ووایو: الله پاک چې کوم انسان تخلیق کړی دی کولای شي چې له هر اړخه پټ هډوکی د شعاعګانو په څرک کې ویني نو په هغه رب ته څه ګمان لرې چې همدغه انسان یې پېدا کړی دی ایا هغه به هر څه نه ویني؟

په کامل تاکید سره ویلای شو چې الله پاک مونږ په خپلو کورونو کې د بندو دوازو او کړکیو تر شاه ویني، په ګرد مخلوق کې د الله په څېر هېڅ نشته، الله پاک څه د انسان په څېر نه دی چې لوړې ودانۍ به یې له لیدو مانع واقع شي، هېڅکله نه شي کېدای نه شي چې خالق دې د مخلوق په څېر وي، الله په خپل ټول مخلوق باندې کامل قدرت لري او هغه له شریک او شبیه نه پاک دی، مناسب به دا وي چې دې پوښتنې ته ځواب د ماشوم له سلوکیاتو سره موافق وي، ضرور ده چې ځواب به ورته د هغه داخلي دیني ذوق اړخ ته په کتلو ورکړل شي. (۲۳۸)

## الله څنګه کولای شي زمونږ د ټولو عملونه وپيژني؟ هغه څنګه کولای شي چې په دومره کثرت سره مونږ مراقبه کړي؟

مناسب ده چې د تل لپاره باید ماشوم په دې وروزو چې الله پاک د کمال او جلال او د جمال صفتونه لري، باید ویې پوهو چې د الله قدرت حدود نه لري، الله پاک قدير او قادر ذات دی، چې [أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ] (٢٣٩)

ژباړه: ایا ته معلومات نه لرې چې الله پاک په هر څه باندې قدرت لري؟

دا چې الله پاک عظيم قدرت لري نو په ځمکه او اسمان کې يې هېڅ شی نه شي عاجز کولی، که د مخلوق قدرت هرڅومره لوړ او پورته شي خو ناشونې ده چې د مخلوق قدرت دې د خالق له قدرت سره مقايسه کړو، الله پاک ډېر عظيم او کبير ذات دی، د ذهني تقريب په خاطر کولای شو چې کوچنيانو ته د کيمرو د ويډيوګانو مثال ورکړو چې کيمرې کولای شي چې هره وړه او غټه په ژوندی بڼه خوندي کړي الله پاک مثل اعلی لري او له دې مثال څخه ډېر عظيم دی او عظيم قدرت لري، په نفس الوقت کې هغه کولای شي چې ټول خلک مراقبه کړي، ځکه چې الله لامحدود قدرت لري او علم يې شامل او کامل دی او په ټول مخلوق يې احاطه کړې ده. (٢٤٠)

کولای شو چې د ذهني تقريب په خاطر ورته بل مثال ذکر کړو: که يوه فابريکه وي او خپل ټول موظفين تعقيبوي، له دې پرته چې موظفين وپوهيږي خو هغوی ورته د څار کيمرې ايښې وي، ټول له څارنې لاندې ونيسي خو ولې يو هم پرې پوهه نه وي او په يو وخت کې فابريکه د ټولو موظفينو حالات په هر ډيپارټمنټ کې څاري نو چې کمزوری بنده دا کولای شي نو په هغه الله مو څه ګمان دی چې همدغه انسان يې پيدا کړی دی، ايا خالق توان نه لري چې په يو ان کې خپل ټول بندګان ووينې؟

## انسان ولې مړ کيږي او الله نه مري کيږي؟

مرګ د الله پاک هغه تقدير دی چې ټولو مخلوقاتو ته يې ليکلی دی، الله پاک فرمايي: [كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ] (٢٤١)

ژباړه: هر نفس د مرګ څکونکی دی او بيا به مونږ ته ستاسو رجوع وي.

مرګ د اخروي ژوند لپاره پيل دی او دا ډېره مهمه مرحله ده.

د ژوند له لوازمو څخه مرګ د ضعف او کمزورۍ نښه ده او په الله پاک کې هېڅکله کمزوري نه شي راتللای، ځکه چې الله پاک نه چا پیدا کړی دی او نه مري خو ولې انسان مخلوق دی نو ځکه مري، الله پاک زمونږ په څېر ژوند نه لري، هر څه به فاني وي او الله پاک باقي وي، د الله پاک ژوند د کمال ټولو صفتونو لره مستلزم دی او مهم صفت یې (حيٌّ ) دی چې مرګ پرې نه راځي.(٢٤٢)

## ایا الله پاک له ما سره مینه لري؟

الله پاک غفور او رحیم ذات دی، له پاکو او رښتونو خلکو سره مینه لري، الله باک فرمايي: [يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ] (٢٤٣)

ژباړه: الله به له دوی او دوی به له الله سره مینه لري.

له بندګانو سره د الله د مينې نښه دا ده چې هغه يې پالي او عزت احترام يې کوي، چارې يې سمبالوي او رزق ورکوي، ګناهونه يې بخښي ، په مونږ کې هر څوک کولای شي په خپل ځان باندې د الله پاک لطف او کرم وپېژني، کوم بنده چې الله پاک ته ځان نزدې کوي او فرمانبردار وي او د الله د محبت لپاره ټول موجبې اسباب په کار اچوي، نو الله پاک هم ورسره مینه لري، لکه څوک چې پنجګانه لمونځ باندې ځانګړې خیال لري، مور او پلار پالي، خیراتونه کوي او له خلکو سره ښه برخورد کوي، رښتیا وايي او قران په کثرت سره لولي، په اذکارو باندې خاص پام لري، داسې نور نیک عملونه، نو که څوک داسې نیک عملونه کوي ضرور ورسره الله پاک مینه لري. (٢٤٤)





# د ملائکو
## متعلق پوښتنې...

### ملائک څوک دي؟

ملائک د الله پاک مخلوق او له نور څخه پیدا دي، الله پاک له انسانانو څخه مخکې پیدا کړي دي، دوی اراده، عقل او وزرې او ښایسته شکلونه لري، دوی توان لري چې ځانونه د بشر په څېر کړي، ملائک خوراک څښاک نه کوي او د الله پاک داسې مخلوق دی چې ټول هغه څه کوي چې امر ورته پرې کېدای شي، دوی په فضل او فضیلت کې سره خپل منځ کې توپیرونه لري، د فضیلت په سر کې جبریل، اسرافیل او میکائیل علیهم السلام او نور ملائک دي، څنې ملائک ( حَفَظَه ) دي، د دوی دنده دا ده چې د انسانانو حفاظت کوي، ملائک بیخي ډېر دي او هر یو یې جلا دنده لري او په تنفیذ یې بوخت وي. [۲۴۵]

### ملائکو نومونه څه شی دي؟

ملائک ګڼ شمیر دي او له الله پرته بل چا ته یې شمېر معلوم نه دی، د ځینو نومونه لکه : جبریل، میکائیل، اسرافیل، رضوان، مالک – علیهم السلام – دي، نور هم دي لکه : حملة العرش، حفظه چې د انسانانو عملونو خوندي ساتي او داسې نور ملائک. [۲۴۶]

### الله پاک دوی ولې پیدا کړي دي؟

الله پاک دوی د خیر د کارونو لپاره پیدا کړي د ي، دوی مطلق خیر او خیر دي، دوی نه شر پېژني او نه یې کوي، په اصل کې ملائک په اسمان کې دي خو د ځینو تقاضاګانو له کبله هغوی ځمکې ته راکوزیږي ترڅو هغه دندې په سمه توګه ادا کړي چې الله ورسپارلې وي، لکه د انسانانو او د اعمالو خوندیتوب یې، د دوی مراقبه او کومک کول، دوی ته استغفار غوښتل او د خیر اوعلم په مجالسو کې ګډون کول او داسې نور... شونې ده چې ماشوم ته وویل شي ملائک دوه مهمې دندې لري: د الله پاک عبادت کول او د نړۍ چارې مخ په وړاندې بوتلل. [۲۴۷]

### مونږ ملائک ولې نه شو لیدای؟

انسانان نه شي کولای چې ملائک په هغه شکل ووینې چې الله پاک پرې پیدا کړي دي، ملائک کولای شي چې ځانونه د بشر شکل ته واړوي ترڅو انسانان یې ووینې او له دوی سره لائق تعامل وکړي، لکه بې شمیره ځله جبریل علیه السلام خپله د بانده چې په شکل راغلی دی لکه د دیني امورو د تعلیم په حدیث کې یې تفصیل شته. [۲۴۸]

## پېریان څوک دي؟

پېریان د ا لله پاک مخلوق دی او له اورڅخه یې پېدا کړي دي، دوی هم د الله پاک د امر په منلو او له نواهیو څخه یې د ځان په ژغورلو مامور دي، دوی هم د نورو مخلوقاتو په څېر مري او مونږ یې نه شو لیدلای او نه یې توان لرو، دوی ته الله پاک له انسان نه بدل قدرتونه ورکړي دي، دوی کولای شي والوځي او په چټکه توګه نقل و حرکت وکړي او خپل شکل ته بدلون ورکړي (۲۴۹)، پېریان او انسانان سره په خلقت او تخلیق کې بلا توپیر لري، انسان له خاورې ختمې او پېریان له اور څخه پېدا شوي دي.

## څوک ځواکمن دي؟ ملائک او که پېریان؟

ملائک به په شپېلۍ کې تر پوکې پورې ژوندي وي خو ولې جنات به له دوی څخه وړاندې مري، جوته شوه چې ملک الموت د الله په امر سره له خلکو څخه روحونه اخلي [اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنْفُسَ حِينَ مَوْتِهَا] (۲۵۰)

ژباړه: الله پاک نفسونه وفات کوي کله یې چې د وفات وخت راشي.

جوته شوه چې له دې ناحیې څخه ملائک په پېریانو باندې ځواکمن دي، ان چې په دنیوي ژوند کې پرې هم ځواکمن دي پېریان له ملائکو څخه ډار لري خو ولې ملائک یې له پېریانو څخه نه لري، د بدر په غزا کې چې کله شیطان وکتل چې ملائک الله پاک د مومنانو د مرستې لپاره راستولي دي کافرانو ته یې وویل: [إِنِّي بَرِيءٌ مِنْكُمْ إِنِّي أَرَى مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ] (۲۵۱)

ژباړه: زه درڅخه بیزاره یم، زه هغه څه وینم چې تاسو یې نه وینئ زه له الله څخه ډارېږم، حالانکه الله پاک د شدید عذاب والا دی.

## ایا په ملائکو به هم مرګ راځي؟

ملائک هم د الله پاک له مخلوقاتو څخه مخلوق دی، او له الله پرته به هر ډول مخلوق مري، الله حي او قیوم ذات دی هغه نه مري (۲۵۲)، الله پاک فرمایي: [كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ] (۲۵۳)

ژباړه: د الله له مخ پرته به نور هر څه هلاک او له منځه لاړ شي.

نو د ځمکې او اسمان ټول مخلوقات به مري مګر هغه څوک چې الله پاک یې ژوندی وغواړي، خو له الله پرته به نور څوک پاتې نه شي، الله پاک حي او قیوم ذات دی او هغه به د تل لپاره ژوندی وي.

# داسماني کتابونو
# په تړاو پوښتنې...

## اسماني کتابونه څه شی وي؟



اسماني کتابونه ټولو هغو کتابونو ته ويل کيږي چې الله پاک له اسمان څخه په خپلو پيغمبرانو باندې نازل کړي وي، ترڅو يې خلکو ته تبليغ کړي او دغه شريعت په تنفيذ سره پياوړی کړي، اسماني کتابونه هم د مخلوق لپاره هدايت او هم ورلره رحمت دی ترڅو په دنيا او اخرت کې د سعادت څښتنان شي، مونږ ته چې د کومو اسماني کتابونو معلومات رارسيدلي دي په دې ډول دي: ځيني صحيفې چې په ابراهيم عليه السلام باندې نازلې شوي دي، په داود عليه السلام باندې زبور، په موسی عليه السلام باندې تورات، په عيسی عليه السلام باندې انجيل او په محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم باندې قرانکريم نازل شوی دی. (٢٥٤)

## مونږ ولې قران ته اړتيا لرو؟ او قران ولې تل پاتې معجزه ده؟

يوه وړه اله چې انسان يې جوړه کړي او ترځنګ يې د لائق استعمال په خاطر ورسره کوچنی کتابګی هم کيږدي ترڅو له آلاتو څخه د استعمال په دوران کې ورڅ استفاده وشي، نو انسان چې د الله پاک مخلوق دی ډېر لائق دی چې د ارشاد او هدايت، د فلاح او بهبود، د دنيوي او اخروي صلاح او سلامتيا په خاطر ورته کتاب ورکړي، الله پاک فرمايي: [أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ] (٢٥٥)

ژباړه: ايا انسان په دې نه پوهيږي چې چا پيدا کړی دی؟ حالانکه الله پاک بارک بين او خبردار ذات دی.

اما دا خبره چې قران تل پاتې معجزه ده ځکه چې محمد صلی الله عليه وسلم اخرنی پيغمبر دی نو بايد ده چې معجزه يې هم په دې تل پاتې وي چې له هغه وروسته بل پيغمبر نشته، نو واجب ده چې په مخلوق باندې يې حجت قائم او دائم وي او تر قيامت پورې يې ټول خلک چيلنج کړي دي، د قرانکريم د اعجاز دليلونه ډېر زيات دي خو مهم يې په دې توګه دي:

لغوی او بلاغي اعجاز: دا هغه ډول اعجاز دی چې الله پاک ورباندې ټول عرب چې د بیان اوفصاحت قائدین او رائدین ول چیلنج کړل خو انس او جن یې له دې پاتې راغلي دي چې د قران په څېر کتاب راوړي، دا په دې دلیل دی چې قران کریم رباني او الهي مصدر دی. (۲۵۶)

## الله پاک ولې مخکني کتابونه له تحریف نه محفوظ نه کړل؟

الله پاک هغه څه کوي چې یې خوښه شي، د ځینې کارونه حکمتونه یې مونږ پېژنو او د ځینو نه، خو ولې له دلیلونو څخه داسې جوتیږي چې مخکني کتابونه د معجزې په شکل الله پاک نه و رالیږلي له دې کبله تل پاتې کېدل یې هم مطلوب نه و، دا ډول د تېرو خلکو دیني شریعتونه هم ځکه محدود و چې مطلوب خلک پرې محدود ول. (۲۵۷)

## د قرانکریم په عدم تحریف باندې دلیل څه شی دی؟

دا ډول پوښتنې هغه کوچنیان کوي چې د متوسطې مرحلې څښتن وي، چې نه بیخی کوچنی او نه مراهق وي، له دې کبله ضرور ده چې له عقلیت څخه په ډک او ارام اسلوب سره ځواب کې هغه دلیلونه ورته وویل شي چې د قران صحت تثبیتوي، مونږ باید دې ډول کوچني ته ووایو: یو شی چې څومره تکراریږي هومره پیاوړه کیږي، چې څومره نشر او انتشار ولري هومره تاکیدي وي، قران کریم مونږ ته د تواتر له مخې رارسېدلی دی – دلته باید کوچني ته د متواتر معنا توضیح شي چې متواتر دې ته ویل کیږي چې بسته ډله له بسته ډلې څخه یو څه واوري چې په دروغو راټولېدل یې عقل نه مني – ، په دې باندې هر خاص او عام پوهیږي، مسلمانانو هم کاملې پیړۍ دغه قراني نقل له مخکنۍ کاملې پیړۍ څخه کړی دی، دوی یې په خپلو مجلسونو کې یو بل ته لولي او په لمونځونو کې یې تلاوت کوي، خپلو بچیانو ته یې ور زده کوي، که یو دینی لوی عالم د قران کریم د کلماتو ناسم تلفظ وکړي نو وړاندې له دې چې لویان پرې وخبریږي کوچنیان به یې ناسم تلفظ تصحیح کړي، په دې طریقې سره یې مونږ ته قرانکریم له زیادت او نقصان، له تحریف او بدلون پرته محفوظ رارسولی دی، که له دې دلیل څخه انکار شونې وي نو دا انکار به د ثابتو حقیقتونو څخه انکار ته وده وکړي لکه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضي الله عنهم شتون، یا نور مشهورې تاریخي څېرې، او حالانکه له دې حقیقتونو څخه انکار هغه څه دي چې ټول عاقلان یې نه مني، الله پاک ټول مخلوق چیلنج کړی دی چې د قران په څېر کتاب راوړي خو ولې ناتوانه ترې پاتې شول، قرانکریم له دې سره چې غټ او ستر کتاب دی خو هېڅ ډول تناقض او اختلاف نه لري، هر خبر او تشریع، هر حکم او قول یې بې پناه اعجاز لري، دا ټول په دې ښکاره دلیل دی چې قران د کوم بشر کتاب نه دی چې د دوی د اقوالو په څېر پکې تغییر او نقصان راشي، قران کریم دالله پاک کتاب دی او هغه یې په خپله د حفاظت او خوندیتوب ذمه لري. (۲۵۸)

# د پیغمبرانو
# په تړاو پوښتنې...

## پیغمبران او رسولان څوک دي؟

دوی له بني ادم څخه انسانان دي، په رسالت ورته الله پاک وحي کړې وي او امر کړې یې وي چې خلکو ته یې دین تبلیغ کړي او ایکې یواځې د الله پاک عبادت ته خلک راوبلي، لومړی یې ادم علیه السلام او اخرنی یې محمد صلی الله علیه وسلم دی، شمېر یې ډېر ځکه دی چې الله پاک د ځمکو ټولو هغو خلکو ته راستولي دي چې د ځمکې پر مخ اباد ول، د تاریخ په هره مرحله کې به پېغمبر و او خپل قوم به یې الله ته دعوت کو او د هدایت او رشاد لارې به یې ورته ښودلې.

## الله پاک پېغمبران ولې رالیږي؟

الله پاک په خپلو بندګانو باندې د رحمت له کبله پېغمبران راستوي ترڅو لارښونې یې وکړي او د خپل رب پیغامات ورته ورسوي، رسول د خپل قوم غړی وي او د وحي له راتګ وړاندې یې ټول سم صحیح پېژني، خلک یې په ښه سرېتوب او د خیر ښېګړې سره په مینه ګواهي ورکوي، الله پاک پیغمبران د خلکو لپاره نېکه مقتدا جوړوي، دوی ته سلوک او نېک تعامل او اخلاق او ټول ګټور شیان ور زده کوي او له هر تکلیف ده او زیانمن شي څخه ورته د ځان ژغورنې سپارښتنه کوي، الله پاک پېغمبران ځکه راستوي چې په مخلوق باندې قیام حجت وکړي او ټول خلک په یو دین چې خالص د الله پاک عبادت دی ورباندې راټول کړي (۲۵۹)، خلک هغه چا ته اړتیا لري چې دین ورته توضیح او په خپله ژبه ورته سمه صحیح لاره وښایي، له دې کبله الله پاک په دغو پېغمبرانو باندې دخپل قوم په ژبه کتابونه ورکړي دي تر څو د الله پاک پیغامات ورته په سمه توګه تبلیغ شي.

## ایا پېغمبران له خطا څخه معصوم دي؟

پیغمبران د بشریت برخه ده او د انسانیت معناګانې ورپکې دي، د رسالت په تړاو ورته الله پاک عصمت ورکړی دی او له ټولو هغه ډول کړو وړو څخه یې ژغوري چې په اخلاقو او سلوکو کې یې قدح او عیب پېدا کوي، دا په دې خاطر چې د خلکو لپاره قدوه حسنه جوړه شي او په اقوالو او اعمالو یې خلک پوره قناعت وکړی شي او ترڅو خلک ونه کړی شي چې په رسالت او اسماني استازیتوب کې یې عیبجن کړي، له دې ټولو باوجود بیا هم پیغمبران بشر دي او هغه ډول عادي خطاګانې ورڅخه صادرېږي چې په رسالت او اسماني استازیتوب کې نقص او عیب نه پېدا کوي، د بېلګې په توګه: د زراعت قابله ځمکه کې خطا کېدل، یا د مورچې نیولو ځای کې خطا کېدل(۲۶۰).

## محمد صلی الله علیه وسلم څوک دی؟

محمد صلی الله علیه وسلم هغه اخرني پیغمبر دی چې الله پاک راستولی دی، خپل نوم یې محمد، د عبدالله ځوی او د عبدالمطلب لمسی و، هاشمي او قرشي و، د فیل په کال د ربیع الأول میاشت او د دوشنبې په ورځ پیدا دی، مور یې پرې امیدواره وه چې پلار یې ومړ او شپږ کلن و چې مور یې هم مړه شوه، نیکه یې څارنه په ذمه لرله خو چې نیکه یې مړ کېده د ده مبارک عمر اته کاله و، بیا یې کفالت تره ابو طالب واخست، د ښو اخلاقو او تعامل له کبله به ورته خلکو امین او صادق ویل، څلوېښت کلن و چې په اسماني استازیتوب وګمارل شو او په مکه کې یې خلک اسلام ته دریالس کاله دعوت کړل، کله چې ورته په دعوتي امورو کې حالات پیچیده شول مدینې ته یې هجرت وکړ او هلته یې لس کاله خلک دعوت کړل، انصار او مهاجرین یې سره وروڼه وروڼه کړل او د الله پاک شریعت احکام یې تطبیق کړل، د هجرت په یولسم کال یې له دنیا څخه په داسې حالت کې رحلت وکړ چې امت ته یې دین تبلیغ او امانت یې وروسپارت. (٢٦١)

## د الله رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت تصدیق څنګه باید ثابت شي؟

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د نبوت دلیلونه بلا ډېر دي چې مهم یې قرانکریم دی، قران کریم هغه معجز کتاب دی چې په پیړیو پیړیو خلک یې په خپل اعجاز ملغلرو او لالونو کې هک پک دریان کړي دي، په رسالت کې یې د صداقت بل دلیل د هغه سیرت او سلوکي صفتونه دي چې له دوستانو څخه مخکې یې پرې خپلو دښمنانو هم اقرار کړی دی، ان چې کافرانو به هم ورته صادق امین ویل، په رسالت کې یې د صداقت بل دلیل متواترې معجزې دي چې ټولو هغو خلکو لیدلي دي چې د هغه هم عصره ول او په پیړیو پیړیو خلکو روایت کړي دي، په رسالت کې یې د صداقت بل دلیل داسلامي دین غښتلی شریعت دی چې کمال او جمال یې رڼاند او ځپاند دی، د صداقت بل دلیل یې دا دی چې په مخکنو اسماني کتابونو کې یې زیری راغلي ول، د صداقت بل دلیل یې دا دی چې په هر زمان او مکان کې یې اسلامي دین دومره نشر او اشاعت لري چې بل دین یې نه لري، په رسالت کې یې د صداقت بل دلیل دا دی چې د تېرو امتونو اړوند یې معلومات کره او د راروانو اړوند معلومات یې سم صحیح خیژي. (٢٦٢)

## ایا په یوه شپه کې یې اسماني سفر تکمیل ناشونې نه ده؟

په دغه شپه باندې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په براق باندې تر بیت المقدس هم یوړل شو او بیا د جبریل علیه السلام په ملتیا تر اسمان پورته کړی شو، الله پاک په هر څه باندې قدرت لري او هېڅ شی یې په اسمانونو او ځمکو کې نه شي بې توانه کولای، خو نن مونږ وینو چې کمزوری او بې وسه انسان وتوانېد چې د داسې الوتکې نوښت وکړي چې له اواز څخه تونده وي، او همدغه انسان د دې نوښتګر دی چې په یو ان کې د دریو زاویو تصویر واخستل شي نو الله پاک خو هم د دغه انسان خالق او ډېر لوی، عظیم او جلیل دی.

## محمد صلی الله علیه وسلم ولې اخري پیغمبر دی؟

د اسماني استازو سلسله له لارښوني او ارشاداتو سره تینګه اړیکه لري، دا چې مخکنو پیغمبرانو له مړینې وروسته اسماني کتابونو کې د زیادت او نقص لاسوهنې شوې وې نو دا د الله پاک د حکمت تقاضا وه چې ورځخه وروسته داسې پیغمبر راواستوي او داسې کتاب ورکړی چې تر قیامت پورې پکې لاسوهنې ونه شي، دا چې قرانکریم کریم په خپل ذات کې واضح او مبین کتاب او په ګرد مخلوق باندې د الله پاک حجت او د تل لپاره پاتې دی نو ځکه یې پیغمبر هم اخري دی.

## پر مونږ د نبي صلی الله علیه وسلم مینه ولې واجب ده؟

ځکه چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره مینه د ایمان رکن دی، په الله باندې ایمان لرل له نبي صلی الله علیه وسلم سره له مینې پرته کمال ته نه رسیږي، له الله پاک سره یې د مینې او محبت ذکر هم ځکه شوی دی چې د دې عظیم رسالت لپاره یې د همده انتخاب کړی دی، په خلکو کې یې د غوره ترین نسب او أقوالو، اخلاقو او اعمالو څښتن انتخاب کړ، الله پاک په دې ډېر ښه پوهیږي چې د اسماني استازیتوب امانت به چا ته ورکوي، دا چې الله پاک د دې عظیم محنت لپاره د هغه انتخاب وکړ نو ځکه واجب ده چې د ټولو خلکو ترمنځ ورسره مونږ ځانګړې مینه او محبت ولرو، نبي کریم صلی الله علیه وسلم دی چې خلکو ته یې خپل رب وښود، د خپل امت لپاره هغه ډېر بهترین پیغمبر و، په خپل رعیت ډېر مهربانه و، له الله پاک نه وروسته په دې امت باندې لوی محسن نبي کریم صلی الله علیه وسلم دی (٢٦٣)، اسلامي دین ته په دعوت او د خیر ښېګړې په کارونو کې نبي صلی الله علیه وسلم ډېر تکلیفونه برداشت کړي دي، که د دعوت په مهال به څوک انکاري شول د هغه مبارک سینه به تنګه شوه، شفقت به یې پرې راغی چې که زما ونه مني نو اور ته به لاړ شي، الله پاک فرمایي: [فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ عَلَى آثَارِهِمْ إِنْ لَمْ يُؤْمِنُوا بِهَذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا] (٢٦٤)

ژباړه: ای پیغمبره! شاید ته له غم او خفګان له کبله په خپل قوم ځان مړ کړې چې دوی په دې قران ولې ایمان نه راوړي.

نو له دې کبله نبي کریم صلی الله علیه وسلم ډېر حقدار دی چې له الله پاک وروسته ورسره مینه او محبت ولرو.





# د قیامت د ورځې
## په تړاو پوښتنې...



### د اخرت ورځ څه شی ده؟

د اخرت ورځ هغه ورځ چې د حساب کتاب لپاره به وریکې الله پاک ټول اولني او اخرني راغونډ کړي، د اخرت ورځ ورته ځکه وایي چې له دې نه وروسته بله ورځ نشته، په دغه ورځ به الله پاک له خلکو سره په ټولو هغو عملونو حساب کتاب وکړي چې دوی په دنیا کې کړي وي، که چا د خیر ښیګړې کارونه کړي وي او د الله فرمانبرداره وي نو جنت ته به یې بوځي، او که چا وریکې شر او شرارت او د الله عصیان کړی وي اور ته به یې بوځي، په دغه ورځ به د خلکو دنیوي ژوند پای ومومي، دې ورځ ته د قیامت ورځ هم وایي ځکه چې خلک به وریکې له قبرونو نه راپورته شي او قیام به وکړي اسمان ته به ګوري او حساب کتاب ته به روان وي. (٢٦٥)

### قیامت به کله وي؟ او ولې یې علم خلکو ته نشته.

دا علم هیڅ چا ته نشته چې قیامت به کله وي، الله پاک فرمایي: [يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا *فِيمَ أَنْتَ مِنْ ذِكْرَاهَا *إِلَى رَبِّكَ مُنْتَهَاهَا* إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَخْشَاهَا*كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا] (٢٦٦)

ژباړه: مشرکان له تا نه د قیامت دورځې اړوند پوښتنه لري * خو تا ته یې هیڅ علم نشته * د قیامت د ورځې علم الله پاک سره دی * ته یې اړوند هغه چا ته ډار ورکوې چې له دغې ورځ نه خوف ترس لري * چې کله یې دوی ووینې نو وبه پتیلي چې مازیګری یا یو سهار یې تېر کړی دی.

قیامت ورځ الله پاک له مونږ نه پټه ځکه ساتلې ده چې هره ورځ ورته چمتوالی ونیسو او نیک عملونه وکړو او له شر او شرارت څخه لاس په سر شو، که چرته انسان ته ددغې ورځ علم وای نو

تر هغه به نه توبه ګار کېده چې لږ وخت يې نه و پاتې، او اوس چې دنيا له کوم فساد او تخريب ډکه ده کچه به يې بيخي ډېره پورته وه. (۲۶۷)

## حساب کتاب څه شی دی؟

دا هغه څه دي چې له کبله به يې الله پاک ټول اولني او اخرني راغونډ کړي [قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَوَّلِينَ وَٱلۡآخِرِينَ * لَمَجۡمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَاتِ يَوۡمٍ مَّعۡلُومٍ] (۲۶۸)

ژباړه: ورته ووايه چې د معلومې ورځې په خاطر به الله پاک ټول اولني او اخرني راغونډ کړي.

بيا به يې په خپلو خپلو عملونو وخبروي او پرې پوهه به يې کړي او بيا به هر يو ته په خپل خپل عمل مجازات ورکړي، که يې عمل نيک وي بدله به يې ښېکه وي او که عمل بد وي سزا به يې هم بده وي، الله پاک فرمايي: [ فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ * وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ] (۲۶۹)

ژباړه: که څوک د ذرې په څېر د خير عمل وکړي وبه يې ويني، او که څوک د ذرې په څېر د شر کار او کسب وکړي نو وبه يې ويني.

## مرګ څه شی دی؟

شپږ کلنې يا ورځخه په لږه موده کې کوچنی نه شي کولای چې د مرګ او بعث معنا په سمه کامله توګه ادراک کړي، د ګرد بشريت لپاره مرګ اخرنی پړاو دی او په دې کې هېڅ چا ته استثناء نه ده حاصله، له شپږو څخه پورته تر اته کلنۍ پورې ماشوم پوهېږي چې مرګ به هرومرو وي او هر چا ته راځي، خو تر لس کلنۍ پورې بيا کوچنی کولای شي چې د مرګ او بعث اړوند سمه معنا او تفسير ادراک کړي، کله کوچنی په لومړي ځل د خپلې کورنۍ د کوم غړي د مړينې سحنه ويني دا مهال به د ماشوم د مرګ او قبر اړوند څه سوچ او فکر وي؟

داسې مهال اکثره ماشومان له رعب او ترس څخه ډک وي، لازمه ده چې دا مهال مونږ ماشوم ته د مرګ اړوند هغه تفصيل ورکړو چې دروغ پکې نه وي او قناعت ورکړو چې مړ شوی نور له مونږ څخه مسافر دی، د نورو پرتله به ده ته حقيقت ډېر معلوم وي.

وړاندې له دې چې کوچنيان د خپلې کورنۍ د کوم غړي د مرګ خبر واوري بايد ده چې مړه مرغۍ چنچڼه – ور ښايو، يا وچه کړسه ونه ور ښايو يا نور کوم حشرات چې مړه شوي وي، څکه محسوس شکل ماشوم ته د مرګ مفهوم او معنا توضيحوي، بيا به زيار اوباسو چې کوچني ته په ډېر وضاحت ووايو چې دا مړی د ژوند لپاره بلې نړۍ ته روان دی، خو د الله په اذن سره مونږ ټول به په جنت کې سره يو ځای کيږو، اړينه به وي چې ماشوم وپوهيږي چې مرګ د انتهاء په معنا نه دی، بلکې د مرګ معنا دا ده چې مومن بنده له يو څخه بلې بهترې زندګۍ ته نقلوي، او شرپسند انسان د خپلو کړو وړو سزاګانو ته بوځي، الله پاک چې مونږ مړه کوي دا معنا نه ده چې هغه له مونږ سره مينه نه لري، بلکې په دې خاطر مو مړه کوي چې د هغه په څنګ کې اووسيږو، په داسې ښايسته جنتونو کې ووسيږو چې جمال او ښکلا نه يې زمونږ تصور ډېر قاصر دی. (۲۷۰)

## ځینې ماشومان نو بیا ولې مړه کیږي؟

په عمومي توګه ماشومان شرپسند نه وي او نه قصداً عمداً ناسم کارونه کوي، الله پاک چې کوم کوچنیان مړه کوي خپله ورله استقبال کوي او جنت ته یې ننباسي، کله چې انسان وفات شي او بیخي خاورې ایرې شي خو روح یې لا هم باقي پاتې وي، روح یې خالق تعالی جل جلاله ته پورته کړی شي، همدا راز د دغه انسان ښه کردار او نوم هم د خلکو په زړونو کې د تل لپاره پاتې وي، له دې کبله لازمي ده چې انسان د خپل رب سره دیدار ته د خیر د کارونو په کولو او له شر او شرارت څخه د ځان په ساتلو سره پوره چمتوالی ونیسي او د اسلامي شریعت تعلیماتو ته پوره ملتزم وي. (٢٧١)

## مونږ چې کله ومرو نو چرته ځو؟

کله چې په دنیا کې زمونږ هغه موده تر پای ورسیږي چې الله پاک راته مقرره کړې ده نو قبر ته مو نقل مکاني وشي – قبر د مړو لپاره ځانګړی ځای دی – قبر یا د جنت له باغیچو څخه د هغه چا لپاره باغیچه وي چې په الله پاک باوری وي او یقین پرې لري، اطاعت یې کوي او په خپل دنیوي ژوند کې نیک عملونه کوي، تر قیامت پورې دغه مومن بنده په نعمتونو او مزو چړچو کې وي. (٢٧٢)

- **: ایا مړی اوریدل او لیدل کولای شي؟ د خاورو لاندې هغه څه ډول تنفس اخلي؟ ایا هغه خوراک څښاک او خوب کولای شي؟**

هو، کله چې مونږ په مړي باندې سلام وکړو هغه زمونږ د سلام کلمات اوري او که دعاګانې ورته وکړو نو دعاګانې ورته رسیږي، خو ولې هغه زمونږ په څېر نه تنفس کولای شي او نه ورته اړتیا لري، هغه زمونږ له ژوند سره په کامل توپیر د بل ژوند پړاو ته تللی دی، اخروي حیات له برزخ څخه پیلیږي ، دا مرحله خپل قوانین او جلا کیفیت لري، دلته نه تنفس او نه خوراک څښاک شته، نه خوب او کار روزګار شته، بلکې یا استمراري نعمتونه او یا استمراري عذاب وي. (٢٧٣)

## جنت څه شی دی او هلته څه وي؟

جنت دار السلام دی، د امن او امان کور دی، ډېر ډولي او ښایسته ځای دی، چې انسان د څه شي تمنا وکړي او خوښ یې وي هلته به وي، جنت هغه ځای دی چې نیک عمله خلک به ورته لاړ شي، جنت اته دروازې او لوړې لوړې ډېرې درجې لري، مومنان بندګان به ورته د خپلو نیکو عملونو له مخې خپلې خپلې برخې ته لاړ شي، د ډېرو حسناتو څښتن ځای به په کې د هغه چا پرتله چې حسنات یې کم وي ډېر ښایسته او اعلی او مزیدار او خوندور وي، خو جنتیان به ټول په امن او امان، په ارام او سکونت سره ژوند کوي، د الله په رضا او نعمتونو کې به وي، مونږ به په جنت کې د کامل سعادت څښتنان یو، نه به ناجوړه کیږو او نه به رباندې سترې ستومانتیا راځي، مونږ به هلته الله پاک او د هغه رسول او ټول انبیاء علیهم السلام وینو، هغه خلک به هم وینو چې مونږ ورسره مینه لرو، هلته به ټول هغه څه وي چې زمونږ خوښ وي او غواړو یې، که هغه خوراک وي او که څښاک او که نور نعمتونه. (٢٧٤)

## اور څه شی دی؟ او الله پاک ولې پيدا کړی دی؟

اور د عذابونو کور دی، اور هغه ځای دی چې الله پاک د ټولو هغو خلکو لپاره تيار کړی دی چې په شر او شرارت بوخت وي، خلکو ته اذيتونه ورکوي او دالله په عصيان ککړ وي، نه د الله پاک امر مني او نه يې د نواهيو نه ځان ساتي.

## حيوانات به چرته ځي؟ جنت او که دوزخ ته؟

حيوانات په عبادتونو مکلف نه دي، بلکې مسخر مخلوق دی چې الله پاک د انسان د ګټې په خاطر پيدا کړي دي، دوی حساب کتاب او حتی عقاب نه لري، د قيامت په ورځ به الله پاک ټول مخلوقات راغونډ کړي او له يو بل نه به ورله قصاص او بدلې واخلي، کونډی حيوان به له ښکرور حيوان څخه بدله واخلي، کله چې الله پاک د دوی له قصاص څخه فارغ شي امر به ورته وکړی چې خاورې ايرې شئ نو خاورې ايرې به شي. (٢٧٥)





# د تقدير
# په تړاو د کوچنيانو پوښتنې...

## قضاء او تقدير څه معنا ده؟

قضاء او قدر د ایمان رکن دی، الله پاک فرمايي: [وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرًا] (٢٧٦)

ژباړه: هغه هر شی پیدا کړی دی او اندازه يې ورله ټاکلې ده.

قضا او قدر د الله پاک هغه علم دی چې د ګردو شيانو لپاره يې پکې له وجود او تخليق وړاندې اندازه لګولې ده، بيا يې ليکلي دي او د خپل مشيئت سره يې کوي او وخت په وخت يې پيدا کوي. (٢٧٧)

## چې یو شی پیدا نه وي څنګه يې الله ته علم وي چې داسې به کيږي؟

ممکن ده چې کوچنيانو ته د دې پوښتنې په ځواب کې بسيط حسي شيان په مثال کې ورکړل شي لکه: د ګیمونو نوښتګر، چې لوبه يې پرې کړې نه وي خو ايجاد يې کړي او ښه ورته ياده وي، دا ځکه چې نوښتګر يې خپله دی او هر غټ او کوچنی يې په علم کې راوستی وي، هغه د لوبې په ابعادو او جزئياتو باندې کامل او شامل محيط علم لري، هغه مجالات يې هم علم کې وي چې لوبه بايد څنګه مخکې حرکت پکې وکړي شي، الله پاک هم دا انسان پیدا کړی دی او په دغو شيانو کامل او شامل محيط قدرت لري، د قدرت او توان په لحاظ الله پاک عظيم،، د علم په اعتبار واسع او د تخليق په اعتبار د کمال څښتن دی، د یو شي د تخليق نه وړاندې، له تخليق وروسته او د دې په اثناء کې هغه پرې محيط علم لري، دا چې انسان ، زمان او مکان الله پاک پيدا کړي دي نو وړاندې له دې هغه په مخکنو او وروستنو او چې لا پيدا کيږي ورباندې پوره علم لري.



## ایا مونږ مجبور یو؟ ایا انسان په خپلو کړو وړو کې اختیار لري؟

انسان په ځینو شیانو کې مجبور او په نور ځینو کې مختار دی، د ولادت، مرګ، د ژوند موده د مور او پلار په انتخاب او نه انتخاب، د خپلولۍ په پاللو او داسې نورو شیانو کې مونږ مجبور یو، خو په ځینو امورو کې بیا مونږ مختار یو لکه : لمونځ کول او نه کول، ایمان او کفر، له دې اختیار باوجود زمونږ ارادې د الله پاک د ارادې تابع د ي، مطلب دا چې که هغه وغواړي اختیار راځخه واخلي اختسلای یې شي، که هغه وغواړي چې د یو کار له پرېښودلو څخه مو رابند کړي کولای شي، خو دا یې پرېکړه ده چې انسان ته اختیار ورکړي او له اختیار وروسته ورسره حساب کتاب وکړي، همدا د الله پاک د دې قول معنا ده: [وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ] (۲۷۸)

ژباړه: تاسو څه شی نه غواړئ مګر دا چې رب العلمین الله یې وغواړي.

ممکن دي چې کوچنیانو ته د اختیار او جبر مسئلې وضاحت په عملي بڼه ورکړل شي، استاد او مربّي به شیشي پیاله راوغواړي، کوچني ته به ووایي: ایا ته کولای شې چې په ځمکه باندې دا پیاله وغورځوې چې ما ته یې کړې؟ طبعي ده چې د کوچني ځواب دا وی: هو، کولای شم، استاد به ورځخه په توندې وپوښتي: ولې یې نه کوې؟ کوچنی به دا ځواب ورکوي چې دا کار ناسم دی او کول یې مناسب نه دي، دلته استاد د کوچني په دې کلام تعلیق وکړي چې په ازل کې هم الله پاک دا لیکلي و چې د پیالۍ به ته نه ماتوې، ځکه چې ته ډېر ښه ماشوم یې، دا هم د الله په علم کې و چې شقي کوچنی به راپورته کیږي او دا پیالۍ به ماتوي، ایا په ځمکه باندې د جام له غورځولو نه چا ستا لاس نیوی وکړ؟ او ایا کوم چا شقي ماشوم مجبور کړی و چې دغه جام په ځمکه ګوزار کړي تر څو مات شي، همدا ډول هدایت او ضلالت هم دی، بیا به کوچني ته وویل شي: انسان په دې نه پوهیږي چې الله پاک یې اړوند څه پرېکړه کړې ده او نه ته په دې مجبور یې چې د ځان په تړاو د الله د پرېکړو کشف وکړې، په دې باب کې له تا څخه ایمان مطلوب دی چې د الله پاک علم کامل او شامل دی، او هرڅه هغه لیکلي او اندازه کړي دي، ته د خپلو ارادو مسؤل یې، له تا څخه د دې پوښتنه کیږي چې د الله ماموراتو ته څومره ژمن وې او له نواهیو څخه دې ورله ځان څومره را قابو کو، ستا د ارادې او قدرت محور او احاطه همدومره ده. (۲۷۹)

## الله ولې چا ته هدایت او چا ته یې نه کوي؟

دالله پاک د قول له مخې هغه ټولو ته هدایت کړی دی، هغه فرمایي: [وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ] (۲۸۰)

ژباړه: او مونږ انسان ته دواړه لارې ښودلې دي.

په ایت کې د (وَهَدَيْنَاهُ) معنا هغه هدایت دی چې د مستقیمو لارې وضاحت او شرح ورته کوي داسې توضیح چې باطل پکې واضح او حق پکې واضح وي، له دې کبله الله پاک خلکو ته اختیار حریت ورکړی دی، اوس خلک دي چې د ځان لپاره سمه او څوک ناسمه لاره اختیاروي. (۲۸۱)

## که الله پاک په ازل کې لیکلي وي چې یا به تیروځي او یا ګمراه کیږي نو ولې بیا مونږ سزا وار کوي؟

دغه د الله علم دی او بشریت هېڅکله د الله په علم مزید علم نه لري، له انسان سره له جهل او وهم او ګمان پرته نور څه نشته، له انسان سره د دنیوي ژوند په کړو وړ باندې محاسبه کېدای شي، او د دې خو بیخي مجال نشته چې انسان د ځان اړوند د الله تقدیر وپېژني او هغه اوامرو ته دې عملي بڼه ورکړي او له نواهیو څخه دې ورله ځان وساتي، تقدیر لیکل شوی دی او دلیل دی.

همدا راز باید ورته وویل شي: دنیوي امور ستا لپاره الله پاک لیکلي دي... ته ولې بیا هغه دنیوي کارونه کوې چې ستا لپاره ګټور وي او له زیانمن یې نه ځای ژغورې؟

ممکن دي چې کوچني ته په دې اړه دا مثال ووایې: که څوک عمومي منطقې ته سفر کول غواړي او دوه لارې ورته تللې وي، یوه یې له امن نه ډکه او بله یې بې امنه لاره وي، ته به په کومه لاره ځې؟

طبعي به د هغه ځواب په لومړۍ لاره باندې تلل وي، دا ډول به انسان اخرت ته خپل سفر جنت ته له هغې لارې پېل کوي چې پر امنه وي، او دغه لاره د الله پاک د اوامرو امتثال او له نواهیو څخه یې ځان ژغورل دي، که تقدیر د چا لپاره حجت او دلیل وای نو د جنایتکارو حبسول توان به مو نه درلود، ځکه هغوی به د خپلو عملونو لپاره دلیل په تقدیر نیو (۲۸۲)، نو په انسان باندې واجب دي چې الله پاک ته ځان تسلیم او په پرېکړو یې خوشحاله او راضي شي، [لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ]

ژباړه: له الله نه د هغه کړو وړ اړوند پوښتنه نه شي کېدای او مخلوق څخه به پوښتنه کېدای شي، مخلوق د الله مخلوق او واک د الله واک دی.

## الله پاک مونږ ولې پیدا کړي یو؟ ولې یې دنیا پیدا کړې ده؟ حیوانات یې ولې پیدا کړي دي؟

الله پاک فرمايي: [وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ] (۲۸۳)

ژباړه: ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي دي مګر د خپل عبادت لپاره.\

الله پاک د داسې موخې په خاطر شته کړي یو چې که څه هم د هغه عبادت دی خو ولې زمونږ لپاره ګټور دی، د اعمالو سره سم به وروباندې نتیجه په اخرت کې مرتب کیږي، جنت به د محسنینو او دوزخ به د بدکارو لپاره وي، دا دنیا ټوله د الله ده، هغه په ډېر دقت او علم سره پیدا کړې ده، هغه اسمانونه او ځمکې پیدا کړي دي، ستوري یې د اسماني زینت، نبنې نبناني پیدا کړي دي، لمر یې د دې لپاره پیدا کړی دی چې مونږ ته تودوخه او حرارت را کړي او د نباتاتو په نشو نما او د جراثیمو مخه ډپ کړي، حیوان یې د انسان لپاره پیدا او مسخر کړی دی، انسان یې خوري او بار وروباندې وړي، الله پاک فرمايي: [وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ] (۲۸٤)

ژباړه: اسونه او قچر او خره الله پاک پیدا کړي دي تاسو ورباندې سپاره شئ او ستاسو لپار ښایست دی او هغه نور داسې څه چې تاسو پرې نه پوهیږئ.

د هستوګنې لپاره یې ځمکه چمتو کړې ده او د انسان له تخلیق وړاندې یې دا ډول شیان شته کړې دي.. دا په دې خاطر چې الله پاک په ټولو هغو شیانو د انسان تکریم وکړي چې انسان یې ورباندې خاص کړی دی، سره له دې چې دا ټول شیان د الله پاک تسبیحات او تحمیدات وایي او په نفس وخت کې ټول بېرته د الله پاک عبادت کوي، الله پاک فرمایي: [وَإِنۡ مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا] (۲۸۵)

ژباړه: هېڅ شی نشته مګر د الله پاک تسبیح او حمد وایي خو تاسو په تسبیحاتو نه پوهیږئ، الله پاک ډېر بردبار او بخښونکی ذات دی.




## ایا الله پاک به له هغو خلکو سره حساب وکړي چې رسول ورته نه وي راغلی؟

هو، دوی هم د پوښتنو او حساب لاندې دي ځکه چې الله پاک ورته عقل ورکړی دی، د قیامت په ورځ به یې الله پاک امتحان کړي او اوامر به ورته متوجه کړي، که یې خبره ورله ومنوده نو جنت ته به لاړ شي او که یې ورله نافرماني وکړه نو اور ته به لاړ شي.

## شرونه ولې دي؟ باید نه وی!

دنیا د ازمېښت او امتحانونو کور دی، د دوو سمسترو په څېر لومړی سمستر دی او اخرت دار الجزاء او د محاسبې کور دی، د مظلومانو لباره به له ظالمانو څخه قصاص وا خستل شي ګویا که اخرت یې دوهم سمستر دی، له دې کبله د شرپسندو شتون او په دنیا کې یې نه سزا وار کول د ازمېښت په معنا دي ورنه دا څه اخری پړاو نه دی، بلکې د قیامت په ورځ به هرومرو ټول راپورته کیږي او هر انسان ته به د خپل اعمالو سزا او جزا ورکول کیږي، الله پاک فرمایي: [فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرًا يَرَهُۥ * وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُۥ] (۲۸۶) (۲۸۷)

ژباړه: که د ذرې په څېر ځوک کار خیر ولري نو وبه یېویني، او که د ذرې په څېر ځوک کار شر ولري نو وبه یې ویني.



## الله پاک ولې دوی شرپسند کول؟

له کله راهیسې چې الله پاک مخلوق پیدا کړی دی د خیر او شر په کارونو کې یې ورته اختیار ورکړی دی، ته کولای شې چې مهذب او یا غیر مهذب شې خو نتائج به یې منې، دا پرېکړه د الله پاک لورینه او له حکمت څخه ډکه ده، شرپسند کولای شي چې ښه ا و نیک خلک جوړ شي او زمونږ زیار به هم دغه وي چې له شرپسندو نه ښه خلک جوړ شي، خو که په خپل شر او شرارت کلک درېځ ولرې باید ده چې له خلکو څخه یې دشرارت مخه واړو، تر څو الله پاک له مونږ سره مینه ولري او د خیر بدله راته راکړي، د دنیا په ژوند کې الله پاک د هر څه شي خالق او مالک دی او همدا ژوند د ازمېښتونو او امتحان زندګي ده، الله پاک فرمایي: [ الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ] (۲۸۸)

ژباړه: الله پاک هغه ذات دی چې مرګ او ژوند یې پیدا کړی دی، ترڅو ازمېښت مو کړي چې په تاسو کې د ډېر ښه عمل والا څوک دی؟ او الله پاک زرور او بخښونکی ذات دی.

او د ازمېښتونو له جملې څخه دا هم دي چې د شیطانانو او منحرفینو انسانانو په لاسونو یې شر او شرارت پیدا کړی دی. (۲۸۹)

## ځنې خلک ولې ګډوډ او یا په تکلیف او رنځ اخته پیدا کیږي؟

دوی هم الله ځکه په ازمېښت کې اچولي دي ترڅو وایې ازموي چې ایا په نقص او رنځ له زغم څخه کار اخستلای شي؟ ترڅو د مزیدو حسناتو څښتنان شي، او په دې خاطر هم چې الله پاک ته د صحت او جوړتیا نعمت رایاد کړي تر څو د صحت په لورینه یې شکریه ادا کړو، په دې سره الله پاک مونږ ته زمونږ کمزوري راښایي ترڅو غرور او کبریاء مو ښکار نه کړي او د تل لپاره تواضع او منځني هماهنګي او د تعاون تعامل ولرو، د حساب ( قیامت ) له ورځې وروسته به د خیر ښیګړې څښتنان په جنتونو کې دتل لپاره رک روغ صحتمند وي – ان شاء الله – (۲۹۰)

## ځني خلک ولې ناداره او ځني نور بیا شتمن وي؟ ولې ځني شرپسند په ماښو خو نېک انسانان په کیږدو او خام کورونو کې ژوندګي کوي؟

